# شهامت

ماه مبارک رمضان یادآور فتوحات

شپږم کال، دوېمه ګڼه، پرلپسې ۳۴ ګڼه، شعبان - رمضان ۱۴۳۳هـ ق، جولای ۲۰۱۲م

کاواکه اداره !!

دشلګر فتنه او دعناوینو داستثمار لوبه

اسلام او سیاسي اندونه

داروپا ماپېټ جنګونه !!

افغاني جسدونه په مو سپیانو ته اچول !

..... دشرم نه ډکه چوپتیا

افغانان شومي او مغرضانه مرستې نه ، بلکې آزادي غواړي...!!

دسرپل ولایت له جهادي مسؤل سره مرکه

# شهامت

## علمي، کلتوري او اسلامي مجله

شپږم کال دویمه ګڼه، پرلپسې۳۴ ګڼه،شعبان – رمضان المبارک 1433هق، جولای 2012م

## لړلیک


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| 1 | سرلیکنه ........................ | 1 |
| 2 | کاواکه اداره ........................ | 3 |
| 3 | دیرغلګرو په خلاف نوی جهادي محاذ ........................ | 4 |
| 4 | په رښتیا هم دناټو اوامریکي ځواکونه وځي ........................ | 7 |
| 5 | بریتانیا درافغانستان فرار رابرقرار ترجیح میدهد ........ | 10 |
| 6 | افغاني جسدونه به مو سپیانو ته اچول ........................ | 12 |
| 7 | اسلامي هیوادو کې داسلامیت اومغربیت ترمنځ کشمکش. | 13 |
| 8 | دسرپل ولایت له جهادي مسؤل بناغلي حقجو سره مرکه... | 18 |
| 9 | په برماکې دمسلمانانو عامه وژنه او دنړیوالو له شرمه ...... | 23 |
| 10 | دعظیم الشان قران تاریخ ........................ | 28 |
| 11 | دشلګر فتنه او دعناوینو داستثمار لوبه ........................ | 33 |
| 12 | معیارهای بیګانه ....عوامل اصلی عقب ماندګي ........... | 36 |
| 13 | یرغلګر اودښځو حقوق ........................ | 40 |
| 14 | ګلورینې پاڼې ........................ | 42 |
| 15 | مصر کې داخوان المسلمین شاندار بری ........................ | 44 |
| 16 | کرزی اودفساد ختمول ؟ ........................ | 46 |
| 17 | اسلام اوسیاسي اندونه ........................ | 47 |
| 18 | اقصی ته دمسلمانانو په ننوتو بندیز، دیهودوبل شوم عزم.. | 53 |
| 19 | دابواما پټ جنګونه ........................ | 55 |
| 20 | ماه مبارک رمضان یادآور فتوحات سرنوشت ساز......... | 57 |
| 21 | په سوریه کې دبشارالاسد دواک ستنې ولړزېدې ........ | 60 |
| 22 | مولوي نه بلکې پخپله مایک سپیل دی ........................ | 62 |
| 23 | الاکابر ، حضرت سلمان فارسی رضي الله عنه ........................ | 64 |
| 24 | دشهیدمستعد دپنځم تلین په مناسبت ........................ | 67 |
| 25 | دبرما دقضیې په اړه داسلامي امارت مسؤلانه .... کردار... | 72 |
| 26 | سلطان صلاح الدین ایوبي ....جنګهای صلیبی فطری ...... | 75 |
| 27 | شاګردان در کابل ازمیتودهای تعلیمي غرب ناراض اند ... | 78 |
| 28 | اهداف نافرجام غربیها دربرابر اولویتهای اسلامي ....... | 80 |
| 29 | شهامت دارالافتاء ........................ | 82 |


**دامتیاز خاوند :**

داففانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کمیسیون

**مسـؤل مدیر :**

ابو ظهیر

**کتـنـپـلاوی :**

شاهدالله "حقاني " لطیف عزم

حسن " علوي" بلال "وحید"

نعیم " صافی " عابد مجاهد

**بـیـه :**

یوه ګڼه 15 افغانۍ او 20

کلدارې په پاکستان کې

**تخنیکي مسؤل :**

زرملوال او حقمل

## یـادونـه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو

مسؤلیت په غاړه نه اخلي

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان  برېښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

N سرمقاله

# افغانان شومې اومغرضانه مرستې نه ؛ بلکې ازادي غواړي.....!



هر ولس چې دایماني ځواک او ملي غیرت څپانده جذبه ولري ، هغه تل دظالمو اوجابرو ځواکونو دغروراو کبر تندی په ځمکه سولولي ،له نیکه مرغه زمونږ دنن اوپرون تاریخ دواړه له همداسي ویاړمن حماسي بهیره عبار ت دی ، دتېرو یوولس کلو شالېدته په کتودهیواد یو موټی تش لاسو خودایمان اومیړاني په وسله سمبال مجاهدینو دسترو جهادي میړانو، قربانیو اوفداکاریو په وړاندي کولو دامریکا په مشرۍ د ۴۷ صلیبي هیوادو په ډول ، ډول پرمختللو او وژونکو وسلو مجهزځواکونه ددومره شرمیدلي ماتې سره مخ کړي ، چې په لېدوېي آن امریکایې وګړي هم پوهیدلي چې افغانستان کې ددوئ دځواکونو نور تم کېدل یواځې دمال اوځان بربادول دي، چې څومره ژر کیدای شي عاجلانه را وتل به یې په خیروي!!

خوددي سربیره امریکا د"خوی بدرا بهانه بسیار "په مصداق دځینو جعلي غورځو پرزو اونمایشي جریانونوپه وړاندي کولو هڅه کوي چې ځان دافغانستان په اوضاع بشپړ مسلط وښیي!اوڼریوالوته دا ذهنیت ور کړي چې ګواکې ټول افغانستان ددوی دځواکونوپه کنټرول اوقبضه کې دی ،خوښکاره ده چې لمر په دوه ګوتو نه پټیږي !

دکتونکوپه اند :امریکا تر وروستي بریده دافغانستان اوسیمي په باب خپله له شوموغرضونوجوړه استعماري ستراتیژي پر مخ وړل غواړي ،له افغانستانه دوتلو پر ځای دپښو ټینګولو کوښښ کوي ،چې ددي څرګند دلیل دامریکایې کانګریس لخوا دمنظور شوي ۶۰۶ملیارده درنې دفاعي بودیجي نه ۸۸ملیارده

دافغانستان اوامریکا مخالفوځواکونوځېلوته ځانګړي کول هم داپیغام لري، چې امریکا په راتلونکې کې خپلو جارحانه عزائموته په یوه نه یوه تو ګه دتداوم ور کولو فکرلري، اوبل په دې سربیره په چل ول اوفریب سره هڅه کوي چې دلته خپل میشت یرغلګر ځواکونه ښه تقویه اومجهز کاندي ، دافغانستان بودیجوي کسر دمخنیوي په ډارمه دنړیوالو له جیبوپه ملیاردو ډالر را ایستل هم ددې دسیسې یوه کړۍ ده، دې لړ کې څه موده وړاندې دچاپان په پلازمینه (توکیو) کې افغانستان سره دمرستو په نوم دراېلل شوې غونډې غرض هم داو،ځوپه چل دخپلوجنګي لګښتونو لپاره نورې پیسې پیداکړي ، خوښکاره ده چې دامریکا په ضد دافغانانو دمخالفت سلنه دومره پراخه اوپور ته تللې ده چې په اصطلاح دملي اردو د لېکودننه دګڼوافغاني ځوانانو داسلامي اوافغاني احساساتو په پاریدو دېنټګان په اعتراف" ددوئ په لسګونو عسکر دافغاني عسکرو په بریدونو کې په مرمیو چاڼ چاڼ دمر ګ کندې ته غورځول شوي ، چې داکار دبهرني اشغال پرضد دافغان ولس دپراخ ناراضایت اومخالفت ژوري ريښې جوتوي ،اودبې ګناه افغانانو دوژلو اوځورولو په غبرګ کې دملي اردودعسکروپه جامه کې دغبرګون ښودنې داتاکتیک داشغالګروځواکونو دظلمونواووحشتونوپه ضد دځوان افغان قشر له لوري دقوي مخاصمت عکاسي کوي ،اتکل دی چې په راتلونکې کې به دبهرنیوځواکونو په ضدنورافغان ځوانان هم داسلامي اوملي احساس په پاریدوپه ور ته نورو بریدونو لاس پوري کړي!

په دې امریکا باید د دې حقیقت منلو ته غاړه کېږدي اوله زړه نه یې ومني چې "کوګ بار ترمنزله نه رسي "!افغانستان کې روان جهادي مقاومت پخپل ولس کې دملاتړپراخې ريښې لري او افغانانو داحس اودر ک کړي چې دافغانستان اوددوئ راتلونکې دجهاد اومجاهدینو دبري سره تړلې دی!نو په قاطع عزم یې دا پتیلي چې هیڅکله به دمغرضو هیوادونو د مغرضانه مرستو اولالچونو په بدل کې دخپلې ازادۍ له مسیره وا نه وړي... ،ولي په باور سره زمونږ هیواد کې دبهرنیانو پوځي موجودیت دټولو غمیزو مرګونو ،ناخوالو اونا امنیو زیږنده دی،چې له امله یې دهغوی سملاسي وتل اوشړل دهراصیل افغان لپاره دحیاتي ارزښت په معنی دي...

دلته د فرصت نه په ګټه یووارېیا خپل دادریغ په ډاګه کوو: چې امریکا اونور اشغالګرهیوادونه دې په افغانستان کې روان جارحیت اوظلم ته دپای ټکی کېږدي ، دخپلوشومو عزائمو اوناوړو ارادونه دې په شا شي ! اوپه سملاسي تو ګه دې زمونږ په هیواد او ولس تحمیل شوی بد مرغه جنګ پای ته ورسوي، اودشوروي دسرو لښکرو له بد انجام نه دې عبرت واخلي ، په جنګ کې ښکېل هیوادونه هغه پیسې چې دلته یې دافغان ولس دایل کولو او وژلو لپاره مصرفوي هغه دې په خپلو هیوادو کې دخپلو خلکو په سو کالۍ اوترقی ولګوي اوښکاره ده چې دهغو ځو ناافغانه څېړو پر ته چې دپر دي چوپړ لاندې لوی شوي ،پاتي هر افغان په ازادي مین دی او غواړي یې ! له دې پر ته په هیڅ ډول مغرضانه اودمادي لالچونو په ور کولو او اعلانولو قناعت نلري....
!!

# کاواکه اداره

(شاهد)

دوخت دعیني شاهدانو په توګه مود ۱۳۵۷ه ش کال دتورې کودتاد علمبردارانو دزوال دمنطقي ماتې نښې نښانې هغه وخت له ورایه ولیدې چې په زرګونه بې ګناه وګړي یې په بې رحمانه توګه په خپلو وینو ولمبول او په ظالمانه توګه یې ددوئ کورونه ویجاړ کړل.

دببرک او نجیب په تورو دورو کې به هره ورځ په درجنو درجنو حکومتي عسکر مجاهدینو ته سلامی کیدل چې په تدریجي ډول یې دکابل کمونستي اداره دزوال پر موړ ګو ودروله او آن چې په ۳۱۷۱ دغوایي په اتمه نیټه یې دواک تغرتول او واک دمجاهدینو له برکته حضرتانو او ربانیانو ته په ګوتو ورغی.

ننی پوځي او سیاسي بهیر هم که څوک دې دورې سره پرتله کړي نو به ویني چې دیرغلګرو او سنی رغیدلې اداره هم له کمونستي هغې سره کټ کټ ورته والی لرې او هماغسې دزوال نښې نښانې پکې لیدل کیږي ، او سني روان کړکیچن حالات کتونکی پدې باورې کوي چې یو وخت به دالاسپوڅې اداره هم دپخوانی هغې په برخلیک اخته شي او مجاهدین به بیا پرارګ داخل له سپینو بیرغونو سره ورننوځي.

همدا نن سبا افغانستان کې هره ورځ په لسګونو افغانان دیرغلګرو او ددوئ دغلامانو په ګولیو شهیدانیږي او په خپل کور کې دخپلو خپلوانو په مخکې په وینو لمبیږي ، د اولس کلتوري او دیني ارزښتونه هم ترجدي ګوابن لاندې دي ، داسلام پر ځای دعیسویت خواته په غافلانه او هم شعوري توګه بیول کیږي ، غربي تهذیب پراصیل افغاني او اسلامي تهذیب داسې یرغل کړی لکه څنګه چې یې عسکرو اهیوادتر خپل پوځي ګوزار لاندې نیولی او هره ورځ یې په لسګونه اسلامي او ملي روایات تر برید لاندې نیولې وي ، تردې چې مجاهدینو ته دافغاني عسکرو تسلیمی خوځښت په څپو دی او په لوی شمیر کې عسکر له مجاهدینو سره یوځای کیږي چې دې وروستیو کې یې دهیواد په جنوب کې د(۳۲۴) عسکرو هغه تسلیمي دیادولو وړده چې له امله یې دکابل دګوډاګی اداري ملاماته شوي او په ویریې اخته کړی ده ، په همدې توګه مختلفو ولایاتو کې په روزونکیو خارجیانو او بهرني عسکرو دافغاني عسکرو حملې په سرعت رواني دي او ددواړو اړوندو لوریو ترمنځ یې دبدګمانی روحیه خپره کړي ده.

دې ډول ځپونکیو ګوزارونو دغلامې اداري دتیکاومراندې شلولې او د۴۲ یرغلګرو هیوادونو دمضبوطې اردو خیالات یې هسې یو بې حقیقته خوب ګرځولی، خوداهر څه به هغه وخت په زیاد ورسیږي چې بهرني لښکرې له هیواده ووځي او مراکزیې مجاهدین خپل تصرف کې راولې.

خواوس چې ددې منطقي زوال وروستی لحظې دې دومره وخت لاهم شته چې غولیدلې عسکرله ځانه سره فکروکړي او هیوادکې دخپل راتلونکې په باب ځانته دنجات لاره ومومي ، که نه انجام به یې دزړو منفورو کمونستانو په شان وي چې له منځه ووتل او نن دتاریخ یوه بدرنګه څیره بلل کیږي.

# دیر غلګرو په خلاف نوی جهادي محاذ

حبیب مجاهد

د روان ۱۴۳۳ هـ ق کال درمضان المبارک په ځلورمه شپه دهرات ولایت په مرکز کې دپوځیانو په یوه روزنیز کمپ کې یوه افغان ځلمي خپله دټوپک شپیلۍ په امریکایي روزونکو راوګرځوله ، او دلومړنیو معلوماتو له مخې یې ځلور تنه امریکایي لوړرتبه روزونکي ځای په ځای بځي کړل ، دپیښې په اړه مطبوعاتو وویل چې دځلورو تنو امریکایانو تر وژل کیدو وروسته دزې کوونکی اتل مجاهد هم ددښمن لخوا په شهادت رسول شوی خو دنومړي اتل دنوم او مشخصاتو په اړه تراوسه اضافه معلومات نه دي ورکړل شوي.

دهرات برید په بهرنیو یرغلګرو دهغو بریدونو دلړۍ وروستی برید دی ، چې له تیرو څو کلونو راهیسې دکابل رژیم په امنیتي لیکو کې د دخیلو بیلابیلو وسله والو افغانانو لخوا په بهرنیو او کورنیو دښمنانو باندې ترسره کیږي ، او دښمن ته دسر درانه زیانونه اړوي.

هسې خو دامریکایي یرغل له لومړۍ ورځې څخه هرواقعي مسلمان افغان دامریکایانو او دهغوی دګوډاګیانو په وړاندې دکینې او دښمنۍ زړې په زړه کې وکاره ، او په مختلفو طریقو یې ددښمن په خلاف ددې دښمنۍ څرګندول پیل کړل ، څنګه چې دکابل رژیم دامنیتي ځواکونو برخوال هم ټول افغانان او دهمدې مسلمان ملت په کهول کې راستر شوي ځوانان وو ، نو له ظاهري انحراف سره سره داتمه ترې کیدله ، چې ان شاءالله دوی به هم زموږ دعقیدوي دښمن په خلاف خپل مسؤلیت سرته رسوي او په دښمن باندې به له دننه څخه مؤثر بریدونه پیلوي.

همداسې وشول او دامریکایي یرغل له پیل څخه لږ وروسته هغه مهال چې دامریکایانو راوستل شوي ګوډاګي حامد کرزي دکندهار له ښار څخه لیدنه

کوله ، دکندهار ولایت دمقام له دروازې سره یوه افغان عسکر چې دحامد کرزي لپاره دتشریفاتو په کتار کې درول شوی وو ، خپله دټوپک خوله یې په دوه سترو امریکایي ګوډاګیانو ( حامد کرزي او ګل اغا شیرزي ) باندې راواړوله ، په دې اتلوال برید کې حامد کرزی بچ شو ، او ګل اغا شیرزی سطحي ټپي شو ، خو اتل برید کوونکي په خپلو جسورانه یرغل سره وښودله ، چې یرغلګر او دهغوی ګوډاګیان دې هیڅکله هم دا خیال نه وهي ، چې نور دافغانانو ددیني غیرت او استقلال خوښونې حس مړژواندی شوی ، او نور خدای مکړه نه شي کولای دخپلو اکې معامله کړ په خپله سزا ورسوي.

په دې توګه په یرغلګرو امریکایانو چې بې له هغې هم له هرې خوا لاس ورلویدلی وو ، او دمؤمن خان دښامار غوندې هرچا په کې توره سره کوله ، (چا یې سرواهه او چا یې مال لوټه ) له یوه نوي او معتدبها جهت څخه کاري ګوزارونه پیل شول ،دکابل رژیم په امنیتي لیکو کې داخل افغانان چې امریکایانو په خپلو وسلو او امکاناتو ترسمبالولو وروسته خپل سکني ملاترې بلل ، په امریکایي ځواکونو ډزې یې په دښمن خورا درنې او ترزغم لوړې تمامیدلې ، نو څکه یې ورسره برخورد هم خورا احساساتي وو.

دطلامحمد په نامه دپکتیا اوسیدونکی هغه عسکر چې په لومړیو کلونو کې یې دپل چرخي په زندان کې په امریکایي مشاورینو خپل دپیکا شرید خالي کړ او وروسته دامریکایانو لخوا په شهادت ورسول شو ، په امریکایانو یې دومره بد اغیز وکړ ، چې دغه اتل شهید یې په مرګ مجازات کړ ، په داسې توګه چې دنوموړي جسد یې تردوو میاشتو پورې کورنۍ ته ورنکړ چې دفن یې کړي ، علاوه له دې یې دنوموړي بدن ته زهري کمیاوي مواد تزریق کړل ترڅو یې رنګ تور واوړي او بدبویي ترې خپره شي ، خو دامریکایانو دا دسیسه هغه مهال الله تعالی په خپل فضل سره شنډه کړه ، کله چې دطلامحمد جسد خپلې سیمې ته راوړل شو په داسې حال کې چې رنګ یې تک تور شوی او پړسیدلی وو ، خو یوه ځانګړې خوشبویي ترې خپریدله چې ټولو خلکو ته یې حقانیت او مقبول شهادت دلمر غوندې روښانه شو.

خو ددا ډول اتلوالو بریدونو او برید کوونکو په وړاندې دامریکایانو دهرڅومره سخت چلند سره سره دالړۍ ونه درېده بلکې دوخت په تیریدلو سره نوره هم چټکه شوه ، دبامیانو طالب حسین په سنګین کې شپږ برتانویان له منځه یووړل ، ګلبدین هم په هلمند کې ورته اتلوال برید ترسره کړ ، پیلوټ احمدګل تره خېل تریو درجن زیات بهرني مشاورین په خپله میګاروف توپانچه له منځه یووړل ، چې په دې توګه په بهرنیو یرغلګرو او دهغوی په ګوډاګیانو دافغان عسکرو لخوا دبرید موضوع دندرت او شذوذ له قیده راووتله او تقریبا دورځې او اونۍ دخبر شکل یې غور کړ.

دروان ۱۴۳۳ هـ ق کال د ربیع الاول دمیاشتې په وروستیو کې داسلامي امارت دمشرتابه لخوا دکابل رژیم دپولیسو ، ملي اردو او نورو امنیتي ځواکونو په لیکو کې د دخیلو افغانانو په نوم یو ځانګړی پیغام نشر شو ، چې له دوی څخه غوښتنه شوې وه ، ترڅو له خپل موقعیت څخه په استفاده په دښمن له دننه څخه ګوزارونه وکړي ، او په دې توګه خپل دیني مکلفیت سرته ورسوي.

داسلامي امارت په دې ځانګړي پیغام کې راغلي وو (ددې لپاره چې دکابل داداري په امنیتي تشکیلاتو کې شاملو ټولو ځوانانو خپل دیني او افغاني مسؤلیت ادا کړی وي ، او دخپلو تیرو کړنو ګناه یې جبیره کړې وي ، دغه راز یې داسلام او افغانستان په تاریخ کې خپل نوم په روښانه ټکو ثبت

کړي وي ، دافغانستان اسلامي امارت په دوی غږ کوي ، چې دخپل اسلامي احساس ، ملي ننګ او غیرت او اسلامي وروروولی له مخې دې دخپلو توپکو شپیلی دخپل اولس په ځای په پردیو کفري یرغلګرو ورواړي ، ترڅو په دې توګه له کفري یرغلګرو دخپل مظلوم اولس دلس کلنو غمیزو انتقام واخلي او داسلامي غازیانو په صف کې خپل ځانونه ثبت کړي ، دغه ځوانان باید په یاد ولري چې دوی ددنیوي او اخروي بریالیتوب لپاره همدا اوس ترهرچا ښه فرصت په لاس کې لري ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي ( لایجتمع کافر وقاتله فی النار ) څوک چې کافر قتل کړي ، نو هغه بیا له هغه کافر سره به جهنم کې نه یوځای کیږي بلکې جنت ته به ځي معلومه شوه چې دیوه حربي کافر قتل دجنت ددخول سبب ګرځي ، دغه راز داسې غازیان په دنیاوي لحاظ هم په مرګ او ژوند دواړو داولس په منځ کې داتلانو په نامه یادیږي او هرڅوک یې په کارنامو ویاړي ، کوم ځوانان که په داسې اتل والو بریدونو لاس پورې کوي نو اسلامی امارت هم دخپل دیني مسؤلیت له مخې هوډ لري چې داسې قهرمان ځوانان به تقدیروي او په هره ممکنه وسیله به یې ملاتړ او لاس نیوي ته ور دانګي.

اسلامي امارت خپلو ټولو مسئولینو ته هدایت کړی چې که په مخالف صف کې څوک داشغالګرو په ضد اقدام وکړي شخصاله هغوی او دهغوله کورینو سره دې پوره پوره همکاري کوي او دلازیات ناز لپاره دې مشـرتابه تـه معرفـي کـوي ، قدرونـه دې کـوي اودقهرمانانو په خیر دې استقبال کوي )

داسلامي امارت ددې پرځای اقدام نه وروسته په ګډ دښمن باندې له دننه څخه بریدونو نور هم زور واخیست ، په دې وروستیو دوو اونیو کې په پکتیکا ، کاپیسا ، هلمند ، کندهار ، میدان وردګ ، هرات او دهیواد په نورو سیمو کې په دښمن باندې لـه دا ورِ منسجمو ، پله پسې او دقیقو بریدونو څخه څرګندیږي ، چې اوس دامریکایانو په خلاف دخپل جنګي صف دننه هم یوخورا خطرناک جهادي محاذ پرانیستل شوی دی ، چې دمقابل مشهود جهادي محاذ غوندې په ورځني شکل یرغلګرو ته درانه تلفات اړوي.

دا محاذ لکه څومره چې دسردزیان اړولو له درکه دامریکایانو لپاره خطرناک دی ، په همدې کچه یې په دښمن رواني اغیز هم خورا ژور او تلپاتې شوی ، موږ ولیدل چې تېر کال دکورنیو چارو په وزارت کې دیوه افغان سرتیري لخوا ددوو امریکایي سلاکارانو وژلو یرغلګر دې ته اړ کړل چې له ټولو ادارو څخه خپل سلاکاران وباسي او دساتنې لپاره یې نوي پرمصرفه پلانونه طرحه کړي ، دغه راز په فرانسوي ځواکونو یوه برید فرانسویان دې ته اړ کړل چې له افغانستان څخه دخپلو سرتیرو دوتلو په پلان کې عجله وکړي.

په عسکري اصطلاح دمخالف غلیم په صف کې رخنه ګر جوړښت ته ( پنځم ستون ) وایي ، تاریخ ثابته کړې هر هغه پوځ چې په تشکیل کې دمخالف جهت استازي شتون ولري ، او له داخلي بحران او مقاومت سره لاس او ګریوان وي ، دبریالیتوب مخ نه شي لیدلی ، لله الحمد نن امریکایان او ګوداګیان یې په همداسې دریځ کې دی ، ددوی دافغاني ملاتړو یوه لویه برخه دستوري مجاهدین دي ، چې یوازې خپل وار ته ګوري ، هغوی چې ددښمن په لیکو کې داسلامي امارت د ( پنځم ستون ) رول ادا کوي ، دغه اتلان به که دالله تعالی رضاوه دامریکایي یرغلګرې اډانې لپاره دوژونکي سرطان په دود ثابتیږي او امریکایي ستړه به له داخله شپیلوي او له منځه وړي .

دیرغلگرو په خلاف ددې نوي مهم جهادي محاذ دپاللو لپاره باید ډیر څه ترسره شي ، ترڅو په کامیابۍ سره خپل پړاو ته ورسیږي

# ...په رښتیا

## هم دامریکا اوناټو ځواکونه

# وځي ؟

( رحیمي )

دنړۍ لوی شمېر معتبر شنونکي دامفکوره په کلکوالفاظوسره ردوي چې ځواکي امریکالګیاده له افغانستانه ځان وباسي ! هغوئ دامني چې امریکا افغانستان کې دخپلوځواکونو شمېر کموي اوبیر ته دومره عسکر پاتي کوي،چې ددري ګونو دایمي پوځي هډودننه میشت شي ! ، ددغودري ګونو هډو دجوړولو لپاره په لومړي فرصت کې یې زمونږ دري ستراتیژک اهمیت درلودونکي هوایي ډګرونه (بګرام ، کندهار اوشین ډنډ) غوره کړي ،چیري چې دتېرولسو کلوراهیسي په لوی شمېر کې امریکایي ځواکونه میشت دي ، په دغو هوائي ډګرونو کې واردمخه ددایمي مېشتیدني ټولي ضروري اړتیاوي اوتهجیزات پوره کړي ، اوممکن ددغو دري ځایونو وروسته امریکا دافغانستان په ځینونوروبرخو کې دخپلو ځواکونو دخوندیتوب اودفاع په پلمه دفاعي مزایل هم نصب کړي ، ځنګ چې یې په پولینډ اوهنګري کې ودرولي ، اویایې خلیج کې دخپلو سمندري کیښتیو په شاپوځې هډې جوړې کړي ،له کوموهډونه چې په کروز مزائلو افغانستان اوعراق وویشتل. ممکن دایران اود سیمي نورو هیوادو پر ضد امریکا له دغو پوځي هډو هغسي کارواخلي ځنګ چې یې د خلیج دسمندري پوځي هډونه دافغانستان اوعراق داشغال لپاره واخیست !ولي په دغو دریواړوهوایي ډګرونو کې هریویې دسلوپه شاوخواکې جنګي الوتکودځایولو ظرفیت لري اوامریکا دسیمې د کنترول لپاره دهمدومره ځواک ځای په ځای کولو ته اړتیالري .

نودافکر درلودل ناسم دی چې امریکایان به په اسانه له افغانستانه ووځي، دمرکزي آسیا په معدني زیرمو دخیټي اچولو لپاره ورته دافغانستان جغرافیوي موقعیت بې ساري اهمیت لري ، داسمه ده امریکا ددي لپاره چې دځان په وړاندي دروان مقاومت شدت کم کاندي ، نړیوال اوافغانان تیر باسي اوپه بیا بیادرسنیو اونړیوالو کانفرانسونوله لاري دځواکونو دانخلاء ډول غږوي ،خو که عمل ته یې ځیر شو پرله پسي لګیاده خپل وحشیانه اشغال ته دطول ورکولو دسیسي ، اوتوطئي یې په کار اچولي اوپه هره بیه له خپل پوځي شتونه دفاع کوي.

امریکا هوډ کړی په راتلونکي کې زمونږ د هیواد جغرافیوي موقعیت نه په ګټه دایران او پاکستان اونورو ګاونډیوهیوادونو په کورنیو معالاتو کې د مخامخ لاس وهني چانس ومومي اوددغو هیوادود کورنیوجنجالونواوترینګلتیاوونه دځان په ګټه کارواخلي اوبکي دننه دبدلون په پلمه ستونزي اومشکلات رامنځته کړي ، دسیاسي کتونکو په وینا په سوریا کې دبشارلاسد واکمنۍ دړنګولو وروسته

امریکا په ایران کې هم دور ته بدلون شعار لاندي هڅه کوي چې دایراني دولت ضد عناصر تنظیم کړي ، څو په ایران کې د کورنیو جنجالونو په رامنځته کولو سره دایران سیاسي اواقتصادي ځواک ته صدمه ورسویاوبیا ددې په نتیجه کې هغه دیته اړ کړي چې اتومي پلان متوقف کړي.هم داشان د پاکستان په باب یې هم عزائم سم ندي، په ځانګړي تو ګه ددغه هیواد اتومي صلاحیت اوځواک ور ته له زغمه بیرون دی ، که امریکا خدای مکړه افغانستان کې ګونډي خبني کړي ددغه هیواد مسلمان ولس به هم دیوه بد برخه لیک اوراتلونکې سره مخ کړي .

د دې وجې شدیده اړ تیاده چې دسیمي ولسونه باید په کډه دامریکا ددغو شومو پلانونو په وړاندي یوموټی شي، اوس مهال ددې اسانه او عملي لاره داده چې دسیمي ټول ولسونه افغانستان کې دروان مقاومت اوجهاد نه ننګه اوملاتړو کړي ، دامریکا په ضد دافغانانو دمشروع پاڅون دفاع وکړي ، کنه امریکا سیمي ته راغلي ددې لپاره چې دسیمې په طبعي زیرمو کنترول وموي اوپه دې لړ کې دهري حربي کارول هم نه دریغوي !

امریکا کوښښ کوي چې په څه چل اوهنر سره په روان جنګ کې چین اوروسیه هم دځان سره ملګري کړي ، اوښکاره ده که دغه دواړه ځواکونه ورسره ملګري شول نودابه د تاریخ دریم نړیوال جنګ وي ، خوبریښي چې چین او روسیه هم افغانستان کې دامریکا داوږدمهاله پاتښت سره مخالفت لري اوپه هیڅ صورت افغانستان کې دامریکایانو په دایمي پوځي شتون قانع اوخوښ ندي ، که څه هم امریکایي سیاستوال اومر کچیان افغانستان کې دامریکا ددایمي پوځي هډو شتون دګاونډیو اودسیمي هیوادو لپاره ګواښ نه ګڼي اودمفکوره یومخ ردوي ، بلکې دسیمي دثبات اوامنیت لپاره یې ګټور بولي ، خوپه حقیقت باندي خاوري اړول ګران کار دی ،افغانستان کې دامریکا دایمي پوځي موجودیت دافغانستان په ګډون دټولي سیمي اونړۍ لپاره به بد شاګوم وي.

امریکا د ځان وروسته افغانستان کې دهند نفوذ ، اورول زیاتول غواړي ، چې داکار دګاونډي هیوادپاکستان لپاره له جدي ګواښ نه کم ندی ، ولې په افغانستان کې دهند زیات نفوذ ممکن دبلوچ بیلتون غوښتونکو سره مرسته وکړي، څو له دې لاري پاکستان دبې ثباتۍ سره مخ کړي ، اوپا کستان هم په ځلونو دافغانستان له لاري بلوچستان کې دهند دلاسوهنو سرټکولي .

امریکا چې ځان په افغانستان کې کلابند حسوي ، ددې لپاره یې څوځله له روسیې څخه وغوښتل چې له خپل هیواده ور ته داکمالاتي تو کیو دحمل ونقل اجازه ور کړي ، خوداچې ددواړو ستراتیژ ک هدفونه له یوه بل سره ټکر اوتضاد لري ، ترمنځ یې توافق ناممکن بریښي .

دسیاسي کتونکو په اند:امریکا اوناټو دافغانستان جنګ بایللی، اوپه زر ګونو عسکر یې په دغه جګړه کې مړه اوټپیان شوي دي ، په جنګ باندي مالي لګښتونه یې هم له زغمه وتلي دي ، اوس داهڅه کوي چې دځواکونو دشمېر په کمولو سره یکي کمښت راولي ،اوپه ښکاره داړول هم غږوي چې د ۲۰۱۴ ز کال پوري خپل ټول ځواکونه له افغانستانه وباسي ، دشیکاګو نه نیولي ، دټوکیو تراوسنۍ غونډې هم دایوه خبره وشاربل شوه چې د ۲۰۱۴ ز کال وروسته به دامریکا اوناټو ځو اکونه افغانستان کې پاتي نه وي ، دشنونکوپه وینا:امریکا هرچیري دخپلو ځواکونو دانخلاء په اړه رسمي

اعلانونه کوي ، خو په عمل کې دانخلاء په اړه د حکمت عملي نښي نښاني نه ښدل کېږي اونه يې په اړه څه وايي ،داپوښتنه چې امريکا اوناټولـه افغانستانه دپوځي انخلاء لپاره څه ډول حکمت عملي غوره کړی دی لاځوابه پاتي دی ؟داهم نده معلومه چې امريکا اوناټود کومي لاري خپل ځواکونه وباسي ؟ د کومو هيوادونو په مرسته داکار کوي ؟

کـه دامريکا اوناټو لخواه دانخلاء اعلانونه حتمي وي ، نو دا دطالبانو دځواک په پياوړ تياځر گند اعتراف دی ،هم داوجه ده چې امريکا اوناټو خپل بری نشي اعلانولی ،اوپه پټه خوله غواړي ووځي !

درسنيو په قول:امريکا تر ۲۰۱۴زکال پوري لـه افغستانه د ۱۳۰۰۰عسکروايستل ضروري گڼي ،چې وروسته دشيگاکو غونډي هم ددومره شمېر عسکروايستل توثيق کړل، چې په دي تو گه د ۲۰۱۳زکال ترنيمايي پوري به امريکا اوناټو دواک ټولي چاري د کرزي دلاسپوځي رژيم امينيتي ارگانونو ته سپاري، همديته په پام اوباما هلته وويل: هغه څه چې مونږيې جنګ بولو هغه نور پای ته رسيدلی !!د کارپوهانو لـه انده:داوباما ددي خبري موخه دهغو امريکايانو راي ترلاسه کول و کوم چې دجنګ نه بيزاره او نفرت لري ، ولي دامريکا دننه دخلکو لويه سلنه له دي پلوه داوباما مخالفت کوي چې هغه يوه بې هدفه جګړه روانه ساتلي !داچې اوباما دجنګ دپای ته رسولو شعار پورته کړهدف يې دجنګ مخالفو خلکوته دباور ور کولو هڅه وه ،چې هغه يوډېر زيان درلودونکی جنګ پای ته ورساوه، کنه په عمل کې ددي نښي نښاني نه ښدل کېږي چې په ريښتياهم امريکااوناټو دخپلوټولو ځواکونو دايستو پلان لري ، بلکې پرله پسي لګيادي دجنګ دتشديدولو هڅي پرمخ وړي چې ديته په پام دافغانانو بشپړ اکثريت دامريکا اوناټوځواکونو دوتو په اعلان باورنلري اوور ته دشک په نظر ګوري !

اوبل تر ډېره ځايه په دغسي ځر ګندونو کې تضاد ښدل کېږي کلـه دبشپړي انخلاء موضوع رابرسيره کړي او کله بيا فقط دجزي انخلاء موضوع يادوي ،نو تر ډېره په دغسي ځر ګندونو څو ک باور کولو تـه تيارندي ، کله امريکا اوناټووايي چې د ۲۰۱۴زکال وروسته بـه افغانستان کې ددوئ د ځواکونو کر دار دمعاون ځواک په حيث وي ، نورټول واک به افغانانو ته سپاري ! داسمه ده چې دجګړي په ډګر کې د بې حسابه تلفاتو اوزيانونولـه امله امريکا اوناټو ديته اړشول چې خپل ځانونه يې دجنګ دلومړی ليکې نه وروسته کړل اوپه ځای يې افغان اجير ځواکونه دجنګ لومړی کرښي تـه راوستل ، ځوپه دي تو ګه دخپلو تلفاتو سلنه راکمه کړي اوپه ځای يې دافغاني اجير وځواکونو د تلفاتو سلنه زياته شي، داپه دي معنی چې لـه افغانانو په جنګ کې دسپر په حيث کار اخلي ، اوهغوئ ځانو ته ډال ګرځوي څو ددوئ دتلفاتو پـه ځای زيات افغانان مړه اوټپيان شي لنډه داچې امريکا اوناټو په آسانه اوژر له افغانستانه خپل ځواکونه نه وباسي ، په دي اړه اعلانونه دجنګي تاکتيک برخه ده غواړي په دي سره نړيوال اوپـه خاصه تو ګه دافغانستان اوامريکا ولسونه تېرباسي، څو دهغوئ مخالفت اونارضايت سلنه ټيټه کړي ولي دامريکا دننه هم دجنګ مخالف ذهنيت په تيزۍ سره پراخ کېږي، افغانستان کې هم دوخت په تيريدو سره امريکا ضد احساساتو کې زياتوالی راغلي ،هم داراز ددي اعلاناتو نه په امريکا کې داوباما دانتخاباتي کمپاين په تو ګه کاراخلي ، څو هغه امريکايان چې دجنګ په سر داوباما د تګلاري مخالف شوي بير ته داوباما په ملاتړ کولوقانع کړي .

# بریتانیا در افغانستان فرار را برقرار ترجیح میدهد

نصرالله مبارز

وزیر دفاع کشور متجاوز بریتانیا اعلام کرد که در چند ماه آینده تعداد عساکر خویش را از افغانستان بیرون خواهد نمود ، وی اعلام داشت که بریتانیا همه جنگ افزار های خویش را که درمدت ده سال گذشته به افغانستان انتقال داده بود نیز آماده بیرون کشیدن از افغانستان کرده است ، وی می آفزاید که مقدار همه، جنگ افزارها که باید انتقال داده شود معادل ۶ ملیارد دالر آمریکایی میباشد ، ولی وزیر دفاع بریتانیا علاوه نمود که اکنون نیز مقدار وسائل جنگی را از افغانستان خارج نموده ودر مسیر راه به بریتانیا قراردارد ،جالبتر از همه که گیج بودن بریتانیا را آشکار می سازد این بود که وزیر دفاع بریتانیا اعتراف کرد: چشم آنها بسوی آمریکا است اگر امریکا تصمیم گرفت که نیروهای خویش را قبل از سال ۲۰۱۴ م از افغانستان خارج کند بریتانیا نیز پلانی را زیردست گرفته که بتواند اخراج همه نیروها و سائل نظامی را از افغانستان سرعت بخشد، این درحالی است که لوی درستیز جدید بریتانیا (آلیور لیتوین Oliver Letwin)) راپوری رابه صدر اعظم بریتانیا تهیه وتسلیم داد که در آن گفته شده بود ، اگر بریتانیا قبل از سال ۲۰۱۴ م نیروهای خویش را از افغانستان اخراج نماید ۳ملیارد پوند را دربوجه نظامی آن کشور ذخیره خواهد توانست ، گفته میشود که راپور مذکور مورد تأیید دیوید کامرون صدراعظم بریتانیا نیز قرار گرفته ، این اظهارات نظامیان درجه یک ودو بریتانیا درحالی ابراز میشود که روی معلومات دقیق رئیس جمهور آمریکا اوباما بعد از وارد شدن تلفات بی سابقه، به سربازان امریکایی وناتو درافغانستان درسه ماه گذشته ، نشست های عجولانه، را در قصر سفید روی دست گرفت تا مسئله بیرون نمودن نیروهای خویش را ازافغانستان تجدید نظر نماید ، اوباما صراحت داشته که جدا در پی به پایان رساندن جنگ در افغانستان است ، برخی از رسانه های غربی راپورهای را به دست نشر سپردند که سران امریکایی بیشتر از گذشته، نگران تلفات خویش در افغانستان هستند ، یکی از منابع خبری غرب از قول کارمندان استخباراتی امریکا که نخواسته اند نام های ایشان افشا شود نوشته : اکنون احتمال بیشتر آن دیده میشود که سران امریکایی خروج نیروهای خویش را از افغانستان سرعت بخشند ، وضعیت آن زمان تغیر کرد که درحلقات بلند پایه سیاسی ونظامی امریکا نسبت به جنگ در افغانستان نظریات متفاوت ابراز شد ، هفته گذشته یک عضو ارشد مجلس سنای امریکا امار دقیق مصارف یک ساعت امریکا را در افغانستان ارایه کرد ، این عضوجمهوری خواه و مهم سنا امریکا (Jim McDermott, D-Wash)جیمزمک دیرمات دي واش )حین انزجار و نفرت خویش از جنگ افغانستان ابزار داشت که امریکا در یک ساعت ده میلیون دالر را در امور نظامی در افغانستان به مصرف میرساند ، مخالفت هابه روند نظامی در افغانستان زمانی در امریکا شدت گرفت که معلومات استخباراتی شمار تلفات نظامی امریکا رابه مراتب بیشتر از آن خواند که جنرالان امریکای درمحضر عام از آن صحبت میکنند ، نیگرانی های اخیر در سطح بلند پایه قصر سفید، اوباما را

مجبور ساخت تا بالای پلان خروج هرچه زودتر عساکر امریکا ازافغانستان کار نماید . گرچه سخنگویان قصر سفید از چنین نگرانی ها حرفی به رسانه ها نه زده اند . ولی معلومات که پشت پرده به برخی از رسانه ها که پیوند غیر رسمی به استخبارات امریکا دارندرسیده ، که نشان میدهد وضعیت به مراتب وخیمتر از آن است که فکر میشد . کشور بریتانیا هم وضعیت کنونی درقصر سفید را به دقت می نگرد و ممکن به همین دلیل باشد که وزیر دفاع کشور بریتانیا اظهار داشت اگر امریکا فیصله نمود که همه نیروهای خویش را قبل از میعاد تعین شده سال (۲۰۱۴ م) اخراج نماید ، بریتانیا نیز پلان را زیر کار گرفته که به شکل عجولانه همه نیروها و تجهیزات نظامی خویش را که قیمت آن به شش میلیارد دالر امریکایی میرسد از افغانستان خارج کند . کشور های غربی زمانی به یأس کامل مواجه شدن که فکر ناکامی نیروهای ناتو در افغانستان به یقین مبدل گشت ونیز بی کفایتی اداره کابل در تمام عرصه های دولت داری از پرده تأویلات وتوجیهات برامد . بی باوری سیاسیو غربی بالای اداره مزدور خویش در کابل تاحدی جدی شده که رسانه های غربی روی مطالعه عمیق از وضعیت اظهار داشتند که حالت کنونی اداره کابل و همکاری جامعه اشغالگر غربی، به آن می ماند که گویا یک موتر تیز رفتار را به دست طفل تسلیم نماییم و باز امیدوار باشیم که به منزلش خواهد رسید!!! که هر گز ممکن نیست . این اظهارات زمانی در غرب اوج گرفته که کرزی با دار ودسته خویش تپ وتلاش می نماید تا با صدور اعلامیه ها رسانه ها را نسبت به فساد اداری در تمام دوایر مربوط به نفع خود وهواداران خویش چرخ دهد .اداره دست نشانده کابل هنوز هم به جهانیان و افغانها امید های کاذبانه میدهد که گویا فسادی که در ده سال به شکل روز افزون ادامه داشت درچند ماه آینده چیده خواهد شد . کار شناسان نسبت به وضعیت ، در کابل وغرب به این نتیجه رسیده اند که سر سامی و گیج بودن تمام جهت های دخیل در اشغال افغانستان به آن حد رسیده است که اکنون همه سیاستمداران کوشش می نمایند تا حالت را ناتمام ترک کرده وهرچه بیشتر جلو قهر وغضب ملت های خویش را در ممالک خویش بگیرند . ولی کارشناسان می افزایند که بعد از این ، دروغ گفتن و سیاست فریب نخواهد توانست که ملت های غرب را مقنع سازد تابگویند که جنگ در افغانستان به خیر آنها بوده و تلفات ده ساله ، را که در این کشور متحمل شدند نتیجه مطلوب را به غربی ها به بار اورده .

عملیات الفاروق مجاهدین در امسال ، هوش را از سر دشمنان پرانده است . دشمن فکر میکرد وامیدوار بود که توانسته وضعیت را کنترول نموده در برابر مجاهدین سد ریگی بسازد ، ولی زمانی که عملیات فرق کننده بین حق وباطل به اسم الفاروق آغاز شد ، ملت قهرمان ودلیر افغان با فداکاریهای بی دریغ خویش نشان دادند که هرگز دشمن نخواهد توانست به آمال نامیمون خویش در این کشور نائل آید و خواب های را که نسبت به منطقه وافغانستان دیده بود به کذب محض تبدیل گشت ، عملیات الفاروق از آغاز تاحال باقوت بیشتر و تاکتیکهای کارا در برابر دشمن خارجي و دالربگیرهای داخلی گام به پیش می نهد ، روز گذشته ناتو اعتراف کرد که عملیات مجاهدین نسبت به سال گذشته یازده در صد افزایش یافته وتنها در جون که گذشت عملیات های مجاهدین در برابر دشمن بیشتر از سه هزار حمله بوده که این رقم بالاترین حملات را در ده سال گذشته نشان میدهد، این در حالی است که سخن گوی ناتو ماه گذشته نیز گفته بود که در ماه می سال جاری سه هزار حمله بالای نیروهای خارجي در کشور به اجرا در امده که رقمی فوق العاده درشت میباشد ، در تناظر این همه نگرانی ها و واکنش ها گفته میتوانیم که عنقریب افغانستان تاریخ ساز قرن بیست ویکم نیز شود .درحالی که در قرن بیست نیز افغانستان بود که ابرقدرت بزرگ نظامی اتحاد شوروی وقت را به زانو در اورد ، در قرن بیست ویک به زانوزدن ناتو کاری است که ان شاءالله افتخار آن را باز هم افغانهای مسلمان توسط مجاهدین وهمکاری همه جانبه مردم غیور ومتدین خویش کسب خواهد نمودند. وما ذالک علی الله بعزیز

## افغاني جسدونه به سپیانو ته اچول

یو امریکایي افسر وایي چې د۲۰۰۱ څخه ورسته چې دوی افغانستان ونیوه، ډیرځله امریکایي عسکرو هغه افغانان چې دامریکایي عسکرو له لوري په ووژل شول دمړو جسدونه به دوی خپلو پوځي بارکونوته له ځان سره وړل او هغه به یې امریکایي سپیانو ته اچول ترڅوهغه وخوري.

امریکایي افسر ( جان جرد ) په دې ورستیو کې په خپلو خاطروکې راوړي : له پنتاګون نه په افغانستان کې امریکایي افسرانو ته ویل شوي وو چې دطالبانو او القاعدي غړي کچیري په جګړي ووژل شي اوجسدونه یې تاسو ته په لاس درشي ،هغه له ځانوسره یوسي اوخپلو خپلوانو ته یې په هیڅ قیمت مه ورکوي ، ترڅو دمړو وارثین خپله همدغه سزا واګالي !

نوموړي وایي : داچې امریکایي عسکرو دمړوجسدونه ډیر نشو ساتلي اونه یې ورته دخښولو امرشوی وو نودوی به بیا ارومرو دغه جسدونه خپلوسپیانوته اچول ترڅویې وخوري جردن ، وایي دوی په خپلوسترګو لیدل چې څنګه امریکایي سپیانو انسانان څیري اومات رامات کول ، نوموړي وایي دوی ته دغسې تنداره ډیره ځورونکي بریښیده چې په پای کې دوی خپلو لوړپوړو پوځي چارواکوته کلک شکایت وکړچې که دانسانانو دغه ډول بې حرمتي روانه وي نودده په وینا یې نظامي اقدام به لاس پوري کړي ، هماغه وو چې پنتاګون حکم راولیږه چې مړي نور په سپیانو مه خوری بلکې په ډلییز ډول یې ترخاوورولاندې کوي!

دجردن ،ددغو ښرګندونو اوانکشافاتو په اړه دامریکاځینو بشري بنستونو ویلي : که دنوموړي دغه خبري رښتیاوې نو له شک پرته یې عاملینو دبشریت په وړاندې لوی جرم ترسره کړی ،دجنګي جرمونو اومجرمینو نړیوالو څارونکو او محاکموته لازمه ده چې په دې باب جدي ګامونه پورته کړي او له موسبیبینوڅخه دي پوښتنې ګرویژنې پیل کړي

داسلامي مقدساتوسپکاوی ، دوژل شوو افغانانودجسدونو توهین ، دملکي وګړو قتل عام ، دبې دفاع خلکو دکورونواوکروندو تخریب ، دتاریخي اثارو لوټ او تالان ، دشپې له پلوه دافغانانو کورونوته وراوښتل اودیته ورته جرمونه هغه څه دي چې امریکایانودتیرو یولسو کلونو په اوږدوکې په کراتومراتو ترسره کړي اودادي دوژل شووافغانانو دجسدونو دابې حرمتي چې په سپیوپې څیرلي او خوړلي یو بل تل پاتې جنایت دی چې رابرسیره کیږي

دغه ټول جنایتونه له هغه ستراتیژیک تړون مخکې ترسره شوي چې دکابل اداري له ( امریکا ) سره لاسلیک کړ ، یانې له دغه تړون وړاندې دکابل اداري او امریکایانو ترمنځ رسما کوم داسې قضایي هوکړه او پریکړه موجوده نه وه چې امریکایي عسکرو که په افغانستان کې هرجنایت کاوه نو همدلته به ترعدلي او قضایي تعقیب او څارني لاندې نه نیول کیږي ، اوس چې نوموړي تړون لاسلیک شو بارز ټکي یې همدادي چې امریکایان په افغانستان کې په بشپړ ډول لاس خلاصي اوځه یې چې په زړه جوړه وي هغه به ترسره کوي ،دخبري خلاصه داده چې له تړون ورسته که څوک دافکر کوي چې دامریکایانو جنایتونونه به محدود او یابه دهغوی کړنې اوموجودیت ترکوم قانوني دایري لاندې راوستل شي ،نبایي دابه ځان ته په لوی لاس دوکه اوفریب ورکول وي !!

دویمه برخه ....

# اسلامي هیوادو کې

# داسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمکش !

**لیکوال :داسلامي نړۍ مفکرعلم مولانا سید ابوالحسن علی "ندوي"رح – ژباړه : ابوظهیر**

## د ګوښه توب اوبېلتون خوښوني پایلې !

که داسلامي نړۍ کوم هیواد (دخپل تاریخ په کوم پړاو کې ) دنوي تهذیب نه خوندي پاتي شوی اوپه لمن یې دهغه د خیروشر داغ ندی پوري شوی ، دنوي تهذیب له ګټوروعلومو اواسبابولاس په سر شوی اوځان یې پخپله محدوده نړۍ کې کلابند کړی ، هغه هیواد په دغه وقفه اوبېلتون ترډیري مودي ولاړ پاتي شوی ندی . له هغه سره پرله پسي ددي تهذیب اوتمدن څپو(چې دزړونو په تل اودټولني په ریښو کې په سرایت کولوټول اخلاقي اصول اواقدار له ځان سره لاهو کوي ) ټکر کړی ، اووربانديي یې دسکون اوراحت خوب ګډوډ کړی .

هر دعقل څښتن چې دغربي تهذیب داغیزو، تسخیر، قوت اوله پراختیا خبروي ،او له دي سره یوځای په دي هم پوهیږي ، چې ختیځ هیوادونه دروحاني اومادي پلوه څومره کمزوري شوي ؟ اودهغوئ په هغه ایماني ځواک اوخپلواکۍ باور کې څومره انحطاط ځرګند شوی ،په کوم چې دوئ ددغه تهذیب سره دغره وهله ، دا اندیښنه کې ریښتوني او حق ده چې ددي هیوادو داکلتوري اوتمدني کلابندي ترډیره وخته دوام نشي کولای ، ددوئ دا دعزت دور تر اوږدي زماني پخپل انفرادیت به ولاړپاتي نشي ، ولي په بي باورۍ ،د کمترۍ په احساس ، اود روحاني کمزور تیا سره یوځای هیڅ قوم دخپلوځانګړ تیاوونه دفاع کولای نشي . دداسي ځواکمن تمدن اوتهذیب سره دغره وهلای نشي. له کوم سره چې دزماني رجحان اومیلان هم ملګری دی.

مشهورغربي فاضل محمد اسد چاچې په اروپا کې ژوند تېر کړی ، اوبیایې داسلامي نړۍ نه یوه اوږده کتنه هم کړي او په کال ۱۹۳۲ز کې یې دهغه پرسکون "جزیرة العرب" سفر هم کړی دی ، کوم چې ترهغه مهاله پخپلو پخوانیو عربي اواسلامي روایاتو کلک پاتي و اوغربي تهذیب لاورته نه وننوتی ،لا نویو توکیو اومصنوعاتو یې ریږژن دیوالونه نه و نړولي و ، ددي ټولو په لیدوهغه شک ځرګند کړ چې ایا دابیلتون اودغربي تهذیب نه ګوښه کیدل به ترډیري مودي پوري دوام وکړي ؟نوموړی لیکي:

" زه چې غور کوم، نودیته رسم ،راسره په زړه کې پوښتنه پیداشي چې زید(دنوموړي سره دعربي صحراءپه سفر کې ملګری اولاړښود) اودزید قوم (عربان) به تر کومه ځانونه له هغو ګواښونو خوندي ساتي ، کوم چې دوئ په زر ګونوحیلو اوپلموسره کلابندوي ، اودهر مروت اورعایت پرته ورباندي ژر سلطه موندونکی دی، مونږ په یوه داسي زمانه کې ساه اخلو په کومه کې چې مشرق دپر مختللي غرب په مقابل کې له هرپلوه ځپل کیږي ،خوهیڅکله دخاموش اوبي پري سیل بین په تو ګه نشي پاتي کیدای. اوس مهال په زرګونو سیاسي ، اجتماعي ، اواقتصادي ځواکونه داسلامي نړۍ دروازه ټکوي ، ایا اسلامي نړۍ دغربي تهذیب په وړاندي وسله غورځولي؟ ددي اختلاط اومقابلي په نتیجه کې به نه یواځي خپل دودیزشکل دلاسه ورکړي ، بلکې دخپلو روحاني رېښو اواساس نه به هم لاسونه وونيسي(Road to Mecca p.103,104 )

دمحمد اسد صاحب اندېښنه رېښتيا شوه ، په رېښتياهم داوقفه ډيره ونه ځنديده ،غربي تهذيب په لړو ورځو کې داسلامي نړۍ مقدس مرکز(جزيرة العرب) ته په فاتحانه ننوتوسره په هر لوري نويو مصنوعاتو اوغربي توکيو دسيلاب په څېرڅپې کړې ، دتميش له توکيواوغيري ضروري څېزونو (Luxurles)يې باذارونه او کورونه ډک شول ، دژوند دساده ګۍ ، زحمت تېرولو، نارينه توب ، لوړهمت، اوحوصله مندۍ هغه ټول صفات ورک شول ، کوم چې له پخوانه دعربانو ځانګړ تياګڼل کېده.

دجزيرة العرب اوغرب ترمينځ دانوي اړيکې ،دوستي دسياست ، تمدن او ثقافت يووالي دپيطرولو له لاري راغي، دا استفاده ياخوشه چيني ( چې پيل يې دتهذيب ، کلتور اودتجارت څخه شوی و) بلکل عاجلانه اوپه غير دانشمندانه تو ګه پيل شوه، ترشا يې يوه متوازنه مفکوره ياپلان نه و، نودغربي تهذيب په وړاندې ، هغه اندېښنه چې داسد صاحب سره ملګري وه رېښتني واقعه وشوه ،چې د دودونو، رواجونو اودظاهري شکل وروسته اوس ددغه سپمي روحاني رېښې هم ددغه توپان څپو په مخ کړي.

په دې تغير اوانقلاب راتلو دجزيرة العرب په داړمنه اوخاموشه صحرا کې دغربي مصنوعاتو، دراحت اسبابو، اودتعيش توکيو پريمانۍ اودژوند دمعيارناڅاپي بدلون ، اوپيريو ، پيريوساده ژوند اودنوي عملي ژوند پيچلتيا پخپله غربيان محسوسوي ، اوېري تعجب څرګندوي ، دامريکايو ليکوال(Don peretz)پخپل کتاب(The East Today M Iddle ) کې ليکې:

"ددويم نړيوال جنګ وروسته ګې دوديزاقتدار ، دتيلوله لاري ترلاسه کېدونکې دولت (چې دلويديځوځواکونو اغيزي هم ورسره ګډي دي ) په وجه کمزوري شوي ، پخواني کلتوري ورثې چې بېلابېل پرګني يې سره تړلي وي ، اوس په پای ته رسيدو دي ، ولي چې دشيوخو دستروکورنيو وګړي چې دتيلو ددولت په وجه مالا مال شوي دي ، هغوئ دغربي مصنوعاتو ، ښايسته توکيو ، دغربي ژوند درسمونو اورواجونو څخه اغيزمن شوي ، اوددي بدلون علم په ښکته خلکو کې ناکراري پيداکړي ده ، ولي هغوئ په دغسي ظاهري شان وشوکت سره دژوند کولو وس نلري ، مثلا : بدوي قبايل اوس دڅارويو څرولود شغل نه وزګار شوي، دښارونو په شاوخواه کې راټول شوي دي ، او ورځ په ورځ دغوښارونو دنا کراريوواونا ارامه خلکو سره همدردي پيداکوي.(The Middle East Tod ay p.402)

بل ځای ليکې:

بل پلو دپيسو ناڅاپي وربښت دنهايتي ځواکمني اوجابري سعود کورنۍ په خزانې کې مرتکز اوجمعه کېږي ، ترڅنګ يې رشوت اخيستل ، اواقربا پالنه ، اونهائي درجه غير مسئولانه رويه هم زيږولي ، دتيلو دلاري دترلاسه کېدونکي پريمانه دولت ډيره لويه برخه په نهايتي فضول خرچيو برباديږي، اوتري اصل ګټه يوائې شاهي کورنۍ پورته کوي ، په دې ستره او پراخه ډله کې نه يوائې شاه اودهغه اولاد برخه لري ، بلکې دهغوئ ميرمنې ، اودخسر ګنۍ خپلوان هم شريک کړل شوي، چې دټولو ميزان ترسلګونو رسي ، ټول برخې اووندي لري ، هغوئ ټولو ته ددې دولت نه مخامخ پيسې ورکول کېږي،اواوس د سعودي واکمنه کورنۍ دپخوا پشان صحراکې دحکومت کوونکي وهابي شيخ حيثيت نلري ، بلکې هغه دمشرقي شان وشوکت سره يوځای دراحت اوعيشونوله ډول، ډول توکيو سره يوځای ژوند کوي .په لسګونو شهزاد ګانو کې هريو ځانته جلا ، جلا ګرانبيه موټرپيرلي دي ، اوهريوه دځان لپاره عاليشاني مانۍ جوړي کړيدي ، چې په ټولو نويو اسانتياوو دراحت اوتعيش په اسبابو (لکه ارکنديشنونه اودلمبلو ځانګړي حوضونه) جوړاوښائسته دي.

هغه وړاندې ځي اوليکې:

پر کوم جوش اوولوله چې پخواه زمانه کې وهابي قبايلو له اسلامي اصولو کومه پيروي کوله ، دهغو په لړ کې يې په کومه ساده ګۍ زور راوړ اوس هغسې ندي او نه اوس څوک دبهر د تعيش توکيو پر ضد له تهديدڅخه ډک غبر ګون څرګندوي

،هغه ټول نه يواځې دوئ تسليم کړي بلکې دهغوپه موندلوپسي دټولني ټول وګړي لالهانددي . هغه قبيلي چې ورانـدي يـې دوهابيانو پشان ساده اوسپور ژوند تېراوه .هغوئ اوس صحرائې ژوند پريښودی.راغلي دتيلو دنويو مرکزونو شاوخواته ميشت شوي دي . چېري چې دژوند غوره کولو وروسته .په نويو غربي ځيزونو بنه روږدي شوي اوهغه د تيلوله چينونه په ترلاسه کېدونکوپريمانه پيسو پيري .( The Middle East tody (p.406-7

د شک اوشبهي پر ته که په ريښتيا ددي لپاره هڅي په کار اچول شوي واى ،څو جزيرة العرب له هره پلوه په ځان پوره ګرځول شوي واى . اوددي لپاره ديوه ځانګړي پلان اونظم دلاري په نوي پرمختللي سستم يې د ودانولو چاري په مخلصانه سوچ او کوښښونوجوړي شوي واى .نوکله بـه يـې هم لويـديځ تـه داحتيـاج لاس نـه ونيـولی . اوهـم پـه غربـي تهـذيب ناقدانـه اومحققانه نظر اچول شوی وای د "خذ ماصفا ودع ماكدر "په پخواني اسلامي اوعربي اصولو باندي عمل شوي واى .نن به غربي کلتور داسلام په مرکزيت دسيلاب پشان نه را ته . اويواځې به يې دهغه نمايشي اواوسطحي اړخ نه په برخه کېده . خوددي لپاره چې په کومه ځير کتيا . ژورلرليد .صبرو تحمل غوراوفکر کولوته اړ تيا وه . هغه ددي سيمي په هغه قشر کې کم و.د کوم قشر په ذمه چې ددي نازکي فريضي سر ته رسول و.

مونږ داسلام پـه مرکـز اواسـلامي دعوت پـه لـومړی زانګوکي دتمدن اوکلتوري پلان خبره وکړه . خودلته بايد داله يادونه باسو، چې داسلام مرکزاوداسلامي دعوت لومړی زانګو يوتل پاتي حيثيت اوممتازشخصيت لري .چې په هرڅه هغه ته دلومړيتوب مقام ورکول پکاردي . اوپه ټولو پلانونو. داصلاح اوپرمختګ په ټولو کوښښونو.دزمان ومکان ټول رعايتونه دهغه تـابع اوتـري لانـدي نيـول پکـاردي . پـه رد وقبـول کې دغربـي تهذيب اودعصري اسانتياوو نه دګټي پورته کولو په هره موقع يـواځې دهغـه اصليت اسـاس ګرځـول پکـاردي . او کلتـوري ، روزنيز. اوښووونيزپلان دهغه له قدوقامت سره سم جوړول پکار دي چې هم دهغه دمعنوي ارزښتونواوله هغه پيغام سره مطابقت اومناسبت لري . دکوم درسولومسؤليت چې ټول بشريت لري.

په دي تو ګه داخبره " دموضوعه اصولو" په څېر طې کړ شوي پريښودل پکاردي، چې جزيرة العرب دمحمد رسول الله (ﷺ)لګولی بڼ دی .اودرسول الله (ﷺ) ددعوت اومحنت ثمره دی . لـه دي وجـې وربانـدي حـق هـم درسـول الله (ﷺ)دهغـه دصـحابه وو اودرسـول الله (ﷺ) پـه دعـوت دايمـان لرونکوپکاردی .پـه دي اسـاس دي جزيـره کې بـه هغـه اصول ،طرزالعمل اوپلان غوره کولی شي چې هغه به ددي حقيقت ښکارونکي اوورسره سمون ولري . دجزيرة العرب څمکي لپاره داضروري ده چې لـه هرهغـه څېـز نـه بـه لـري وي کوم څه چې دجزيرة العرب فکري اوايماني سالميت ګواښي ، او شخصيت يې کمزوری کوي . رسول الله (ﷺ) پخپل ژورلرليد دي ګواښ ته په کتوجزيرة العرب نه ديهودو اونصرانيانودشړلو حکم کړی . اوله دي نه يې منع کړي چې هلته دي داسلام پر ته بل دين هم شتون ولـري . پـه دي کې شک نشته چې درسول الله (ﷺ) دا پيغمبرانه اوحکيمانه وصيت نه تنها دجسماني پلوه دنامسلمانو ايسـتلولپاره بسـيا کـوي . بلکـې لـه هلتـه دهغـوئ دهـرډول اثرورسوخ اودهغوئ دعوت او کلتورايستل هم پکې راځي چې په دي هردعقل څښتن پوهيدای شي .

ددي څخه علاوه پردي جزيره کې "حرمين شريفين" هم دي . هغه بلد امين هم دی چې په هغه کې رسول الله (ﷺ) پيدا اودنبـوت دنعمـت نـه بـرخمن شـوی دی، دحـج سـتره فريضـه اومناسک هم هلته ادا او لمنځل کېږي، په همدي خاوره کې هغه غوره ښار ( مدينه ) هم دی چېري چې رسول الله (ﷺ) هجرت کړی . چېري چې يې خپل لومړی مسجد .درس ځای اواسلامي جامعـه جـوړه کـړي . لـه کـوم نـه چې داسلامي دعـوت اودهغـه دفتوحاتو لړی پيل شوي .دايو ستر اوتلپاتي مسؤليت دی . چې خامخا داسيمه داسلامي ژوند سهي زانګو اودهغه صافه هنداره وګرځول شي .څو پـه ورتلو هرشخص محسوسه کړي چې دا داسلام زانګو ده . پکې داسلام اصلي انځور اومزاج ويني . ولي

الله (ﷺ) هغه ځمکه د تل لپاره د مسلمانانو د حج مرکز او د ملسلمانانو کلنۍ مرجع او مأوی گرځولي ، له دې وجې هر ور تلونکی د دې باور او یقین حق و لري چې هغه یوه داسې ښار ته د تلو هوډ لري ، کوم ښار چې د سپېڅلتیا معدن ، د دین زانګو، او د اسلام د اخلاقي ، او روحاني سلطنت پلازمینه دی ، او په قدرتي توگه د اسلام د ښمنو رجحاناتو او د هغو د لاربښوونو د اثر څخه دومره پاک دی چې په اړه یې څومره تصور کېدای شي ، او د کوم لري اسلامي هیواد پشان یې د غربي کلتور په وړاندې وسله نده غورځولي ، کوم چې د جزیرة العرب غونډي له امتیازاتو او مسؤلیت نه برخمن ندی .

په دې پلان جوړولو کې هیڅ قسم رعایت ندی پکار او تر اخري بریده یې د اصلیت او ساده گۍ ساتنه پکار ده ، څو د لرې لرې هیوادو نه ور تلونکې هم هغه چاپیریال او فضا محسوس کړي ، په کومه کې چې وړاندینو مسلمانانو حج سر ته رساو ، او هم هغسې شعوري بیداري باید شتون ولري ، هسې نه چې حرم شریف د عبادت او سکینت یوه داسې خاص جزیره پاتې شي ، چې تري شاوخواکې د غربي مادي تهذیب او کلتور سمندر موجونه وهی ، او د هغه تونډي توپانی څپې یې له دیوالو سره په ټکر خوروسره وړاندې درومي.

**د تولنیزو اقدارو ، رسمونو او رواجونو په مټ د تازه عصري تهذیب مقابله!**

دامنفي دور یا وقفه تر ډېره په هیڅ شرقي هیواد کې تم کېدای نشي ، ولي هغه دودیز اقدار ، رسمونه ، رواجونه یا اجتماعي جوړښتونه چې تر شا یې په فهم او بصیرت باندې ولاړ غواک نه وي ، هم په ښه ذهانت او ذکاوت سره د دې نوي نړۍ پرحقایقو د اسلام د ابدي اصولو د تطبیقولو او د نوي تهذیب ، د کتورو او صالحو اجزاؤ او د غیر صالح اجزاؤ ترمنځ د تمیز کولو بشپړ صلاحیت و نلري ، د دې تونډ او تیز تهذیب په مقابل کې تر ډېره څنده تم کېدل ناشوني دي ، او نه په دې سره قوم ژغورل کېدای شي ، هر هغه هیواد چې ور ته خپل پخواني دودونه د احترام وړ وي ، خو د هغو د بقا او پر اختیا له صلاحیت نه محروم وي ، د پاخه عقل او د څواکمن ایمان څخه بې برخې وي ، د هغه په نصیب دا وړد زوال او انحطاط پر ته بل څه نشته!

د غربي تهذیب او د هغه له وسایلو او ثمراتو نه گټه اخیستنه که په رغنده سوچ او پوهه د خیر او شر ترمنځ د تمیز کولو د اساس پر ته وي نو دا تهذیب به د هیواد د چارواکیو ، اهل حل وعقد او علماوو د رضایت او خوښي پر ته په هغه هیواد او تولنه جبرا قابض شي او د تولني خلک به یې ښه تود هر کلی و کړي ، ادیبان او قلموال به ور ته لار صافه کړي ، پر لوړ به یې د خیر او شر د مفید او مضر د توپیر پر ته د هغه هیواد و گړي د فاقه وهلو په څېر ورمات شي ، چې په دې سره به ټول اخلاقي او دیني اقدار فنا شي ، د هیواد چارواکې او د سیاست علمبرداران به د دې حالت په وړاندې بې لاسو او پښو مفلوج پاتې شي او د هغوئ له لاس نه به د قیادت واگې ووځي .

**د کلتوري او تعلیمي پلان! او د معقول گام پورته کولو اړتیا:**

پر ته د کومي استثناء نیږدې ټول شرقي هیوادونه په وروستي دور کې په یو ، یو کېدو د غربي تهذیب لقمه شول او پکې پر ته له مزاحمت دا بلاخیز سیلاب بهیږي ، د دې وجه داده چې د هغوئ قیادت غیر معمولي او د متوازن عقل ، انتخاب او تمیز نه محروم و ، او د تصویر دواړه اړخونه یې په وړاندې پوره نه وو راغلي ، ښوونیز نظام او د هیواد نوي جوړونه په حکیمانه پلان( PLANING ) او نویو تجربو نه وه ایښودل شوي .

ددې ځخـه عـلاوه (او تر ټولو لـوی) د ربښـتنو اسـلامي لاربښوونو ځخه دانحراف په وجه یکې داسې حالت رامنځته شو، چې هغه ته دعقل او انصاف دوارو له پلوه روانشې ویل کېدای، هغه په هیڅ زمانه کې دپاتې کېدو صلاحیت نه لاره، نه یواځې په نن ناارام تغیر خوښوونکې اوبدلون غوښتونکې دور کې!

افغانسـتان (چې پـه ټـول ختـیځ کې یخپلـو رسـمونو ورواجونو دکلک پـاتې کېدوله پلوه شهرت لري او په پخوانیو افغانی دودونو اصرار لري) تـه هم دا ترا ژیدي پیښه شوي، تریوي زماني دغربي تهذیب له اغیزو اودښو اوبدو بدلونو ځخه خوندي و، پخواني کلتوري دودونه یې اوټولنیز رسمونه یې په غابښو کلک نیولي وه او دنوي تهذیب دصالحو او ګټورواجزاؤ له منلوځخه بیزار و.

دروس اوهنـد (چـې یـو وخت دبریتانیې دسلطنت یو اهم جـز و) پـه منځ کـې دکلابنـدي، دهغو سترو نزاکتونو، مسؤلیتونو، اودګوابښـونو سـربیره چـې جغرافیـوي موقعیـت اودوخـت دنزاکت پـه وجـه ورسره مخ و، دتعلیمـي، اوپـوځي پلـوه هـم نهـایتي بیر تـه پـاتې هیـواد و، دشـلمي پیـړۍ پـه پیـل کـې دلومړي نړیـوال جنګ دپیـل نـه ترپایه دنویو علوماواړینو تمدني پرمختیـاوو نـه محـروم و، دافغانسـتان دبیر تـه پـاتې والـي اندازه تاسې دداسې یوه سیاح عـالم لـه وینـا ځخـه ولګـوئ. څـوک چې پـه کـال ۱۹۱۵ز کې افغانستان ته سفر کړ دی ،اوهلته یې اته کاله دیوه وطنوال په تو ګه دژوند اوسیاست په چارو کې ونده اخیستې ، اوله نیږدې یې ددغـه هیـواد حـالات مطالعـه کـړي دي ، دغـه سیـاح

اودحالاتوځیږ ونکی ظفرحسن ایبک دی ، چې پـه ۱۹۱۵ز کې کابل ته دتګ وروسته دمولاناعبید الله سندي (رحمه الله) دشاګرد اومرستیال سربیره دنادرخان دیوه باوري ملګري پـه حیث یې څو کلونه دهند دازادۍ اودافغانستان دپرمختګ لپاره هڅې کړي ،هلته په سیاسي اوپوځي ډګر کې دسترو خدمتونو دسر ته رسولوورو سته چې کله پـه ۱۹۲۲ کې پرې کابل کې دبریتانیې په فشار قیودات سخت شول دمولاناعبید الله سندي سره یوځای ترکي ته لاړ ، هلته دترکي په دولت کې دډګرمن رتبې له ترفیع اخیستو وروسته یې ځان ګوښه کړ ، هغه په لیکلې بڼه خپل ټول یاداښـتونه جمعـه کـړي چې یـوه لویـه برخـه یې دافغانسـتان حالاتو ته هم ځانګړې کـړي ، هغه یخپلو یاداښتونو(آپ بیتي) کې لیکې:

په هغه زمانه کې افغانستان په پوهنه کې دیربېر ته پاتې هیواد و، شاید دټولو وګړو ځخه یې یواځې یوه سـلنه یازیـات نـه زیـات دوه سـلنې خلکو ته لیک لوست یادوه، هغوی هم یـواځې پـه پخوانیومدرسـو کې ذده کړي کړي وي ، غالباپخواني پاچایان خپلو خلکو ته دزده کړوور کولوځخه داریـدل چې هسـې نـه دسـتر ګوپه غړیدودوئ دمطلق العنان واک نـه بغـاوت ونکـړي، دامیر حبیـب الله خان(سراج الملة)په زمانه کې ټول هیواد کې یوولسي ښوونځی(حبیبیه habibya High School اویوحربي ښوونځی و، افغانستان کې دنوي پرمختګ بنسټ دامیر حبیب الله خان په زمانه کې ایښودل شوي، که هغه دامیر عبد الرحمان خان(ضیاءالملة والدین) وروسته دافغانستان پاچا نه وای شوی ،شاید په دې هیواد کې دنوي تهذیب اودنوي ښوونې اوروزنې نوم قدري هم دچاترغوږونه وای لاړ. دنوریبا

# دسرپل ولایت له جهادي مسؤل ملامحمدنادر حقجو سره مرکه

مرکیال: حبیب مجاهد

**طالب العلم محمدنادر حقجو دمیرزا رحیم زوی په قوم ازبک له نن څخه ۳۳ کاله وړاندې دسرپل ولایت دصیاد ولسوالۍ دالملک په کلي کې زیږیدلی دی ، دیني زده کړې یې دافغانستان او پاکستان په مختلفو مدارسو کې ترسره کړې دي. بیا په بیا جهادي معروفیاتو له امله ترې پاتې شوي دي.**

**محمدنادر حقجو دهغو څو تنو باهمته او کارنامه سازو مجاهدینو له جملې څخه دی ، چې په سترو قربانیو سره یې دهیواد په شمالي ولایاتو بلخ ، جوزجان ، فاریاب او سرپل کې جهادي عملیات پیل کړل ، او وروسته یې په بې ساري استقامت سره داسیمې دښمن ته دلور تبې وګرځولې.**

**محمدنادر حقجو چې په جوزجان ، فاریاب او سرپل ولایاتو کې یې په مختلفو عملیاتو کې برخه اخیستې له تیرو څلورو کلونو راپدیخوا دسرپل ولایت لپاره داسلامي امارت لخوا دوالي په حیث ټاکل شوی دی ، چې لاهم همدې دندې ته دوام ورکوي . له نوموړي سره مو په دې ولایت کې دجهادي لاسته راوړنو په اړه مرکه کړې چې ستاسو توجه ورته رابولو .**

**پوښتنه**

محترم حقجو صاحب لومړی درته هرکلی وایو ، که مهرباني وکړئ په پیل کې د سرپل ولایت په اړه عمومي معلومات راکړئ او دا هم راته وویاست چې په دې سیمه کې جهاد عملیات څنګه پیل شول ؟

**ځواب**

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم امابعد :

سرپل ولایت د افغانستان د شمالي ولایاتو له جملې څخه دی ، چې له جوزجان، بلخ ، فاریاب ، سمنګان ، بامیان او غور ولایتونو سره پوله لري ، مساحت یې ۱۵,۹۹۹ مربع کیلومتره دی چې په مرکز ( سرپل بازار ) سربیره د صیاد ، سیداباد ، سوزمه قلعه ، سنګ چارک ، بلخاب ، کوهستانات او ګوسفندي په نومونه اوه ولسوالۍ احتوا کوي.

په سرپل کې پنځه کاله وړاندې دامریکایانو په خلاف لومړني جهادي عملیات پیل شول ، په پیل کې موږ ۸ تنه وو ، چې دصیاد په ولسوالۍ کې مو جهاد پیل کړ ، څرنګه چې ددښمن فشار زیات وو په هوارو سیمو او مسکوني مناطقو کې مو هیڅ دګوزارې ځای نه درلود ، له همدې امله تردریو میاشتو پورې په غرونو کې په غارونو او ترکمرو لاندې موګوزاره کوله ، او کله ناکله به ډیر په پټه لاندې سیمو ته دعملیاتو لپاره راکوزیدلو ، له موږ سره دجوزجان ، فاریاب او نورو شاخوا ولایاتو مجاهدین هم په رابطه کې وه ، او ځیني کسان یې زموږ سره ملګري وو ، په پیل کې هلته فعالیتونه دولایاتو په سطحه نه وو بلکې موږ ټولو په ګډه عملیات ترسره کول.

له څه مودې وروسته موږ په مسکوني سیمو کې دعوتي فعالیت پیل کړل او په صیاد ولسوالۍ کې څلور کلي راسره انصاري شول ، وروسته چې له سرپل او شاوخوا ولایاتو په ګڼ شمیر کې مجاهدین راغلل ، او

زموږ شمیر خورا زیات شو ، دصیاد ولسوالی تر ډیره زموږ تر تسلط لاندې راغله ، څلور کاله وړاندې داسلامي امارت دمشرتابه لخوا ماته دسرپل ولایت جهادي مسؤلیت راوسپارل شو ، په دې وخت کې زموږ دملګرو شمیر ۷۰ تنه مسلحو مجاهدینو ته رسیده ، موږ بیا هلته دتدریب مراکز هم جوړ کړل او ډیرو سیمو ته مو خپل فعالیتونه پراخ کړل ، چې دعامو خلکو له خورا تاوده هرکلي سره مخامخ شوو ، وروسته مو دسرپل په مرکز ، سید اباد ، سنګ چارک ، کوهستانات ، سوزمه قلعه او ګوسفندي کې هم خپل تشکیلات فعال کړل ، او اوس لله الحمد له بلخاب ولسوالی پرته په ټولو ولسوالیو کې زموږ فعالیتونه روان او دولایت اکثره سیمې فتحه شوي دي.

**پوښتنه**

که په سرپل کې داوسني وضعیت په اړه معلومات راکړئ ، چې هلته مجاهدین په کوم دریځ کې دي او دښمن په څنګه وضع کې قرار لري ؟

**ځواب**

باید ووایم چې لله الحمد سږکال په سرپل کې دجهادي بریاوو له اړخه خورا مهم کال وو ، پخوا که دولایت په ځینو ولسوالیو کې مجاهدینو یوازې سمبولیک شتون درلود ، مګر سږ کال لله الحمد له بلخاب ولسوالی پرته ټولو ولسوالیو ته عملا دمجاهدینو قوي شتون او ډاګیز مؤثر عملیات وغځیدل ، مثلا سید اباد ولسوالي چې دمرکز شمال ته بیخي نږدې پرته ده او دسرپل جوزجان سړک یې له منځه تیریږي ، دمجاهدینو یوه قوي مورچل بلل کیږي ، ددې سړک ختیځ ته پراته ګڼ کلي ټول دمجاهدینو په ولکه کې دي ، او حتی مجاهدین دښار تر دروازو دتللو مجال لري ، ددې سړک غرب خواته هم مجاهدین شتون لري ، دسرپل دمرکز په اړه که ووایو ، دمرکز ختیځ ته دوه لویې او پراخې سیمې (شیرم او نیمدان) چې لسګونه کلي احاطه کوي په بشپړه توګه دمجاهدینو په ولکه کې دي ، شیرم دومره پراخه علاقه ده چې اوس مجاهدینو دجلا ولسوالی اعتبار ورکړی دی ، دمرکز په جنوب او لویدیځ کې هم مجاهدین ډیر کلي او سیمې په ولکه کې لري دبیلګې په توګه لغمان ، آدرنګ ، لتي ، بلغلي ، قریه عربیه او داسې نورو مشهورو کلیو کې مجاهدین اوسیږي ، له شاخوا کلیو څخه دسرپل په مرکز دمجاهدینو فشار دومره زیات دی چې اوس دښمن هره شپه دښار چاپیره امنیتي کمین نیسي ترڅو دمجاهدینو داحتمالي هجوم مخه ونیسي ، څو میاشتې وړاندې چې مجاهدینو دسرپل په مرکزي محبس برید وکړ ، زندان یې مات کړ او په ګڼ شمیر کې مجاهدین یې ازاد کړل له دې څخه لوستونکي معلوم ولای شي چې مجاهدین تر کومه حده په مرکز کې قوي حضور او عملیاتي امکانات لري.

دصیاد ولسوالي چې دمجاهدینو دنشأت اصلي سیمه ده ، اوس په کې مجاهدینو تریوه حده خپل حضور کم کړی دی ، ځکه هلته دښمن ډیر فشار راوړی او الماني ځواکونو پکې قرارګاه جوړه کړې ، مجاهدینو ددښمن له چاپو څخه دځان ساتنې په خاطر له دې سیمې دخپل مجاهدینو شمیر کم کړی ، او په عوض یې په نورو ولسوالیو کې خپل فعالیتونو ته زور ورکړی ، خو په صیاد کې اوس هم په کافي شمیر مجاهدین شتون لري ، او هره ورځ په دښمن عملیات ترسره کوي.

دکوهستاناتو سیمه چې ډیره پراخه اراضي لري ، او په څلورو برخو (علاقه داریو) ویشل شوې ده ، دپوګان ، چکن او چراس په نامه یې دری ستري ساحې په بشپړه توګه دمجاهدینو ترولکه لاندې دي چې هلته دښمن هیڅ شتون نلري ، یوازې د استراب په نامه یوه ساحه چې هلته دولسوالی مرکز دی هلته دښمن سمبولیک شتون لري ، خو په دې سیمه کې هم زموږ

مجاهدین شته او دښمن نه پرېږدي، چې ازادانه واک



وچلوي.

په سوزمه قلعه، ګوسفندي او سنګ چارک ولسواليو کې سږکال الله الحمد مجاهدینو خورا مهمې لاسته راوړنې درلودې، دې سیمو ته دپاموړ عملیاتو پراختیا او دولسي ملاتړ ترلاسه کول، سږکال زموږ ترټولو ستره لاسته راوړنه وه دادري ولسوالۍ دسرپل ترټولو پرنفوسه او پرعائداته سیمې دي، چې اکثره برخې یې په باغونو پوښتل شوي دي، په دې ولسواليو کې لسګونه کلي دمجاهدین تر واک لاندې دي، او خلک یې ټول له مجاهدینو سره همکار دي، دګوسفندي ولسوالۍ هغه برخه چې له بلخ ولایت سره پیوسته ده په بشپړه توګه دمجاهدینو په ولکه کې ده، په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې یو دپاموړ عملیات دشهزاده په نامه ددښمن دیوه ستر قومندان له منځه تلل چې څو ورځې وراندې دمجاهدینو لخوا دعملیاتو په ترڅ کې ووژل شو.

یوازې دبلخاب ولسوالۍ کې موږ تراوسه تشکیلات نلرو چې هغه هم دیوه عمومي لامل له وجې، دبلخاب ولسوالۍ اوسیدونکي دشیعه مسلک سره تړاو لري او پخوا دحزب وحدت ملاتړي پاته شوي، څرنګه چې په درست افغانستان کې په دې ته ورته سیمو لکه باميان او دایکندي کې جهادي عملیات کمزوري دي له همدې امله په بلخاب کې هم موږ تراوسه کومه لاسته راوړنه نه ده درلودلې.

**پوښتنه**

دښمن تبلیغات کوي، چې په سرپل کې یې زرګونه میله وسلې ویشلي او دمجاهدینو په خلاف یې داربکیانو په نامه خلک مسلح کړي دي، ددې خبرې ماهیت څه دی؟

**ځواب**

په سرپل کې رښتیا هم په ځینو محدودو سیمو کې دښمن وسلې ویشلي دي، او دوی په خپل زعم اربکیان استخدام کړي دي، خو دې کار زموږ په عملیاتو هیڅ اثر نه دی کړی، تاسو پوهیږئ چې دسرپل اولس عموما خورا په دین مین او مجاهد اولس دی، چې له تیرو څو کلونو راهیسې یې دمجاهدینو په سر خورا سترې قربانۍ ورکړي دي، په دې وروستیو کې چې دښمن هلته داربکیانو پروګرام پیل کړ، نولومړی یې داولس له منځه هغو محدودو أرذلو اشخاصو (پخواني ټوپکیانو) ته وسلې ورکړې، چې هغوی په ځینو سیمو کې په خلکو سخت ظلمونه پیل کړل، په دې وخت کې عامو خلکو چې له مجاهدینو سره ډیر مخلص دی، مجاهدینو ته رجوع وکړه، او ویې ویل چې دادی دښمن دغه ټوپکیان مسلح کوي، دوی سره له دې چې شمیر یې محدود دی خو که مسلح شي، نو ټول خلک تراثر لاندې راوستلای شي او یو ځل بیا به په خلکو داسې ظالمانه واک چلوي لکه په پخوا کلونو کې، نو ددې لپاره چې له دې خلکو سره دمقابلې جوګه شوي یو، موږ اولسي خلک به هم له دښمن څخه وسلې اخلو، ددې لپاره نه چې خدای مکړه دمجاهدینو مخه پرې ونیسو بلکې ددې لپاره چې ددغو ظالمانو جګړه مارانو دظلم مخه پرې ونیولی شو.

په دې توګه د سرپل په ځینو سیمو کې خلکو له دښمن څخه وسلې واخیستې او دښمن هم اعلانونه وکړل چې سلګونه اربکیان یې استخدام کړي ، خو دې کار ددې په ځای چې دښمن ته فایده وکړي مجاهدینو ته یې ډیره فایده وکړه ، ځکه دې خلکو تراوسه دمجاهدینو دهیڅ عملیاتو مخه نه ده نیولې ، بلکې له مجاهدینو سره دپخوا غوندې همکار دي ، دوی حکومت ته په نظر کې ورکړې چې موږ اربکیان یو ، خو په حقیقت کې یوازې له جګړه ماړانو ځان ساتي او له مجاهدینو سره دپخوا غوندې خواخوږي لري ، په صیاد ولسوالۍ او دمرکز په جنوبي سیمو کې چې کوم اربکیان دي ، له مجاهدینو سره پوره همراز دي ، کله چې دښمن دې سیمو ته راځي ، دوی له وړاندې مجاهدینو ته خبر ورکوي ، چې ځانونه محفوظ کړي ، دغه راز زموږ دمجاهدینو له منځه لس فیصده داسې دي ، چې په حکومتي وسلو ددښمن په خلاف جهاد کوي ، یعنې ځینو خپله له دښمن څخه وسلې اخیستې او بیا مجاهدینو ته راغلي او دځینو خپلوانو اخیستې او بیا یې دوی ته ورکړي چې جهاد پرې وکړي ، له همدې امله ویلی شو چې هلته په خلکو دوسلو ویشلو مجاهدینو ته هیڅ زیان نه دی رسولی بلکې په ډیر مواردو کې مجاهدین په کې ښه اکمال شوي دي.

**پوښتنه**

په سرپل کې یوه بله دپام وړ پیښې په دې وروستیو کې د دمکتب دنجونو دمسمومیت موضوع وه ، چې دښمن یې پړه په طالبانو واچوله ددې پیښې په اړه که معلومات راکړئ چې واقعیت څه وو ؟

**ځواب**

رښتیا هم سږکال دجون دمیاشتې په وروستۍ لسیزه کې درې ورځې پله پسې دسرپل ولایت په مرکز کې دددریو مختلفو لیسو نجونې او ښوونکې مسمومې شوې ، چې دا پیښې دنجونو دمسمومیت دهغه پیل شوي بهیر وروستۍ پیښې وې چې دهیواد په بیلا بیلو سیمو کې ددښمن لخوا په منظم ډول پرمخ وړل کیږي.

ددې پیښې په اړه باید ووایو چې داد بې ننګه او بې حیاء دښمن دسیسې دي چې غواړي دداسې کړنو په ترسره کولو او په مجاهدینو باندې دتور لګولو له لارې دخلکو په منځ کې مجاهدین بدنام کړي ، ما وړاندې وویل چې دسرپل په مرکز کې مجاهدین خورا قوي دي او نفوذ یې هره شیبه پراخیږي تردې چې دښمن په مرکز کې دمحاصرې په حالت کې قرار لري ،دمرکز اوسیدونکي له مجاهدینو سره ډیره خواخوږي لري ، دښمن چې له پوځي لارې دمجاهدینو په ځپلو کې پاته راغلی ، داځل یې هڅه وکړه چې دنجونو په مسمومولو او بیا په مجاهدینو دتورلګولو له لارې دخلکو او مجاهدینو ترمنځ فاصله ایجاد کړي دهمدې هدف لپاره دښمن پخوا په ډیرو سیمو کې ښوونځي ، کلینکونه او نور عام المنفعه تاسیسات هم په بمونو الوزولي دي ، دښمن درې ورځې پله پسې دښار په داخل کې دنجونو په ښوونځیو کې سم پاشي وکړه او سلګونه نجونې یې بې هوښه کړې ،ظالم دښمن نه

يوازې نجونې بې هوښه کړې وې ، بلکې ددوی امنيتی چارواکو دانتقال او بستر په مهال په ځينو نجونو جنسي تجاوزات هم ترسره کړي وو ، چې دداسې وقائعو په اړه په خپله دسيمې اوسيدونکو ماته په ټيلفون شکايتونه وکړل او دچارواکو ظلم يې راته بيان کړ، له دې جنايت ځخه سيمېزو خلکو ته دلمر غوندې روښانه شوه چې داډول بې رحمانه جنايت يوازې دفاسد حکومت امنيتي او استخباراتي چارواکي ترسره کوی نو ځکه يې په خلکو کې دحکومت په خلاف سخت دنفرت احساسات راوپارول ، دې عمل چې دښمن غوښتل دمجاهدينو په خلاف ديوې حربې په توګه کار ترې واخلي پخپله دښمن په کې رسوا او شرمنده شو ، او خلک سخت ورته وپاريدل ، دې واقعيت ته په پام سره بايد ووايم چې په درست هيواد کې بايد مؤمن افغانان



دمکار دښمن دسيسو ته متوجه واوسي ، دښمن ډير ځله يا دملکي خلکو په منځ کې چاودنې کوي ، يا ښوونځي او ملکي تاسيسات ورانوي او يا هم نجونې مسموموي او بيا يې دميډيا له لارې په مجاهدينو تاوانوي ، خو اولس بايد ددا ډول پيښو اصلي عاملين وپيژني او دمجاهدينو سره دهمکارۍ کولو له لارې يې په خپله سزا ورسوي.

### پوښتنه

محترم حقجو صاحب ستاسو څرګندونې ډير مفيدې او خوږې دي ، خو متاسفانه زموږ دمجلې پاڼې محدودې دي ، نو ځکه غواړو خپله دپوښتنو لړۍ رالنډه کړو ، که په پای کې په لوړو اظهاراتو څه وراضافه کول غواړئ ؟

### ځواب

مننه وروره ، په مجموع کې بايد ووايم چې الحمدالله دسرپل ولايت دعامو خلکو او مجاهدينو دقربانيو په برکت اوس داسيمه دجهاد په يوه قوي سنګر اوښتې ده ، اولس يې له مجاهدينو سره خورا ډيره خواخوږي لري ، مجاهدين داولس په ملاتړ له هرې خوا اکماليږي او عملياتو ته دوام ورکوي ، عموما جهادي وضعيت دهرکله په پرتله اوس ښه دی جهاد ټول ولايت ته پراخ شوی دی ، دمجاهدينو تلفات مو بيخي کم دي او دښمن ته پله پسې خورا درانه زيانونه اوړي ، ملکي پروګرامونه مو هم په پوره برياليتوب پرمخ ځي ، دسرپل په ټولو هوارو او غرنيو سيمو کې ښوونځي او مدارس فعال دی دهرې ولسوالۍ لپاره دمعارف مديريت لرو ،حتی دکوهستاناتو هغه خودمختاره او لرې پرتې غرنۍ سيمې چې دزياتره حکومتونو واک هلته نه دی رسيدلی اسلامي امارت په کې اوس ښوونځي فعال کړي دي او دخلکو ديني تنوير يې پيل کړی دی ، دسوچه جهاد ، صداقت ، اخلاص ، ايثار او عامه خيرخواهۍ له برکته دسرپل ټولو خلکو اوس زړونو په مجاهدينو پورې تړلي دي ، دوی پخواني ټولو تراوونه پرې ايښي او يوازې يې مجاهدينو ته غيږه خلاصه کړې دي ، داولس ددې ملاتړ په مقابل کې اسلامي امارت او عام مجاهدين هم بايد داولس قدرداني وکړي ، په لوړه سطحه بايد داسې پروګرامونه طرح شي چې داولس دخيرخواهۍ ، ارامۍ ، سوکالۍ او لا زيات اعتماد خپلولو سبب وګرځي ، دغه راز بايد په عموم کې داولس دکوچنيانو تربيې ته ډير توجه وشي.

پای

" شهید زوی "

# په برماکې د مسلمانانو عامه وژنه

# او د نړیوالو د شرم نه ډکه چوپتیا

برما چې دولتي نوم یې ریپبلک آف یونین آف میانمر دی او اوس په میانمر یادېږي د سهیلي او ختیځې سهیلي آسیا په منځ کې پروت دنړۍ ځلوېښتم او د آسیا دوهم ستر هېواد دی، ۲۶۱۲۲۷ مربع میله مساحت لري او دهند، بنګله دیش، چین لاوس او تای لینډ سره یې پولې نښتې دي.

دا هېواد نږدې ۶۰ میلیونه نفوس لري چې د ۸ نه تر ۱۰ میلیونو پکې مسلمانان دي، دلته د مسلمانانو ډېرې قبیلې دي چې تر ټولو ستره قبیله پکې روهنګیا ده، ددې قبیلې سره دري نیم میلیونه مسلمانان تړاو لري، د روهنګیا قبیلې مسلمانان د کومې ځانګړې نسلې ډلې افراد نه دي بلکې دوئ د عربانو، بنګله دېشیانو، ترکانو، افغانانو او ایرانیانو نه تشکیل شوې یوه قبیله ده.

دا هېواد دشان، کایا، کچین، کرین، چهین، مون او اراکان په نوم ۷ ولایتونه لري چې د مسلمانانو اکثریت په اراکان ولایت کې مېشت دي.

اراکان چې په تېرو وختونو کې په روهنګ، روشننګ، رخاین پرې او راخا پوره نومونو یادېدلو د بنګله دیش د خلیج (چې په خلیج بنګال یادېږي) سره یې ۳۶۰ میله اوږده ساحلي تړانګه لګېدلې ده.

د مخه مووویل چې روهنګیا مسلمانان د پنځوقومونو، عربانو افغانانو، ایرانیانو، ترکانو او بنګله دیشیانو نه تشکیل شوې یوه قبیله ده، نو طبعي ده چې دې قبیلې ته د منسوبو ټولو ګړو تر منځ به په ډېرو کلتوري مسایلو کې یووالي نه وو خو کله یې چې په ۱۴ مې عېسوي پېړۍ کې د بنګله دیش د اسلامي سلطنت سره کلتوري روابط ټینګ شول نو له یوې خوا په مسلمانانو کې کلتوري توپیرونه له منځه ولاړل او له بلې خوا په دولتي سطحه اسلامي تهذیب وده و موندله، مسلمانو دولتي مشرانو خپل نومونه اسلامي کړل، په محاکموکې ورو ورو اسلامي قوانینو رواج وموندلو، په سیکې کلمه طیبه ولیکل شوه او په اراکان کې ګڼ شمېر جوماتونه هم دولت جوړ کړل او د بنګله دیش د اسلامي سلطنت سره یې له بل هر دولت نه زیات تمدني او سیاسي روابط جوړ شول.

د ۱۷۸۴ پورې اراکان یو آزاد او خپلواک دولت و په ۱۷۸۴ کې د برما پاچا (( بودپیه )) په اراکان یرغل وکړ او اشغال یې کړ، د اشغال سره سم د نوموړي پاچا فوځ په زرونو مسلمانان ووژل ۲۰ زره یې قید او د برما نورو برخوته واستول، په نوم جومات او مدرسه یې پرې نه ښوده، د mrauk-u نومې

سترشاهي کتابتون په شمول يې ټول کتابتونونه وسوځول او د ۱۷۸۴ نه تر ۱۸۲۴ پورې دظلمونو نه سخت تنګ شوي ۲ سوه زره مسلمانان بنګله ديش ته په هجرت کولو اړ شول ، په ۱۸۲۶ م کې اراکان او تناسرم باندي انګريزانو يرغل وکړ دبرتش انديا برخه يې وګرځوله او دپاچا د ظالمو فوځونو د ظلمونو نه مسلمانان خلاص شول ، انګريزانو په ۱۸۸۵ م کې پورتنی برما د خپلې قبضې لاندي راوسته ، په ۱۸۹۰ کې په شان استيټ هم دانګريزانو قبضه راغله او په دې طريقه ټوله برما دانګريزانو مستعمره شوه او تر ۱۹۴۸ پورې يې تراستعمار لاندي پاتې شوه ، د۱۹۴۸ جنورۍ په ۴ مه کې چې برما د انګريزانو د استعمار نه تش په نامه ازاده اوپکې بودايان واکمن شول ( په حقيقت کې اوس هم دامريکااو نورغرب غلامه ده او هرڅه چې کوي دهغوئ په حکم يې کوي ) په ټوله برما کې پرمسلمانانو او په ځانګړې توګه په اراکان کې په روهنګيا مسلمانانو باندي دبودايې کفري دولت له لوري دډيرو سترو ظلمونو وحشتونو او دنا انساني سلوکونويوه نه تم کېدونکې لړۍ پيل شوه چې ترننه دوام لري .

د ۱۹۴۸ نه ترننه دبرما دمسلمانانو پرضد په هېواد کې دننه د ۱۲ نه زيات فوځي سترعمليات ترسره شويدي ترټولو ړومبی چې په ۱۹۴۸ کې کله د مسلمانانو پرضد د B.T.F په نوم عمليات ترسره شول نود ۳۰ زرونه زيات مسلمانان وحشي بودايي فوځيانو ووژل .

د ۲۰۰۱ په عملياتو ۸ سوه مسلمانان شهيدان او د ۷ سوونه زيات وتښتول شول چې ترننه لا ورک دي ، د ۱۹۹۱ نه تر ۲۰۰۰ پورې په مختلفو فوځي عملياتوکې د دمسلمانانو ۱۸ سوونه زيات کلي وسول ځول شول او د ۲ سوونه زيات جوماتونه داسونوليارە په غوجلو او فوځي مرکزونو بدل شول .

يواځې په ۲۰۰۲ کال کې ۴۰ جوماتونه له منځه يوړل شول .

۱۹۸۴ کې ۲ سوو کورنيوچې دهجرت په اراده يې سمندري سفر کاوه فوځيانوورباندي کېښتۍ واړولي چې هيڅ څوک پکې ژوندی راونه وت .

۱۹۷۸ کې د ۳ زره نه زيات مسلمانان په بوريوکې بنداو ژوندي سمندرته وروغورځول شول او دمسلمانانو ۲۰ مشران ژوندي په خاورکې دفن کړای شول ، په همدې کال په يو جومات کې د ۱۲۰ مسلمانوميرمنو جسدونووموندل شول .

د ۱۹۷۸ په اپريل کې دمسلمانانو پرضد کوم پاڅون شوی ويواځې داکياب ولسوالۍ کې دوحشي بودايانو په لاس ۸ زره مسلمانان شهيدان شوي وو.

۱۹۹۲ په اپريل کې بودايانو د مسلمانانو په يو جومات حمله وکړه او د ۲ سوو نه زيات مسلمانان يې پکې شهيدان کړل .

د ۱۹۵۰ په فوځي عملياتو کې ۳۰ زره ، د۱۹۵۶ په عملياتوکې ۱۳ زره ،

د ۱۹۹۶ په عملیاتو کې ۲۵ زره ، د ۱۹۷۸ په عملیاتو کې ۳ سوه زره ، د ۱۹۹۱ په عملیاتو کې ۲ لکه ۲۵ زره او د ۹۶ او ۹۷ په عملیاتو کې ۶۰ زره مسلمانان بنګله دیش ته په هجرت کولو مجبور شول ، دا ټول ارقام د بنګله دیش نه خپریدونکې دعوة هائی الایتمس نومې مجلې په ۲۰۰۶ کې خپاره کړي وو.

د ۱۹۴۸ نه تر ۱۹۶۲ پوري چې په برماکې ملکي دولت و نو سره له دې چې په مسلمانانو ظلمونه کېدل خود کاروبار او د سوداګرۍ په شمول یې په یو شمېر امورو کې آزادي درلوده، کله چې په ۱۹۶۲ کې ملکې دولت رنګ او فوځ قدرت ته ورسېدلو نو د برما د ټولو مسلمانانو او په ځانګړي توګه د روهنګیامسلمانانو پر ضد د ظلم او وحشت یو داسې باب پار نستل شو چې په انساني تاریخ کې به یې شایدساری ونه موندل شي .

دار اکان په تجارت کې د مسلمانانو ډیره لویه ونډه وه خو فوځ پر مسلمانانو د تجارت کولو ټولې لارې وتړلې ، په ۱۹۶۴ کې د مسلمانانو ټولې خیریه ، کلتوري او ټولنیزې اداري وتړل شوې ، د دولت په کابینې او پا پارلمان کې چې د مسلمانانو څومره نماینده ګانو غړیتوب درلودلو د هغوئ غړیتوب ختم کړای شو .

او په ۱۹۸۲ کې پر نسلي تعصب او خورا سترې دښمنۍ ولاړ د تابعیت داسې قانون تصویب شو چې له مخې یې د ګوتو په شمېر د څو مسلمانانو پر ته د روهنګیامسلمانانو په شمول د برما ټولو مسلمانانو نه د خپل هیواد تابعیت واخستل شو حال دا چې د برما سره د مسلمانانو تړاو څه نوی نه و بلکې د کابو ۱۰ پېړیو راهیسې مسلمانان د دې هېواد اتباع وو ، زر کاله وړاندې هم د مسلمانانو آبا او اجداد همدلته مېشت وو او بودایان د مسلمانانو نه ډېر وروسته دې هېواد ته راغلې دي د دې پرېکړې نه پس د برما مسلمانانو ته د داسې کډوالو په نظر کتل کېږي چې د ټولو مدنې

حقوقو نه بې برخې وي او دهیڅ ډول ظلم په مقابل کې به داواز پورته کولو حق نه لري نو ځکه کابو ټول مسلمانان د بنارونو نه وویستل شول ملکیتونه یې ټول غصب شول او په ځنګلونو او په نا آبادو سیمو کې مېشت شول ، په دښتو او ځنګلونو کې هم ډیر مسلمانان یو ځای داوسېدلو حق نه لري بلکې دیوبل نه به لرې لرې اوسېږي تر څو د خپل ځان نه د دفاع کولو جوګه نه شي .

په سحراګانو او ځنګلونو کې چې کومو کوډیو کې مسلمانان مېشت دي دولت ته د هرې کوډۍ په سر پر ټکس ور کولو مکلف وي ، د دې تر څنګ چې فوځې افسران هر وخت وغواړي دا کوډۍ ور ورانې کړي ، د دې ځای نه یې وشړي او بل ځای هم نه ورپه ګوته کوي .

کومه شاړه ځمکه چې مسلمانان آباده کړي او څوکلونه فصل ور کړي ظالم فوځې افسران ترې نه یواځې دا چې آباده ځمکه واخلې بلکې د ځمکې کرل او ورباندي ټول مصارف هم د همدې مسلمانانو پر اوږو وي .

مسلمانان دیو نه بل کلي ته د دولت له اجازي پرته د تللو حق نه لري

او چې دولت اجازه ور کوي نو ترې بل کلي ته د تللو ټیکس اخلي.

کهیو مسلمان هر څومره عاجل مریض وي د فوځ له اجازې پر ته مسلمانان خپل مریض روغتون ته نه شي بوتلای ، یو مسلمان هم د فوځ له اجازې پر ته خپل کور کې څوک مېلمه کولی نه شي ، له بنارونو بېرون د فوځې مر کزونو د جوړولو ټول کارونه او مصارف له مسلمانانو اخستل کېږي ، د بودایانو پیاره له بنارونو بېرون د عبادت ځایونو جوړول هم د مسلمانانو مسئولیت وي .

د کوریو تن خامخادفوځي افسرانو لپاره په ځنګلونو کې دبانس لرګوپه غوځولو اوبیایې تربازاره دخرڅلاو لپاره په رارسولو مصروف وي ، دشپې او ورځې دامتیازپرته هر وخت فوځیان دمسلمانانو دکورونو دتالاشي کولو حق لري ، دتالاشی پرمهال چې دمسلمان په کور کې دفوځي څه خوښ شي وړي یې او هیڅوک یې دمنع کولو حق نه لري ، دتالاشی نه پس چې دمسلمانانو دکورنونه په فوځي مرکز کې دخدمت کولو په پلمه ځومره مېرمنې فوځین بوځي ځوک یې مخنیوی نه شي کولای، مېرمنې دخدمت په نوم بوتلل کېږي خو پر هغوئ جنسي تېرياصل هدف وي ، دجنسي تېريو لپاره ډير کرته د ۱۱ او ۱۲ کلونو کوچنی انجوني هم فوځي مرکزونو ته تبتول کېږي ، دولت داسې قوانين جوړ کړيدي چې له امله يې دمسلمانو کوچنيانو لپاره زده کړه او دلويانو لپاره په دولتي ادراو کې کار کول ناشوني شويدي .

که يو مسلمان اومسلمانه په خپلوکې واده کول وغواړي نو ددولتي ۴ جاسوسو شبکونه به اجازه اخلي ، دسختو کوښښونونه پس چې مسلمانان اجازه تر لاسه کړي نو له يوخوا به قسم کوي چې د ۳ نه به زيات بچې نه زېږوي اوله بلې خوا به د ۴ واړو شبکونه د اجازې غوښتلو کلونه کلونه لګېږي ، دهمدي تاخير له امله دمسلمانانو په هر کلي کې مجردان د واده لرونکو په پر تله زيات وي او ډېر کلي داسې هم وي چې ۲ او ۳ کلونه تېر شي خو يو واده يکې هم ونه شي .

دډېرو کوښښونو نه پس چې کوم مسلمان ته دواده کولو اجازه ورکړل شي نو داجازي نه پس او د واده نه وړاندې ميرمن او مېړه مکلف وي چې د ((فېملي پلاننګ اينډ کونسلنګ سنټرز )) نومي ادارو کې څو شپې تېروي ، دمسلمانانونه ددې څو شپو ډيرې پيسې اخستل کېږي اوهمدلته دزياترو ناوو عزتونه لوټ کېږي .

Lenaviobserration نومې فرانسوي اوونيزې د ۱۹۹۸ په ۲۳ اپريل خپورشوي يوراپور کې راغلي و چې داسې معلومات يې ترلاسه کړي چې دبرما فوځ دبې شمېره مسلمانانو مېرمنو سينې غوځې کړيدي ، همداراز bichitra نومې بنګله ديشي اوونېزې کې په يو خپورشوي راپوکې راغلي وو چې واک ته د دفوځ درسېدونه نه تر ۱۹۷۸ پورې د ثبت شوو پېښو له مخې ۲۶۰۰ مسلمانو مېرمنو برمې فوځيانو له لورې دجنسي تېرې ښکار شوې وې .

دهمدې ظلمونونه تنګ راغلي دبرما کابو نيم مسلمانان دبرما نه بنګله ديش ، پاکستان ، سعودي عربستان ، ماليزيا ، تاي لينډ اويو شمير نورو هېوادونوته په هجرت کولو مجبور شوي دي ، برما کې باقي پاتې مسلمانانو کې يو هم په برما کې پاتې کېدل نه غواړي خو ورنه دتلو هيڅ لار نه لري ، دبرما مسلمانان په کښتيو کې چې دهر هېواد ساحل ته ورورسېږي هغوئ يې بېرته برماته راشړي .

اراکان ته ترټولو بنګله ديش نېږدې دی خو دبنګله ديش هېواد ته ورغلي په سوو نوزره دبرما مسلمانان په مختلفو وختونوکې بېرته ددې هيواد نه په ډېرې بې رحمی راشړل شويدي .

دبرما دولت دهېوادنه دټولو مسلمانانو ويستل اودبرمانه داسلام دنوم ختمول غواړي ځکه خويې دمسلمانانو پر ضد دوحشت نه ډکو اقداموتويوه نه تم کېدونکې لړۍ پيل کړيده خو ملګري ملتونه امريکا او نور لويديځ په دې خوښ دي چې دبرما مسلمانان په هېواد کې دننه پاتې وي اوتل دبودايې دولت او بودايې ولس له لورې دظلم ښکاروي ځکه خويې دمسلمانانو پر ضد په ترسره شوو ټولو وحشتونو دپيل

نه ترننه ستر ګي پټې کړيدي او هيڅکله دبرما دفاسد
او ظالم دولت پرضد کوم کوچنی اقدام کړيدي .

اوس چې ديوې بوداييې مېرمنې مسلمانېدل پلمه شول اوپه ټول هېواد کې د ۳۰ زرنه تر ۴۰ زرو پورې بې ګناه مسلمانان وحشي بودايانو ددولت په اشارې اومرسته ووژل تر ۱۰ زرو پورې مسلمانان بې درکه شول په کابو ۵ زره مسلمانو ميرمنو حملې وشوي ، ۴ زره مسلمانان ژوندي سوځول شوي ، دورانوشوو مسجدونوپوره شمېره لانه ده رامخې ته شوي خو ۳سوه جوماتونه دولت بندکړي ، په ټوله برماکې دروژې په دې مبارکه مياشت کې مسلمانان دتراوو او ختم اجازه نه لري ، ۹۰ زره مسلمانان بې کوره شول غونډ غونډ کلي وسوځول شول خو امريکا ، اروپايي اتحاد ، دملګروملتونو اداره ، دامنيت شورا او دبشر دحقوقو ادارې ټول پرې چپه خوله دي .

او ديهودو غلامه ميډيا چې پريوچادکوم اسلامي حد حکم دجاري کېدلو پرمهال ټول اسمان په سر اخلي او تر اونيويې پر مخالفت کې پروګرامونه جوړوي ، خو همدا رسنۍ نن دبرما ددومره ستر وحشت او ظلم روان حالت داسې وړاندي کوي لکه چې دنړۍ په کوم ګوټ کې يوه ډېره کوچنۍ پېښه رامنځته شوې وي ، که دنړۍ کوم ګوټ کې ۱۰ يا ۱۲ سپي هم په ظلم ووژل شوي واي دوئ به پرې څومره غوغا کولای ؟ خو دلته د ۴۰ زرو په وژل کېدو ، د ۱۰ زره په بې درکه کېدو ، د ۹۰ زرو په بې کوره کېدو او ۴ زرو په سوځېدو ټولو نړيوالو رسنيو د چوپتيا دشرم نه ډکه روژه نيولې ده .

په ليبيا کې چې دتيلو سترې چينې وې نو ددولت او مخالفينو ترپه جګړه کې ديو څو تنومخاليفينو په وژل کېدو امريکا او دناټو غړو هېوادنوسره کمزورو انسانانوته دنجات ورکولودومره فکرپيداشو چې له املهيې پر ليبيا دسترې حملې کولوضرورت هم محسوس شو دقذافي دولت له منځه وړل او دقذافي وژل اړين او اړين و بلل شو ، ددې سترې حملې په ترڅ کې په زرونو انسانان ووژل شول اوسترې ورانۍ رامنځته شوې خو دلته چې دکافربودايانو له لورې دبې ګناه انسانانويوستر قتل عام کېږي نو دوئ يې بشه په خوښې تماشه کوي ځکه چې دلته دظلم ښکار شوي وګړي مسلمانان دي او دظلم دکافرو بودايانو له لورې کېږي.

بس دادلويديځې کفري نړۍ او ملګرو ملتونوپه نوم دغلامې ادارې اصل څېره ده ، نو لابه يې هم په غولونکو نارو غولېږو؟

درېمه برخه : ------

# دعظيم الشان قرآن تاريخ

**داسلامي نړۍ نوميالی عالم ډاکتر محمد حميدالله رح**

**ژباړه : شهاب منصور**

**پوښتنې او ځوابونه :**

يوه ښاغلي پوښتنه کړې : عثمان (رض) دعظيم الشان قرآن په اړه څه کړي اوور ته ولي "جامع القرآن" ويلی کېږي ؟

ځواب : دابوبکر صديق (رض) په زمانه کې چې کله قرآن مجيد په لېکلي بڼه تدوين کړای شو ، تاريخ پوهان لېکي : هغه لېکلي نسخه ابوبکر صديق (رض) ته وړاندې شوه ، چې دوفات تروخته ور سره وه ، دوفات وروسته دهغه ځای ناستي حضرت عمر (رض) ته وېوړل شوه ، د تاريخ پوهانوله قوله : کله چې د عمر (رض) دشهادت غميزه پېښه شوه ، هغه نسخه دهغه لور اودمؤمنانو مور "حفصې" (رض) ته ور کړل شوه ، درسول الله (ﷺ) په "پاکو مېرمنو" کې ټولي په لېک لوست نه پوهېدې ،ځينې يواځې په لوست پوهېدې ،اوځينې بيا په لېک اولوست دواړو پوهېدې ، غرض داچې دمؤمنانو مور اودحضرت عمر (رض) لور حضرت "حفصه" (رض) پر هغو څو په شمار مېرمنو کې وه چې په لېک اولوست دواړو پوهېده ،نود ابوبکر صديق (رض) لپاره لېکل شوې نسخه د عمر (رض) دوفات وروسته حفصې (رض) ته په لاس ورغله ، د عمر (رض) ځای ناستي عثمان (رض) غالبا دامناسب ونه ګڼله چې له هغې نه يې ځانته واخلي ، اوبيا داچې عثمان (رض) پخپله هم دعظيم الشان قرآن حافظ و ، هم خپله نسخه ورسره وه ، له دې وجې اړتيايې ورته هم نه وه ، خو يوه پېښه رامنځته شوه چې دهغې په وجه هغې نسخې اړتيا پيدا شوه ،چې بيرته دوخت خليفه ته وېوړل شي ، اوترې استفاده وکړي.

پېښه داوه چې د عمر (رض) په زمانه کې په حيرانوونکې توګه داسلامي فتوحاتو لړۍ تردېرلرې هيوادونو وغځېده ،هغه خلک چې دنيا غوښتونکې وه ، هغوی سره دموقع پرستۍ په وجه دافکر پيداشو چې دوی بايد ځانونه مسلمانان وښايي ، خوپه حقيقت کې هغوی مسلمانان نه وه ، بلکې منافقين وه، او کوښښ يې داو چې اسلام ته د کور دننه صدمه ورسوي ، په دې لړ کې هغوی په عظيم الشان قرآن هم بريدونه پيل کړل ، په لومړي سر کې دېته ډېر اهميت ورنکړای شو ، خو ديوې پېښې په رامنځته کېدو دې ستونزې دجديت بڼه غوره کړه ، هغه داچې د عثمان (رض) په زمانه کې "آرمينيا" ته دجنګ په موخه يو لښکر ولېږل شو ، ستاسې په ذهنونو کې به غالبا د "ارمينيا" تصور نه وي ، داسې پوهې شئ چې" شمالي ترکيه" چېرې چې نن سبا د "ارض روم" ښار ودان دی ، اودايران پولې ته څېرمه پروت دی ،ددې سيمې اوسېدونکې آرمنيان دي ، اوهمدې سيمې ته "آرمنيا" ويل کېږي ،قسطلاني څوک چې دبخاري شريف شارح دی ، هغه لېکي: د عثمان (رض) يولښکر چې "ارزن روم" ته څېرمه پراواچولی و (ارزن روم اوس ارض روم تلفظ کېږي) په هغه لښکر کې دا حادثه رامنځته شوه ، چې دامام اومقتديانو ترمنځ دځينو آيتونو د "قرائت "په سر شخړه راغله ،امام يو ايت يوشان لوسته مقتديانو بل شان... يوه تن ويلې: ماته فلانې استاد داسې را ښودلی... فلانې صحابي په عراق کې داسې لوسته ... بل تن ويلې: ما ته خپل استاد داسې ښودلی ... اوپه

شام کې فلاني صحابي هم داسې لوستة . . . دواړه لوري پخپله، پخپله خبره ټینګ ودریدل ، نیږدې وه چیدیوه بل په ضد یې توري پورته کړې وي. . . وینې یې توی کړې وي ، خودپوځ مشر دیوه کامیاب تاکتیک په کارولو دواړه لوري له جنګ کولو څخه منع کړل ، کله چې پوځ بیرته مدینې منورې ته ستون شو ،دپوځ مشر "حذیمه بن یمان" خپل کورته دتلو په ځای نیغ خلیفه ته ورغی ، او هغه ته یې وویلې : امیر المؤمنین !دمحمدي امت خبر واخله ! عثمان(﵁) :ولې او څه پېښه شوې؟ ورته یې ټوله کېسه تېره کړه ، عثمان (﵁) سملاسي پرېکړه کړه ، دهغه یو خصوصیت دا هم و چې هر کار به یې په ذهن کې راغی ،دهغه په اړه به یې ژر فیصله کوله اوهم دتعمیل لپاره یې سملاسي ګام اخیسته ،ددې حالت په مخ ته راتلوېې وویل : ددې اصلاح ته اړتیا ده ، حضرت "حفصې " (﵂) ته یې یوتن ولیږه چې دابو بکرصدیق( ﵁) نسخه چې له تاسره ده، هغه ماته امانت راولیږه ، داستفادې کولو وروسته به یې بیرته درکړم ، هغه نسخه راوړل شوه ،او دوحې کاتب زید بن ثابت(﵁) ته یې دوېم واري دنده ورکړه چې ته له دې نسخې نه نقلونه تیار کړه ، اوبیاهغه سره مقایسه کړه، که پکې کومه تېروته پاتې وه هغه لرې کړه!

داچې عظیم الشان قرآن دعربي ژبې لومړی کتاب دی ، په دې وجه به پیل کې عربي لیکدود کې ځینې نیمګړ تیاوې شونې وې ، دیته په پام عثمان(﵁) حکم وکړ که دتلفظ له پلوه په املاء کې ځینې ترمیمونو ته اړتیاوه ، خامخا یې وکړئ ، هغوئ یې په دې نکته هم پوئ کړل ، چې څنګه عربي ژبه یوشان نه بلکې دهرې سیمې لهجه دبلې سیمې سره توپیر لري ، دنجد قبیلې خلک یولفظ یوشان ادا کوي ، دمدینې خلک بیا هغه لفظ بل شان ادا کوي ، دفلانې ځای خلک یې په جلا تو که ادا کوي ، له دې وجې که د کوم یوه لفظ په تلفظ کې اختلاف راته ، هغه به دمکې دتلفظ سره سم لیکل کیږي ، په دې تو که زید بن ثابت (﵁) دخپلو څوتنو همکارانو په ملتیا دوېم واري دپخوانیو نسخو په نقلولو شروع وکړه ، عثمان (﵁) هغوئ ته داهم وویلی: که په کوم ځای کې اختلاف راته ، نومسئله ماته راالیږئ ، زه به پخپله پرېکړه کووم ، بدبختانه چې کومه پېښه چې په ارض روم کې رامنځته شوې وه چې دیوه ایت یا یوه لفظ په اړه په پوځ کې اختلاف پیداشوی و، په اړه یې کوم تفصیل ترمونږ ندی رسیدلی ، خوبرېښي داسې چې دهغې شخړې لامل دقبایلو دلهجو اوخبرو اختلاف و، ددې یومثال ماته یاددی ، په عظیم الشان قرآن کې د "تابوت" لفظ راغلی ،دهغه معنی ده صندوق ، دمدینې منورې په لهجه کې "تابوه" تلفظ کېده ، په پای کې یې ګردی "ة" ویلی کېده ، اودمکې خلکو به " تابوت" لوسته ، ددې په سر زید بن ثابت (﵁) اوملګري یې متفق نشول ، بالاخر عثمان(﵁) ته یې وړاندې کړه ، هغه حکم وکړ چې "تابوت" په اوږده "ت" ولیکئ دا کومه زیاته مهمه خبره نده ، خوزه تاسې ته داهم وایم چې څوک داخبره کوي چې د عثمان (﵁) په زمانه کې دعظیم الشان قرآن تدوین شوی ، ددې حقیقت څه دی ؟حقیقت یواځې دومره دی چې دحضرت عثمان (﵁) په زمانه کې یواځې دعظیم الشان نقلونه ایستل شوي دي ، په املاء کې څه ترمیم شوی ، باقي دلفظ "غږ" ندی تغیر شوی ، خو په ځینې ځای کې داوازد غږ په املاء کې څه توپیر شوی دی ، ددې وروسته څلور یا په یوه بل روایت اووه نسخې تیارې کړای شوې ، د عثمان (﵁) په زمانه کې چې د علمي دیانت پالنې کوم معیار و، هغه ته په پام نوموړي حکم وکړ :چې دا اووه کوټې نسخې دي ،یوه یوه په نبوي مسجد کې یوتن په لوړ غږ له اوله تر پایه ولولي ، څو له هیڅ یوه تن سره داشک پیدانشي ، چې عثمان (﵁) په عظیم الشان قرآن کې چېرې تغیر کړی دی، کله چې ټولې نسخې یوه ، یوه ولوستل شوې اودمدینې خلک ټول پرې ډاډ من شول چې صحیح دي ،بیاعثمان( ﵁) دخپل پراخ خلافت دبیلابیلو ولایتونو مرکزونواوښارونو ته هغه واستولې ، دعثمان (﵁) په زمانه کې داسلامي خلافت دپراختیا اندازه تاسې له دې څخه ولګوئ چې په ۲۷ کال دهجرت یعنې د رسول الله (ﷺ) دوفات نه پنځلس کاله وروسته د اسلامي لښکرو یو سر په هسپانیه کې و اوبل یې د جیحون څخه پورېوتی ماوراء النهر(چین) ته رسیدلی و، تراروپا اوآسیا اوافریقا غځیدلی و، لویو لویو ښارونوته دعظیم الشان قرآن نسخې ددې حکم سره ولیږل شوې ، یواځې ددې رسمي نسخویه استناد دې نورې نسخې لیکل کیږي ، اوداتاکید یې هم وکړ که دچا سره ددې پرته کومه نسخه وموندل شوه هغه دې تلف شي ، اوس چې په دې حکم څومره عمل وشو ؟په دې اړه څه نقل شوي ندي ، خودعملي پلوه داناشونې وه، چې په دریو لویو وچو(براعظمونو) کې دې دهرمسلمان کورته پولیس ورشي اوهلته شته نسخه دې له سره ترپایه درسمي نسخې سره مقایسه کړي ، اوبیا که ځای پکې درسمي نسخې خلاف وموندل شو ، هغه دې تلف کړای شي ، دتاریخي منابعو له پلوه دداسې کومې پېښې یادونه نده شوې ، خو په هر صورت د عثمان (﵁) له زمانې نیولې ترمونږپورې چې کومې نسخې نسل په نسل رسیدلې ، هغه له لومړۍ هجري پیړۍ نیولې ترنه هم هغه دې کومې

چې دعثمان (رضي الله عنه) لخواه څلور یا اووه نسخې بېلا بېلو ښارونوته لېږل شوي ، دهغو نسخونه څېنې يې ترننه هم خوندي پاتې دي ، ثبوت خونشته، البته روایت دی چې دهغو نسخو دي ، له هغونه یوه نسخه نن سبا په تاشقند کې ده ، داچې هلته څنګه رسیدلي ، کېسه داده چې دانسخه اول په دمشق کې وه ، کوم چې دبنوامیه وو دخلافت پلا زمینه وه ، کله چې دمشق کوډ تیمور فتح کړ ، وهلته د غنیمت په مال کې ترټولو د ګرانبیه څېز په تو ګه د عثمان (رضي الله عنه) نسخه ومونده ، هغه يې واخیسته او خان سره يې سمرقند ته ویوړه او خوندي يې کړ. ، په سمرقند کې وه ، تردې چې په تېره پېړی کې روسانو سمرقند ونیوه ، داچې دغه نسخه ډېره مشهوره وه ، روسي جنرال له هغه ځایه "سینټ پېټرس برګ" ته کوم ته اوس "لینن ګراډ" وايي ویوړل شوه ، روسي تاریخ پوهان وايي :دانسخه دسمرقند حاکم په روسیي جنرال باندي د۵۰۰یا۲۵ روپیوپه بدل کې پلورلي وه ،چې دوئ په غلا نه بلکې د پیرلوو روسته لینن ګراډته نقل کړي ، خوپه هرصورت دلومړي نړیوال جنګ ترپایه دا نسخه په لینن ګراډ کې وه ، دهغه وروسته چې کله د "زار" حکومت ړنګ شو ، او کمونستانوپه واک مونکلي خنبې کړلي ، هغه وخت په لوی شمېر روسیې وګړو نه غوښتل چې دکمونستانو تر واک لاندي ژوند وکړي په دې وجه يې روسیه پرېښوده او نورو هیوادونوته لاړل ، دهغوئ نه یوتن پاریس ته راغلی و، چې په "جنرال علی اکبرتوپچي باشی" مشهور و، ماخپله له هغه سره لیدلي، هغه راته کېسه کوله چې کله "زار" قتل شو، هغه وخت زه د پوځ د یولوړ رتبه جنرال په تو ګه په "سینټ پیټرس برګ" کې وم ،یوپوځي کډ ک مي ولیږه، چې شاهي مانۍ ونیسي ، اوپه شاهی کتابتون کې د عثمان (رضي الله عنه) نسخه تلاش کړي او بیا يې ماته راوړي ، هغه پوځي تولی لاړ اودعظیم الشان قرآن نسخه يې له خان سره راوړه ، بیا زه خپله د پوځي جنرال په حیث د ریل ګا ډو تم ځای (سټېشن) ته لاړم او هلته مي د ریل ګاډو دیوه جګ پوړي رئس نه د ریل ګاډي دیوه انجن غوښتنه وکړه هغه انجن را کړ، ماپه هغه انجن کې نسخه کېښوده اودخوتوخپلو خلکو په ملتیا کې مي چلونکي ته حکم وکړ چې هرڅومره په تیزۍ سره کېدای شي ، داانجن ترکنستان ته ورسوه ، څو ساعته وروسته کمونست جنرالان خبر شول هغوئ په تعقیب پسې بل انجن اوځوته پوځي صاحب منصبان روان کړل ، خوهغه مهال انجن دهغوئ له لاسو وتلی و ، اوپه دې تو ګه هغه نسخه "تاشقند" ته ویوړل شوه ، کله چې بیا روسیي کمونستانو تاشقند ونیوه ،نوهغه يې دوم وار بیا لینن ګراډ ته نقل نکړه ، چېپه دې تو ګه اوس هم په تاشقند کې خوندي ده ، د "زار" په زمانه کې دعظیم الشان قران ددې نسخې عکس واخیستل شو ، اوپه یو ګز اوږده تقطیع باندي ټولټال يې پنځوس نسخې چاپ کړای شوي ، چې دهغو نسخوڅخه څېنې يې مالیدلي چې اوس هم خوندي دي ،یوه په امریکا کې ده ، یوه په انګلستان کې ده ، یوه دافغانستان په پلازمینه (کابل) کې مالیدلي وه ، یو دمصر په کتابتون کې شته، چې ماسره دهغې "مائکروفلم" هم شته دی ، دایوه نسخه وه، بله نسخه دترکیې د استنبول په "توپ قاپی سرای میوزیم" کې شته چې هغه هم عثمان (رضي الله عنه) منسوب ده ، هغه ما پخپله لیدلې ، دبقره سوره په دې ایت ﴿فسیکفیکهم الله﴾ باندي دوینو سره څاڅکي پراته دي ، ولې عثمان (رضي الله عنه) دتلاوت کولو په وخت کې شهید کړای شو ، دریمه نسخه دلندن په (انډیا لائبریري) کې شته، دهغې عکس هما سره شته ... وربانديرسمی مهر دی ، ددې نسخو په خط او تقطیع کې هیڅ توپیر نشته ، داسې معلومیږي چې دانسخې سره همزولي دي ، دانسخې په کاغذ ندي لیکلي شوي په څرمن لیکلي شوی ، ممکن د عثمان (رضي الله عنه) نسخې وي، یا دهغه زماني ته په نیږدې بله زمانه کې لیکلي شوي وي، خو داخبره مونږ ته دزیات ویاړ اوډاډ باعث ده چې ددغو نسخو او د اوس مستعمله نسخو ترمنځ هیڅ توپیر نشته .

عثمان (رضي الله عنه) ته جامع القرآن ویل کېږي،ددې معنې دانده چې هغه قرآن جمع کړی دی ، ددې تاویل زمونږ تاریخ پوهانو داسې کړی دی ،چې هغه مسلمانان په یوه قران باندي جمع کړل ،دلهجوله پلوه چې کوم اختلاف موندل کېده ، هغه نه دخلکو دژغورلو لپاره يې دمکې معظمې تلفظ دعظیم الشان قرآن لپاره یواځینې تلفظ وګرځاو، اووي فرمایل: چې رسول الله (ﷺ) دضرورت په بنامختلفو قبایلو ته اجازت کړی و، چې په جلا جلا لهجو کې دې لولي ، اوس ددېته اړتیا نشته ، ولې چې دمکې معظمې عربي ادب په ټوله نړی کې رائج شوی دی ، نوپه دې تو ګه يې ټول امت په یوه لهجه کې دعظیم الشان قرآن په لوستو راجمع کړل خدای (جل جلاله) دې دهغه په روح باندي برکتونه نازل کړي.

دویمه پوښتنه:

بله پوښتنه په عظیم الشان قرآن کې څو ځایه الفاظ نشته حروف دي ، مثلا: "الم، حم، عسق، اونور" معلومیږي چې رسول الله (ﷺ) پخپله ددې الفاظو تشریح نه ده کړې ،ولی که کړې يې وای نو وروسته به هېڅکله

چا داجرئت نه وکړی ، چې دهغه په خلاف یې راي ورکړی وای ، اوس پېښه داده چې چې شپېته اویا راي راغلي دي ، الف– فلانی صاحب دا.... وایې ب صاحب دا.... وایې ،له څوارلس سوه کلونه دا ډېر را روان دی ،او پای ته لاندی رسیدلي ،نن هم خلک په اړه یې نوي نوي رای ورکوي او کوښښ کوي چې څانونه ورباندي پوهي کړي ،په راتلونکي کي به هم دا کوښښ روان وي ، زه دخپل ځان ترحده هم دومره ویلای شم چې ماته په دي اړه علم نشته ، سیواه دیوه څېزنه هغه داچې په یوه حدیث کې په دي اړه څه اشاره موندل کېږي ، هغه دا چې یوه ورځ څوته یهودان رسول الله (ﷺ) ته راغلل ، تري وپوښتل ستا دین به تر کوم وخته پاتي وي ؟ رسول الله (ﷺ) ورته وویل : "الم" هغوئ وویل : دیرو شه ستا دین "الف" (۱) "ل" (۳۰) "م" (۴۰) یعنی تریو اویا کلوپوري پاتي وي ، رسول الله (ﷺ) ورته وفرمایل : په ما باندي" الر" المر" هم نازل شوي ، هغوئ وویل : "الر" (۲۳۱) او "المر" ( ۲۷۱) کاله ، بیا رسول الله (ﷺ) ورته وفرمایل : په ما باندي دا؛ دا؛ لفظ هم نازل شوی مثلا: "حم" "عسق" اونور ... تردي چې یهودو وویل : مونږ هیڅ نه پوهیږو اوروان شول ، ممکن ددي لپاره چې رسول الله (ﷺ) اندېښمن کړي، هغسي خواب یې ورکړ... خو په دي کې دي لورته اشاره لېدل کېږي ،چې حروف یو "عددي " قیمت هم لري،څنګه چې تاسي پوهیږئ : الف (یو) ب (دوه) ج (دري) د (څلور) عدد لپاره مقرر دی ، په دي تو که په عربي ژبه کې ۲۸ حروف دي ، دهغونه مونږ په ډیري کاملي طریقي سره تر زروپوری عدونه لیکلی شو ،خو په عددونو کې که کومه غلط فهمي راغلي وي هغه دحروفو په لیکلو سره لري کړو ،یا کله نه کله ددوه ډوله هندسولیکلوته اړتیا وي ،ما اوریدلي چې په سنسکرت کې هم دادود ده ، خو په سنسکرت کې دهجاء حروف د۲۸ نه زیات دي، چې ورباندي ډیر لیکل کېدای شي، خو په هرصورت زمونږ داړتیاوو پوره کولو لپاره زر کافي دي ، داوه دمقطعاتو حروفو په اړه څما دمعلوماتو دحاصل ، اوزه په دي ښه غواړم چې تاسي ته مې ددي څخه زیات معلومات درنکړای شول .

یوه بله پوښتنه ده : ښه به وه چې داپوښتنه نه وای شوي :ځیني خلک وایي باید مسلمانان دااومني چې عظیم الشان قرآن دحضرت محمد (ﷺ) لیکلی کتاب دی، دا دمسلمانان لپاره دزیات ویاړ خبره ده چې ددوئ رسول (ﷺ) یو باسواد انسان و؟

خواب :څنګه چې ماعرض وکړ ، که داپوښتنه نه وای شوي ،غوره به و، رسول الله (ﷺ) که باسواده وای نوایا عزت به یې زیات شوی و؟ یاداچې اُمی وعزت یې ډیر دی؟ باقي خپله قرآن وایي : زه دهیڅ انسان تصنیف نه یم ، زه دخدای کلام یم ، اوفرښتي په دي ګواه دي ، خدای (ﷻ) پخپله شهادت کوي اووایي : ﴿لا یأتیه الباطل من بین یدیه ولا من خلفه﴾ (۴۲–۱۴) پخپله رسول هم پکې زیاتوني نشي کولی، او نه پکې ترمیم کولي شي ، عظیم الشان قرآن ننګونه هم ورکړي ، کومه چې څما په نزد دقران دحقانیت ترټولو لوی ثبوت دی ، دعظیم الشان قرآن ننګونه څوارلس سوه کاله وړاندي هم چا خواب کړی نده ، اونه په راتلونکي کې به څوک خواب کړي ، څما په فکر داخبره کول چې عظیم الشان قرآن (نعوذ بالله ) تصنیف اولیکل شوی ، هیڅکله داسي ندی ، څما په فکر دایوه لویه ناپوهي اوتېروتنه ده.

پوښتنه :دمیرمنو دبعثت په اړه که مونږ دخپل کړي تحقیق نه خبر کړي ؟

په قرآن مجید کې روایت دی، چې الله (ﷻ) نارینه پیغمبران رالیږلي دي ، په دي ایت کې دمیرمنو په اړه دانه دي ویل شوي چې میرمني هم دپیغمبرانو په تو که لیږلی شوي دي ، څنګ چې ما په خپله وینا کې وویل :چې دیهودو په اند ښځینه پیغمبراني هم لیږل شوي ، الله (ﷻ) وایي :چې مونږ هیڅ یوه میرمن دپیغمبري په تو که نده لیږلی ، خو یهودووایي :چې نا ! په دوئ کې نبیه میرمني هم راغلي خو مونږ مسلمانان په دی عقیده یو چې میرمنو ته دنبوت ذیمواري نده ورکړل شوي

دانجیل برناباس په اړه ستا تحقیق څه دی؟

زه پوهیږم چې دعظیم الشان دتاریخ لپاره د "انجیل برناباس" پیژندلو ته اړتیا نشته ، کېسه داده چې برناباس دعیسی (علیه السلام) په لاسو دایمان راوړونکوخلکو څخه یوتن و، یو وخت دهغه ډیر زیات اهمیت و ، د "سینټ پال" نوم به تاسي اوریدلی وي هغه دعیسی (علیه السلام) په زمانه کې هغه ته سخت اذیتونه او تکلیفونه رسولي، اسمان ته دعیسی (علیه السلام) دختو وروسته هغه وویل :ماته دا کشف وشو چې دعیسی (علیه السلام) دین ریښتی دی، هغه وخت یې عیسوي دین قبول کړ، خوخلکو په هغه اعتبار نه درلود، اکثرویلي : دامنافق دی ، دعیسی (علیه السلام) په شتون کې یې مونږ ته تکلیفونه راکول ، اوس ورباندي څنګ باورو کړو؟

برنا باس دحوار یونو څخه و، هغه وویل زه داده یم چې سینټ پال له زړه نه ددوئ دین منلی، لږه موده وروسته د بیت المقدس په ښار کې یوه غونډه وشوه، هلته په دي خبره بحث وشو چې عیسی (علیه السلام) وایي : زه د تورات دیوه ایت د بدلولو لپاره هم نه یم راغلی ،په من او عن سره دهغه منل پکار دي ، دهغه قانون به مونږ پخپل ځای ساتو ، یا ددي لپاره چې خلک خپل دین ته مایل کړو دنرمښت څخه کار اخلو! هلته سینټ پال اصرار وکړچې دتورات سخت قوانین دي نرم کړای شي ، برنا باس یې مخالفت وکړ، او په زیات قوت یې وویل : چې دغه تن منافق دی،خو عیسا یانو د برنا باس داشهادت قبول نکړ،برنا باس یې دمجلس نه بیرون کړ، او دسینټ پال خبره یې اومنله ،د "عهد نامه جدید" په یوه باب کې یې په صراحت دا سره ولیکل : چې مونږ ته د روح القدس له لوری معلومه شوه :چې نور په تاسي دپخوانیو حکمونو منل لازم ندي ،یواځې دځلورو ځیزونو منل لازم دي : یوداچې یوخدای اومنئ،دویم : که د کوم بت په نوم ذبحه و شوه ، هغه مه خورئ ، دریم :فحشاء مه کوئ، په دی تو که یوبل ځیز هم په صراحت سره ذکر شوی دی ، ددي څخه علاوه نور خومره بندیزونه چې و هغه یې ټول لرې کړل ، دهغه مهال راوروسته عیسایان دسینټ پال په رایه عمل کوي ، او عیسی (علیه السلام) ته دا منسوب روایت ګرځانوي : زه د تورت د بدلولو لپاره نه یم راغلی ، هغه په من او عن سره منل پکار دي.

هرچې انجیل برنا باس دی د کوم په اړه چې پوښتنه شوي ده ،هغه په اوس وخت کې موندل کېږي هم ، البته هیڅ یوه پخوانی نسخه یې نه موندل کېږي ، هغه د برنا باس په مورنی "ارامی" ژبه کې هم ندی ، بلکې په اطالوي ژبه کې دی ، دهغه دقلمي نسخې په حاشیه کې ځای په ځای عربي الفاظ هم لیکل شوي.او عیسوي څېړونکي تورپوري کوي چې دا د مسلمانانو له لوري لیکل شوی جعلي انجیل دی ، او د برنا باس انجیل ندی ، زه خپله یې په اړه یې هیڅ علم نلرم ، البته دومره راته معلومه ده چې دانجیل برنا باس دوه نسخې اوس هم موندل کېږي، چې یوه اوس په استرلیا کې وه هغه غالبا اوس هم خوندي ده ، غالبا له دي وجې وایم چې ما ته یقیني معلومات نشته ، دویمه نسخه په هسپانیه کې وه ، کله چې دا استرلیا نسخه دانګریزي ترجمې سره یوځای خپره شوه ،دهسپانې نسخه سملاسي ورکه شوه ، غالبا هغه ضایع کړای شوه ، په هر صورت داولنډ حالات که ما ته شخصا دانجیل برنا باس په اړه معلومات نشته ، سیواه ددي نه چې په هغه کې ځای په ځای داسي الفاظ راوړل شوی دي چې د اسلامي احکامو سره نیږدې سمون لري ، او دعیسایانو ترمنځ چې کوم مروج عقاید دي، دهغو سره زیات توپیر لري ، ددي څخه علاوه ما ته نور علم نشته ، زه دیته ډیر اهمیت نه ور کووم، ولي چې دا ځما دمطالعې موضوع نده ، ځما دمطالعي موضوع ددي نه لرې څه جلاده، بښنه غواړم

د "فارقلیطس" په لفظ که رڼا واچوي ؟

ځواب : دفارقلیطس نه به تاسي خبرېږئ، دایوناني لفظ دی ، معنی یې ده لارښود، په مسلمانانو کې دا اندعام دی، چې دا هغه لفظ دی چې معنی یې ده "احمد "یعني دچا چې زیات صفت وکړای شي ، او په مسلمانانو کې دا خیال غالبا له دي وجې زیات شوی چې دمسلمانانو تر ټولو پخوانۍ سیرت لیکونکي ابن اسحاق په یوه ځای کې راوړي : په پخوانیو کتابونو کې د رسول الله (ﷺ) ذکر راغلي و، دفارقلیطس لفظ په انجیل کې راغلی دی ، چې دهغه معنی ده احمد ، داوه خلاصه ددی کیسی ، زه فکر کووم چې عیسی (علیه السلام وړاندوینه کړی وه ، څنګه چې عظیم الشان قرآن هم منلي ﴿ومبشراً برسول یاتی من بعد ی اسمه احمد﴾ (۶۱-۶) پیرقلیطس یا پرقلیطس دواړه یوناني لفظونه دي ، په دواړو کې ډیزلږ توپیر دی،د " دپیرقلیطس " معنی ده دحمد و ثناء مجسمه یبلکه ! د "احمد" او پرقلیطس معنی ده لارښود، عیسی (علیه السلام) دا وړاندوینه کړي وه چې وروستی پیغمبر به راځي، چې هغه به هادی وي ، یادا چې وروستی پیغمبر به راځي هغه به دحمد وثناء مجسمه نمونه وي ، دواړه یوه نتیجه لري ، هغه وړاندوینه کړي چې مادین بشپړ نکړای شو ، له ما نه وروسته به یوبل پیغمبر راځي ، هغه به دادین بشپړوي ، ددواړو ترمنځ هیڅ تضاد نشته ،ددي ملاتړ دانجیل دځینو کیسونه هم کېږي، مثلا:عیسی یوځای فرمایلي : زه به ژر له دنیا نه لاړ شم ، زیاتوي: ضروري ده چې زه له دی ځایه لاړ شم څو اسماني پلار تاسی ته هغه شخص راولیږي ، چې هغه به هغه څه بیانوي کوم چې ما بیان نکړای شول ، داسي ډیري خبري وي چې هغه به ما تاسي ته بیانولي ،خو ما هغه بیان نکړای شوي، ګکې خبری وي چې ما بیانولي خو دهغو دبیانولو تحمل مي ونکړای شو ، هغه تن به راځي چې هغه به یې تاسي ته بیان کړي ، هغه به ترقیامته له تاسي سره وي ، دانجیل په نورو عبارتونو کې هم دیته ورته خبري راغلي دي ، چې ورڅخه ددي فکر توثیق کېږي خو په دي اړه ځما معلومات هم دومره دي !نور بیا

# دشلکړ فتنه او دعناوینو داستثمار لوبه

قاري حبيب

لويديځ چالاک او شيطاني يرغلګر چې کله هم غواړي خپله کومه شيطاني دسيسه دبريا ترپولې ورسوي ، نـو دخپـل خباثـت دپټولـو او عامـه بـاورونو دتيرايستلو لپاره ورتـه هميشـه دروغجـن خـو جالـب عناوين ټاکي .

دبيلګې په توګه پخواني بريتانيا خپل دنړيوال ځبيښناک او اشغال وزارت تـه د ودانولـو ( اسـتعمار او مستعمراتو وزارت ) نوم ايښی وو ، او دنړۍ په لراوبر کې يې ټول اولسونه داستعمار ترشعار لاندې اشغالول ، او ځبيښل ، اوس چې دنړيـوال ځبيښنـاک وار امريکـا تـه رسيدلی دوی هم دخپلو شيطاني اهدافو دترلاسه کولو لپاره هميشه له همدې طريقې څخه کار اخلي يعني دخپلو ناوليو پروګرامونو لپاره خورا جالب او ټولمنلي عناوين ټاکي .

داشغالګرو دا شيطاني طريقـه کـار لـه دې املـه ډيرمضر دی ، چې د کاميابۍ او ناکامۍ په دواړو حالاتو کې يوه نوع زيان پيښوي ، ځرنګه چې دوی دخپلو منفي پروګرامونو لپاره مثبت عناوين ټاکلي وي ، نـو داويـره ضـرور رامنځتـه کـوي چې خلـک يـې پـه جالـب عنـوان وغوليږي او ديرغلګرو په دام کې ولويږي ، خو ځرنګه چې زموږ اولس په انقلابونو کې پوخ شوی ، او ددښمن هـره دسيسـه لـه ورايـه پيژنـي ، نـو ځکـه ددښـمن پـه دروغجنو عناوينو باندې داولس د خطاء کيدلو احتمال کم دی ، خوځرنګه چې ددښمن دشيطاني معنوناتو لپاره پله پسې جالب او ټولمنلي عنوانونه تبليغ کيږي ، نو ډير ځله خو له ناکامۍ سره سره هم ددې عناوينو په ټولنيز ارزښت او قبوليت باندې بده اغيزه پريوزي .

دبيلګې په توګه لويې جرګه ، دسولې شورا ،ملي اردو او دې ورتـه اصطلاحاتو پخـوا دافغانـانو تـرمنځ ښـه اعتبار درلود ، خو ځرنګـه چې دښـمن دا عناوين دخپـل تبليغـاتي ماشـين پـه زور دخپلـو شيطاني پرواګرامـونو لپاره وضعه او په عامه اذهانو ومنل ، نوځکـه يـې پخـواني اهميـت تـه هـم زيـان واوښـت ، اوس افغانـان پـه دې شرميږي چې څوک ورته دملي اردوعسکر خطاب وکړي ، او په عامه عرف کې هم دغه خلک اهانتا ( مليـان ) بلل کيږي .

اربکي به پخوا افغانانو هغـه اولسي رضاکار لښکر ته ويل چې په سختو حالاتو کې به يې په خيريـه کـارونو کې برخه اخيسته ، غرونه او ځنګلونه به يې ساتل او يا به يـې دوطـن دپولـو سـاتنه کولـه ، مګـر ځرنګـه چـې دغـه

اصطلاح امریکایانو دخپلو محلي مرتزقه اجیرانو لپاره غوره کړه ، اوس هرافغان په دې شرمیږي چې څوک ورته اربکی ووايي ، ځکه چې تردې عنوان لاندې هغه خلک تنظیم شوي چې په ټولنه کې ترټولو تورتاریخ او شرمیدلې ماضي لري ، دامریکایانو لخوا ددې اصطلاح ناسم استعمال په عامه عرف کې په دې اصطلاح دومره بده اغیزه وکړه ، چې اوس ځیني خلک باور لري ، چې اربکی په لغوي لحاظ اصلا تربیه شوي سپي ته ویل کیږي او یوه افغان شاعر خو دې موضوع ته په شعر کې هم اشاره کړې چې وايي .

ددې کلي واړه سپي لیوني شوي
پام طالبه اربکي درپسې مات شول

څرنګه چې اوس دامریکایانو دشیطاني پروګرامونو دتطبیق لپاره نور دسوله ساتو ، ملي اردو ، عامه نظم او نورو اصطلاحاتو غوندې داربکي اصطلاح هم ناچله شوې او دافغانانو ترمنځ یې اعتبار له لاسه ورکړی وو ، نو ځکه یې دوروستی لاس تپونې په دود هڅه وکړه ، چې دخپلو شیطاني پروګرامونو دتطبیق لپاره یوه بله په زړه پورې اصطلاح استعمال کاندي .

په دې لړ کې دسږکال په پیل کې دښمن دغزني ولایت داندړو ( شلګر ) په ولسوالی کې چې کوم مرتزقه وسلوال ( اربکیان ) استخدام کړل ، نو په رسنیو کې یې دیومخیزو تبلیغاتو له لارې ورته د ( اولسي پاڅون ) نوم ورکړ .

دښمن نیت درلود چې ددې نوي عنوان په وضع کولو سره به افغان اولس او نړیوال تیرباسي ، او نړی ته به داسې وښيي چې دادی طالبان ولسي ملاتړ نه لري بلکې په خلاف یې ولسي پاڅون رامنځته کیږي ، دښمن ددې نوي عنوان دتشهیر لپاره خورا پراخ تبلیغاتي کمپاین پیل کړ ، خپلې ټولې راډیویي رسنۍ ، تیلویزونونه او ورځپاڼې یې په دې مأمورې کړې ، چې دشلګر اربکیان د خپلواک اولسي پاڅون په نامه تشهیر کړي ، په خپلو ځیره خورو لیکوالو او صاحب نظرانو یې ددې لپاره دانه ورزیاته کړه ، ترڅو په خپلو لیکنو او څرګندونو سره له اربکی سازۍ څخه ورته ملي پاڅون جوړ کړي ، خو څرنګه چې ( شغال ) په رنګمالۍ سره نه ( شهزاده ) کیږي ، له اربکی سازي څخه ملي پاڅون جوړول هم له پیله یوه محاله فرضیه وه .

افغانان چې خورا سترګور اولس دی ، او همیشه دپوست په ځای مغز او دعنوان په ځای معنون ته ګوري ، خورا زر یې درک کړه ، چې دملي پاڅون په نامه عنوان شوې دشلګر فتنه په اصل کې د چالاک غلیم یوه بله شیطاني دسیسه ده چې غواړي په نوي عنوان او پوښ سره افغانان پرې تیرباسي .

افغانانو لیدل چې دشلګر دملي پاڅون (!) ګډونوال ټول هغه خلک دي ، چې یا دیرغلګرو لپاره جاسوسان پاتـه شوي او یایې په حکومت کې دندې ترسره کړي دغه راز په دوی کې ټول هغه کسان راغونډ شوي چې په ټولنه کې ترټولو بد شهرت او توره ماضي لري ، زیاتره یې داولس لخوا رټل شوي او اوس دوباره له امریکایي ټوپک او جیب خرڅ سره سیمې ته راستانه شوي دي ، دغه راز اولس لیدل چې دوی په منظم ډول له غزني ښار څخه تشکیل کیږي هلته دوی مرکزي دفتر لري چې دکرزي دحکومت دوه تنه لوړپوړي کسان دغزني پخواني والیان ( اسدالله خالد او فیضان ) په کې ناست دي ، دهرنفرلپاره یې ۱٦ زره افغانۍ معاش ټاکلی ، دوی ته دحکومت لخوا وسلې او مخابراتي وسائل تهیه کیږي او بیا شلګر ته استول کیږي .

افغانانو چې د اولسي پاڅون په اړه کومه انتباه درلوده ، دهغه هیڅ څرک هم په دې قضیه کې نه لګیده دبیلګې په توګه افغانانو په لنډه ماضي کې دروسانو ، تنظیمي جګړه مارانو او امریکایانو په خلاف اولسي

پاڅونونه کړي وو ، په اولسي پاڅون کې به معمولا داولس ټولو شریفو وګړو په بلااستثناء توګه شرکت درلود ، پاڅون به دمنورو اشخاصو ، علماء کرامو او قومي مخورو او روحانیونو لخوا رهبري کیده ، او په لږه موده کې به دځنګله داور په شان ځلورو خواوو ته خپور شواو ټول افغانستان به یې په غېږ کې واخیست ، خو دشلګر فتنه چې دټولنې ترټولو پست او لوڅک خلک په کې راټول شوي ، شمیر یې خورا محدود دی ، او تقریبا دشپږو میاشتو په تیریدو سره یې لاهم له خپلې پنځه کیلومترۍ محدودې څخه تجاوز نه دی کړی ، چې دهمدې محدودې دننه هم یوازې دامریکایي ځواکونو دهراړخیز ملاتړ په زور پایېدلي دي ، کنه لا دوخته به دمجاهد او باطل ځپونکي اولس دانتقام په لمبو کې لولپه شوي وو.

له شلګر څخه تازه معلومات وايي چې ددې امریکایي دسیسې ټولې خواووې په بشپړه توګه اولس ته روښانه شوې ده ، امریکایان په پله پسې توګه دخپلو دغو اجیرانو ملاتړ ته دوام ورکوي ، دهغوی ټپیان معالجه کوي او دچورلکو په واسطه یې اکمالات کوي ، له همدې امله اولس هم په پوره متانت ددې فتنې شنډولو ته متوجه شوی ، کوم اولسي خلک چې ددغو نویو اربکیانو دواک په محدوده ساحه کې بند پاته دي هغوی له سیمې وزي ترڅو ددې ظالمانو له ګزند څخه په امن شي ، داندړو ولسوالۍ او غزني به نورو سیمو کې قومي مخورو او علماء کرامو دخلکو دتنویر لپاره غونډې کړې دي او دې دسیسې ماهیت یې ورته توضیح کړی دی .

داچې ځیني رسنۍ لاهم پاڅون پاڅون کوي او دافتنه خورا ستره معرفي کوي دا له انتظاره لرې نه ده امریکایان چې په رښتیني ډګر کې کومه لاسته راوړنه نلري اړ دي چې دخپلو له چتې پورته رسنیو لپاره دخبري سوژو موندلو په موخه همداسې واړه موضوعات ستر کاندي او هغه دچا خبره دمچ له وزر څخه غرونه جوړ کاندي .

**څرنګه چې اوس دامریکایانو دشیطاني پروګرامونو دتطبیق لپاره نور دسوله ساتو ، ملي اردو ، عامه نظم او نورو اصطلاحاتو غونډې داربکي اصطلاح هم ناچله شوې او دافغانانو ترمنځ یې اعتبار له لاسه ورکړی وو ، نو ځکه یې دوروستۍ لاس تپونې په دود هڅه وکړه ، چې دخپلو شیطاني پروګرامونو دتطبیق لپاره یوه بله په زړه پورې اصطلاح استعمال کاندي .**

په ټوله کې ویلی شو چې دشلګر فتنه فقط او فقط دامریکایانو لخوا داربکي کولو یوه عادي هڅه وه ، چې عنوان یې ورته نوی ( اولس پاڅون ) ټاکلی وو ، خو څرنګه چې لمر ته نقاب نه وراغوستل کیږي ، امریکایان هم ونه توانیدل چې دغه شیطاني دسیسه دبریا ترپولې ورسوي ، په دې ښکاره ناکامۍ سربیره امریکایانو داربکیانو دعنوان غونډې داولسي پاڅون عنوان هم نور له لاسه ورکړاو دبل ځل لپاره به ونه توانیږي چې له دې عنوان څخه ناسمه ګټه پورته کړي ، ځکه اولس ولیدل چې دامریکایانو په حضور کې دمجاهدینو په خلاف داولسي پاڅون معنی څه کیدلای شي .

# معیارهای بیگانه

.....مولوي عبدالهادي " مجاهد "

## عوامل اصلی عقب ماندگی مسلمانان

مسلمانان با وجود اینکه پیرو دین برحق هستند ، دینی که الله متعال غیر از آن هیچ دین دیگری را قبول ندار د . ﴿ إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الإِسْلاَمُ ﴾ آل عمران / ۱۹ (یقیناً در نزد الله متعال دین درست و حقیقی ، دین اسلام است ) ﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِيناً فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ آل عمران / ۸۵ .

( هر که به غیر از اسلام در جستجوی دین دیگری باشد هر گز از وی پذیرفته نشود و او در آخرت از زیانکاران باشد ) .

ودر حالیکه کشورهای اسلامی در وسط دنیای آباد ، و در جاییکه لحاظ سیاسی، اقتصادی و استراتیژیک از اهمیت زیاد بر خوردار است موقعیت دارد، وباوجودیکه با گذشت هر روز در تعداد مسلمانان ازدیاد به عمل می آید، ووسائل معیشت شان نیز بهتر می گردد. ولی باز هم کشورهای اسلامی از پنجصد سال بدینسو گاهی تحت سلطهٔ یک کشور متجاوز و گاهی تحت سیطره ویا تهدید کشور متجاوز دیگری قرار میگیرد، و در بین ملل جهان مسلمانان از جملهٔ ملت های عقب مانده به حساب میروند .

این حالت اسفبار اسباب و عوامل زیاد دارد که نه شناختن طبیعت و اصلی ترین و بزرگترین این عوامل خواسته های دین شان است .

زمانیکه مسلمانان به مزاج و خواسته های دین خود میفهمیدند، وبه جهان و انسان از زاویهٔ دید خود شان میدیدند، و درست و نادرست را با معیارهای خود شان معلوم میکردند، و برای خویشتن اهداف، وراه پیشرفت و ترقی را خود تعین می نمودند، در آنزمان مسلمانان نسبت به همه مردم دنیا قویتر و برازنده تر بودند. و بیرق آنها از هسپانیه گرفته تا چین در اهتزاز بود، و مردمان دیگر جهان سعی می کردند تا دین ویا تمدن را از آنها بیاموزند.

ولی زمانیکه تفکر اجتماعی مسلمانان از اثر عوامل گوناگونی تغییر خورد، معیارها و روشهای خود را ترک کرده و به معیارها و روشهای دیگران عمل کردند، نتایج معکوس به بار آمد، ومسلمانان قیادت و سیادت را از دست دادند، و رفته رفته کشورها و ملت های اسلامی یکی پی دیگری تحت تسلط بیگانگان قرار گرفت ، و این حاکمیت اجنبی مسلمانانرا از راه های مختلف وبا استفاده ازوسائل و دسائس گوناگون ، از اراده ، آزدی ، دین ، تمدن ، زبان، تاریخ و فرهنگ خود محروم نمود که مثالهای زندهٔ این محرومیت مسلمانان را در عرصه های زندگانی سیاسی، اجتماعی ، نظامی، تقنینی ، علمی ، وفرهنگی ، به شکل ذیل مشاهده میکنیم .

### ۱ - ساحهٔ حاکمیت

تنظیم امور سیاسی و اجتماعی هر ملت چه در داخل و چه در بخش روابط دوجانبهٔ بین المللی با کشورهای دیگر جهان همواره از طرف حکام و نظام حاکم به پیش برده می شود. از همین جهت تعیین حاکم و چگونگی سیستم حاکمیت در اسلام یک موضوع شرعی و عقیدوی است.

و شریعت اسلامی برای تعیین حاکم به اتخاذ تدابیر و استفاده از روشهای دستور داده که در نتیجه آن حاکم صالح و حاکمیت عادل بمیان بیاید.

فقهاء اسلام برای تعیین و یا عزل حاکم چنان معیارها و قیوداتی را در روشنائی شریعت وضع نموده اند که اگر به آن عمل صورت گیرد جامعهٔ اسلامی در عرصهٔ حاکمیت از اضطرابات وانقلابات اجتماعی برای همیشه در امان می ماند.

از مسؤلیتهای مهم و اساسی حاکم در اسلام تنفیذ شریعت اسلامی، دفاع ازدین و وطن، تامین حقوق فردی و اجتماعی افراد، و دفاع ازحقوق بین المللی مسلمانان در سطح جهان میباشد. اینکه با موجودیت همچو حاکمی تحقق اهداف کشورهای کفری جهان در عالم اسلام ناممکن بود بناءً بابکار گیری راه ها و شیوه های مختلفی معیارهای جدید حاکم و حاکمیت را بر مسلمانان در جهان اسلام تحمیل کردند. که در نتیجه آن چنان نظامها و حکامی بر جهان اسلام مسلط شدند که منافع کشور های کفری جهان را بر منافع کشورها و ملت های خود ترجیح میدهند. این گونه حاکمان وحاکمیتها را در اشکال ذیل دیده می توانیم.

## الف : حکومت های شاهی :-

حکومتهای شاهی در صورتیکه نظام اسلامی را تطبیق نمایند شاید نسبت به حکومت های دیموکراتیک بهتر باشند. زیرا با مرگ هر حاکم اضطراب جدید در کشورها رونما نمی گردد. اما نظام های شاهی که فعلاً در بعضی از کشورهای اسلامی حاکم است اکثریت آنها از طرف کشورهای استعماری بر مردم تحمیل شده اند. از همین جهت همواره تلاش می کنند تا با تامین مصالح و منافع کشورهای استعماری آنها را از خود راضی نگهدارند، تاباشد که برای مدت د وامدار به قدرت باقی بمانند، اگر چه این کار شان به قیمت استبداد، ظلم، و دشمنی با اسلام نیز تمام شود.

گذشته ازین ، قدرت در اینگونه خانواده های شاهی به شکل موروثی از فردی به فرد دیگری به شکل خودکار انتقال مینماید، و این موضوع که آیا در وجود حاکم جدید مواصفات و صلاحیتهای یک حاکم صالح و با کفایت موجود است و یا خیر ؟ در نظر گرفته نمی شود. اکثراً چنین نیز واقع می گردد که کشورهای استعماری ناهلترین و بی کفایت ترین شخص مربوط به خانواده سلطنتی در راس هرم قدرت می نشانند. با کمال بی پروائی منافع کشور و ملت خود را از نظر انداخته و به اشاره های بیگانگان به منتهای حماقت عمل نمایند.

نظام های شاهی امروز از طرف مسلمانان به میان نیامده، بلکه غربیها آنها را حاکم ساخته اند. این حاکمان کشورها و ملت های خود را با زور و اکراه به همان راهی سوق می دهند که غربی ها برای شان تعین کرده اند. وهر که خلاف این حاکمان مفسد صدای اعتراض بلند کند با کمال بی رحمی کوبیده می شود. به زندان افگنده می شود،مجبور به ترک کشورش میشود، ویا کشته می شود. سازمانهای غربی حقوق بشر نیز ازظلم و استبدادهمچو حکام مترقی (؟!!)نه تنها چشم پوشی می نمایند، بلکه آنها به القاب و اوصاف مختلف ستایش نموده و از آنها دفاع می کنند.

اعضای خانوادهٔ شاهی و ولیعهدان آنها اکثراً فارغ التحصیل مؤسسات تعلیمی ودانشگاهای غربی میباشند، و معیارهای فکری آنها از معیارهای غربیها چندان فرقی ندارد، از مردم خود به حدی بیگانه میگردند که در همه ابعاد زندگی با مردم کشورهای خود متفاوت میباشند. ارزش های دینی واخلاقی ملت شان به نزد آنها در مقابل ارزش های غربی از کوچکترین اهمیتی بر خوردار نمی باشد.

## ب : حکومت های کودتائی :

نوع دوم حکومت ها در جهان اسلام، حکومت های کودتائی میباشد که به دست اشخاص و جهتهای متنفذی به وجود می آید که بیگانگان آنها را رشد داده و تربیه کرده میباشند. این حکومتها از لحاظ نظامی و سیاسی از حمایت کشورهای استعماری برخوردار می باشند و اینکه چنین حکومتها از طرف بیگانگان به قدرت رسیده میباشند. اولویت کاری آنها را نیز حفظ منافع بیگانگان تشکیل می دهد. این گونه حکومت ها برای بقای حاکمیت خود چنان نظام و قوانینی به وجود می آرند که در هر حالتی استمرار حاکمیت آنها را تضمین کند. و به این موضوع قطعاً توجه ندارند که آیا این گونه قوانین و نظامها با دین، اخلاق، ارزشهای ملی، و زندگی مدنی، و خواسته های دیگر طبیعی مردم همگونی و موافقت دارد و یا خیر؟

اینگونه نظامهای کودتائی قبل از هر کار به زندانی کردن افرادی که ازآنها خطر نابودی خود را احساس می کنند، می پردازند، و اگر زمانی با قیام عمومی مردم روبرو می شوند، در آنصورت به سوی استعمال بی دریغ سلاح و قوت نظامی رو می آورند. و اگر این کار هم مؤثر واقع نگردد، در آنصورت قوت های بیگانه را به خاک خود فرا می خوانند، و همه دارونداز شان را در اختیار آنها قرار می دهند. جهان اسلام در قرن بیستم میلادی از همین گونه حکومتها رنج بسیار کشیده، و تا هنوز نا قرار است، همهٔ این حوادث رنج آور به خاطری پش می آید که در جهان اسلام معیار های حاکمیت و حکومت بیگانه می باشند
.

## ج : حکومت های نظامی :

در جهان کنونی اسلام بارها چنین واقع شده است که زمانیکه حکومت های غیر عسکری و یا به اصطلاح غربیها( جمهوری ) از تامین مصالح حکومتهای استعماری ناتوان می شوند، و از انجام فیصله های مهم وخطرناک عاجز می مانند، و بیم ازین رود که شاید حکومت و زمام امور به دست قوتهای اسلامی و یا ملی بیفتد. که در آنصورت همهٔ مصالح کشورهای استعماری به خطر مواجه خواهند شد. در همچو حالاتی کشورهای مداخله گر راه را برای کودتا های نظامی هموار می سازند.

در نتیجه کودتا حکومت نظامی به میان می آید که حکومت نظامی همهٔ آن قوانین و نظامی را که تا حدی در آن مصالح اسلامی و ملی محفوظ میباشد، از بین می برد. قوت های استعماری به اینگونه حکومت های نظامی وظیفه می سپارند تا در برابر ملت خود بجنگند و آنعده مردم خود را که مخالف استعمار و مخالف غلامی هستند، بیگانه و دشمنان صلح بخوانند و کشورهای متجاوز و مداخله گر استعماری را لقب دوستان داده و با آنها تحت نام پیمانهای دوستی، امنیت، و پیمانهای استراتیژیکی معاهده های غلامی و ذلت را به امضا برسانند. و سپس اینگونه حکومتها تلاش میکنند تا آنعده آزادی خواهان، متنفذین، و زعمای دینی و ملی را ازبین ببرند که در کشور شان با موجودیت چنین حاکمان نظامی مخالفت می ورزند.

اینگونه حاکمان نظامی به هدف بقای خودشان ددر اینکه قدرت و در راه غلامی اجنبیها همهٔ ادارات مدنی کشور، اردش، منابع ملی اقتصادی. و بالاخره همه چیز را بیرحمانه استعمال می کنند، و خود را از هر نوع حساب دادن به مردم بسیار برتر می دانند.

اکثریت اینگونه حکومت ها در کشورهای ایجاد می شوند که در آنجا مردم به روحیهٔ اسلامی عیار بوده و حرکت های جهادی در آستانهٔ رسیدن به قدرت میباشند. این تجربهٔ شوم چندین بار در کشور های اسلامی در جریان حدود صد سال گذشته تکرار شده است.

## د : حکومت های جمهوری و انتخابی :

اگر چه حکومت های جمهوری و انتخابی در یک نظر سطحی نسبت به حکومت های شاهی استبدادی، کودتائی، و نظامی خوبتر معلوم می شود، اما در حقیقت این نوع حکومت نسبت به همه انواع دیگر حکومتها خطرناکتر میباشد، و اثرات منفی آن نسبت به همه دوامدار تر است. زیرا این نوع حکومتها

بر اساس دیموکراسی غربی، اصول جمهوری غربی، و ارزش های سیاسی غرب به وجود می آیند که با اصول و ارزش های دینی، ملی، اخلاقی، و سیاسی جهان اسلام در تضاد قرار دارند. که چند نمونه ازآنرا به گونهٔ ذیل دیده می توانیم.

۱ - در انتخاباتیکه بر اساس اصول دیموکراسی غربی بر گذار میگردد، انسانها از معیارهای علم، تجربه، عقل، دینداری، و امانتداری دیده نمیشود. بلکه به همه انسانها علی السویه و به یک چشم می نگرد. به طور مثال در انتخاب حاکم ویا در تصویب قانون، رای یک عالم بزرگ و متخصص قانون با رای شخصی که کثافات را جمع می کند، ویا کار و پیشه اش بر داشتن مجالسات پاک کردن بیت الخلاها میباشد.. هیچگونه تفاوتی ندارد. یا به عبارت دیگر، در میان رای یک شیخ الحدیث و مفتی اعظم و رای شخصیکه به خیانت، غداری، و هر نوع بد اخلاقی به سطح ملی شناخته شده و مشهور باشد هیچ فرقی وجود ندارد هر دوی آنها فقط یک یک رای استعمال کرده می توانند. به قطع نظر ازینکه به این قضیه توجه صورت گیرد که در تشخیص مصالح کشور رای یک عالم و مفتی اعظم و قاضی القضات تا چه حد نسبت به رای یک انسان فاسد و بد اخلاق بهتر است.

۲ - در انتخاباتیکه بر اساس دیموکراسی غربی استوار میباشد برای هر فرد کشور پیر و هر دین و عقیدهٔ باشد این حق داده می شود تا برای پست ریاست جمهوری ویا هر وظیفهٔ دیگری کاندید شود. به عبارت دیگر طوریکه در وازهٔ کاندیدشدن بر روی افراد صالح باز است هکذا برای افراد فاسد و مفسدنیز باز می باشد.

واقعیت اینست که درجهان اسلام در عصر حاضر در وازه های کاندید شدن تقریباً نود فیصد بر رخ مردمان صالح بسته گردیده است. بر احزاب اسلامی به بهانه های گوناگون محدودیتها و ممنوعیتها وضع شده، و کارمندان آن از فعالیت باز داشته می شوند. بارها واقع شده که احزاب ویا جهت های اسلامی در انتخابات به موفقیت نایل آمده اند. اما بعدها حکومت های آنها از طریق مداخلهٔ نظامیان ویا از طریق کودتاها از قدرت بر کنار گردیده، و مسؤولین و اراکین آن زندانها افگنده شده اند.

۳ - حکومتهای استوار بر اساس دیموکراسی تصمیم گیری و فیصله ها را به اساس (روابودن) و (ناروابودن) ویا در نظر گرفتن (صلاح) و (فساد) یک شی انجام اتخاذ نمی کنند. بلکه رای اکثریت در آن معتبر دانسته می شود، و هر چه را اکثریت تائید کند جائز و صلاح شمرده می شود اگر چه صد فیصد با احکام دین الله مخالف هم باشد. به طور مثال، اگر اکثریت مردم رای دهند که یک مرد با مرد دیگری ویا یک زن با زن دیگری ازدواج کرده می تواند ویا اینکه سود (ربا) جائز شمرده شود، ویا اینکه زن شوهر خویش را طلاق داده بتواند، و یا اینکه برای شریعت الله متعال هیچ نقشی در زندگی سیاسی و اجتماعی مردم و امور دولت داده نشود. همهٔ اینها بحیث قانون پزیرفته می شوند. و مطابق آن فیصله صورت می گیرد.

به عبارت دیگر گفته می توانیم که دیموکراسی غربی اینرا که قانون و شریعت از طرف الله متعال باشد نمی پزیرد بلکه حق تشریع و تقنین را از آن خود می داند. (جائز دانشتن، وناجائز دانشتن) اشیاء وکارها را حق انسان می داند، و معیار های (حق دانستن) و (ناحق خواندن) اشیاء را نیز خودش تعیین می کند.

۴ - تجربه و مشاهده ثابت نموده اند که در جهان اسلام همهٔ آن حکومت های که خود را جمهوری ویا دیموکراتیک میخوانند بر خط السیر غرب در حرکت هستند، و بر ملتهای خویش نظامها و قوانین غربی را تحمیل نموده اند. و ازین قوانین وارد شدهٔ با زور شکنجه و زندان دفاع مینمایند. جنگ علنی را بر ضد دین الله متعال اعلان کرده اند و به صورت مسلسل و مستمر تلاش می کنند تا در هیچ یک از قوانین کشور، هیچ مادهٔ اسلامی باقی نماند. و اگر بالفرض باقی هم بماند، در راه عملی نمودن آن به حدی شرائط دشوار و موانع قانونی بر پا می کنند که موجودیت آنرا زیر سوال برده و افادیتش را از بین ببرند.

ادامه دارد

# يرغلگر او د ښځو د حقوقو پلمه

حافظ انور

دا مهال چې څنګه د ښځو د آزادۍ په نامه په اسلامي امت کې د نفاق او فتنې را منځته کولو او د ارتداد د جال غوړولو په منظور کوم تېز او تند کمپاین جاري لري دا د موجوده صليبي ائتلاف او يا په يوازې سر د امريکې نوښت نه، بلکې په تيرو څولسيزو کښې هم موږ د دغه شان جرياناتو شاهدان وو:

روسانو او د اشتراکيت دعوتګرو هم هغه مهال چې د نړۍ د تسخير خوبونه ليدل او غوښتل يې چې د نړۍ د هېوادونو تر خپلې خېټې لاندې کولو لپاره څه ظاهري دلائل په لاس کې ولري د ښځو د حقوقو او د ښځو د آزادۍ تر عنوان لاندې شور او غوغا جوړه کړې وه، بلکې د خپل انقلاب د نشأت او آغاز محوري موضوع ئې همدا د ښځو آزادي بلله.. زموږ ګران هېواد ته يې چې کله پښې را اوږدې کړې او د فتنه او فساد ايجاد کولو تصميم يې غوښتل عملي کړي نو د عوام د ښکېل کولو له وسائلو څخه يې يو هم همدا په اصطلاح د ښځو د حقوقو سترغج تو کړی وه چې ملتونو ته يې خپله تحفه تعبيروله. ګمان يې داوه چې ښځه چون د ملت نيمايي برخه تشکيلوي د دې ژېړ او غوړ عنوان په اوريدو سره به د هغوی اکثريت د دوی غير فطري نظام منلو ته غاړه کېږدي، او له بل پلوه چون د هغوی په خېټه او د هغوی د نظام په ترکيب کې جنس بازي او د طبيعي غرائزو غير مشروع اشباع او بې لارې توب زياته ونډه درلوده نو هڅه يې کوله چې په يوه پلمه او بله پلمه ښځې له کورونو څخه را بهر کړي تر څو دوی ته د هوس او خواهش پوره کولو په بازار کې پريماني او بې تکلفي را منځته شي.

تصميم يې درلود چې د غازيانو او مېړنيو په دې وياړلي تاټوبي کې هم د ښځې او نارينه تر منځ د فطري تړاو، فاميلي انتظام، او په انساني تاريخ کې منل شوی او تجربه شوی د کورنۍ او ګډ ژوند ټول اصول له منځه يوسي، صنفي ارزښتونه او د مراتبو موازنه يو مخ په اوبو لاهو کړي. مګر د وخت په تېرېدو معلومه شوه او دوی هم بې وخته د خپلې بې شرمانه ماتې په مهال اعتراف وکړ چې دا د هغوی يوه اشتباه وه، د هغوی د دغه عوام فريبانه هلو ځلو په دې ټولنه کې ډېر معمولي هر کلی هم ونشو بلکې د نارينه تر څنګ ښځو هم د هغوی په خلاف جهاد او مقابله کې تاريخي او له اخلاصه ډکه ونډه درلوده او د هغوی په خلاف يې خپلې هيڅ راز قرباني ونه سپمولې، بلکې د هغو سيمو او ښارونو مېرمنو او نجونو د غولونې په خاطر چې دوی پرې مسلط وه تر ډېرې مودې خپل ټول وسائل وکارول، مګر بيا يې هم کوم ډول لاسته راوړنې ونه درلودې، د مثال په توګه د کابل ښار د مکاتبو، لېسو، پوهنتون او نورو تعليمي او غير تعليمي ادارو په مېرمنو او نجونو يې خپل ټول وس په دې اميد وکاراوه چې هغوی به يې دا تحفه ومني او کم له کمه په دې انقلابي حساسو شرائطو او اضطراري نا اندولو حالتو کې به د هغوی له انوثيت څخه ښېرنې ګټې تر لاسه کړي، مګر سره له دې چې هغه مهال زموږ دغو خويندو د هغوی د دغه سپېره بهير په ګرداب کې قرار درلود او د آزادۍ، ديموکراسۍ، ايډيالوژيکي انقلاب او مادي پرمختګ څخه پر ته نور څه يې نه تر غوږو کېدل بيا يې هم اصل حقائق درک کړل، د هغه فاحش او فاشست نظام شوم او مغرضانه پلانونو

په خلاف یې خپل آواز اوچت کړ حتی په ډله ایزه تظاهراتو یې لاس پورې کړ تر دې چې زندانونه ورباندې ډک شول. په زرګونو پیغلې شهیدانې شوې ټپیانې شوې. خلاصه دا چې نه د هغوی غرض د ښځو آزادي وه او نه د افغانستان ښځې دومره بې شعوره وې چې د مریې او د اصیل د استقلال او استعمار د عفت او بې حیایي د ظلم او انصاف د هوس پرستي او خدا پرستي او د فطري حقائقو او جعلي حقوقو توپیر یې نه وای کړی

غربي نړۍ او غرب نوازو سازمانونو هم د بشري حقوقو او دیموکراسي تر عنوان لاندې همدې موضوع ته ډیر زور ور کړی، ځانونه د ښځو د حقوقو حامیان او د هغوی خواخوږي او آزادي ور کوونکي معرفي کوي. په دې هکله له اسلامي اصولو او فطري واقعیتونو څخه ځان کاملاً بې خبره کاڼه او رانده نیسي. د اسلام فطري او واقعي دین د ښځو د حقوقو په باب عناداً په بې کفایتي او ظلم تورن کوي. کله هم د ځینو سیمو د خلکو له خپلو ښځو سره غیر اسلامي چلند او سیمه ایز دودونو او رواجونو ته اشاره کوي او په دغه باب د هغو خلکو د شخصي بې انصافي نسبت اسلام ته کوي

*وینو چې د اسلام پر حقانیت او بهترۍ، د خاور واچولو په منظور او یا هم د خپلو شومو مقاصدو د ترلاسه کولو په خاطر معاندین. پرغلګر او اسلام دښمنه کړۍ همدغه نارې او سورې. په مختلفو اشکالو د خپلو ذرائعو له لارې د خلکو غوږونو ته رسوي. د اجاره شویو مطبوعاتو او مقبوضه ډله ایزو رسنیو له لارې ، چې همدا او داسې نور مسائل په کوم رنګ او شکل خورول غواړي خوروي یې.*

او په ډیره چالاکۍ او سپین سترګۍ خپل دغه د انحراف او بې حیایي. خورولو دعوت داسې توجیه کوي چې موږ ښځو ته د ژوند له دغو ناخوالو او بدبختیو څخه نجات ور کوو. او بالآخره لا دا چې زموږ د ځینې خویندو او ورونو د غفلت او بې کفایتۍ له امله دغه د تاریخي کر کې او مذهبي تعصب نه ډک تصمیم او فعالیت د مرستې او لورینې په شکل او رنګ کې پر هغوی یو احسان ومني. بلکې غواړي چې د انحراف د دعوت په دغه سپیره بهیر کې ئې له ځان سره همکار کړي او تر دې چې خدا نخواسته د دین او دنیا له زیان سره ئې مخ کړي.

حال دا چې ټول حقائق، د بشر د حقونو او انساني اړتیاوو په اړه تفصیلي معلوماتونه د کائناتو خالق د خپل ربنتیني استازي په توسط انسانیت ته وړاندې کړي او هغوی ، د خپل نبوت په درویشت کلن ژوند کښې د کمښت او زیاتوالي نه بغیر خپل امت ته صفا الفاظو سره بیان کړي دي، د توحید او نورو الهي حکمونو تر څنګ ئې د ښځو د حقوقو په ادا کولو سپارښتنه او ټینګار کړی دی. ښځې ته ئې له تاریخي روان ناقابل برداشت مظالمو او ناروا وو څخه نجات ور کړی. او هغه ئې د عقیدوي او قبیلوي ملامتونکي دودونو. جبر، تشدد او ټولو ناخوالو له معاصرې څخه را ایستلې دي. ښځه ئې د بشر نوعې ته د بشر د دویم او د بشریت له لحاظه مساوي صنف په توګه ور معرفي کړه. د هغې ټول بشري حقوق ادا کول ئې لازمي کړل. علاوتاً د تکریم وقار د ښت او اعزاز ارزښتناکه حجاب او جامه یې ور په تن کړه. د حریت او یکتاپرستي درس ئې ور کړ دغه نازک صنف ته ئې په ډیر کم وخت کې د اکرام او احترام خوشحالي، او اطمینان د راحت او امان ټولنه او پتمند ژوند او چاپیریال برابر کړ. چې د ښځې د حقوقو په هکله د ټولو الهي فرامینو نبوي ارشاداتو د تعمیل او د مساوات او انصاف له حیثه د امت د پاره یوه بهترینه او لامثاله نمونه ټولنه وه.

هغه کسانو ته چې په ناخبرۍ د صیهونیت او صلیبیت له خوا ګمارل شویو حلقو یعني د بشر د حقوقو ځینو ټولنو یا د ښځو د حقوقو ځینو سازمانونو ؟؟؟ سره د ښځو د حقوقو خبره له زړه یا نازړه زمزمه کوي پکار ده چې په دې هکله د اسلامي وجایبو او دستورونو څخه ځان خبر کړي تر څو د کفر او اسلام د دغې نوې ښې جګړې په دغو حساسو شیبو کې د توحید او ایمان خلاف ناتر څخه په امان او خدا ناخواسته د شیطاني لښکر د جال او دام په لومو کښې را ښکیل نشي .

*(دعوت وارشاد)*

# مصر کې د اخوان المسلمین شاندار بری ...!

داحقیقت دی چې هر "عمل ردعمل "هم لري ،له ازل نه د قدرت دا قانون روان دی، چې انسان ته په دنیا اواخرت دواړوکې دهغه دنیک عمل خواږه اودبدعمل تراخه څکي ،دادي لپاره چې هغه دنورولپاره دعبرت نمونه وګرځوي . ترډېري لسیزو دمصر دسرو اوسپینو څښتن، دمصر دډیرلوی مقتدراو ظالم واکمن "حسن مبارک" په اړه دچا په وهم او ګومان کې هم دا نه تېرېده چې هغه به په ژوندانه دولسمشرۍ له مانۍ نه رسوه اوشرمنده شړل کېږي .له محاکمې سره به مخ کېږي او پاتي ژوند به دمرګ په بستره محبس کې تېروي!

همداشان کلونه ، کلونه دحسن مبارک دوحشت د تورزندان دتېوتورو دروازو ترشاه د ازادۍ خوب لیدونکي "محمد مرسي" په اړه هم دچا په وهم اوګومان کې نه راتله چې دمصر په تاریخ کې به یوداسي پړاو هم راځي چې هغه به د محبس دتورو تیارونه راوځي او دحسن مبارک په څوکۍ به کېني !!

یوچا دا څومره ریښتیا ویلي: وخت هیڅکله یوشان نه پاتي کېږي ضرور دهري توري شپې وروسته سپین سبا رادرومي ، نن په مصر کې دالحاد اولادینیت دیوه اوږده تاړاک له دوري وروسته داسلامي انقلاب لمرڅرک کړی . دشپیتو کلو وروسته په لومړي ځل مصر کې دپوځي دکتاتورانو په ځای یوه داسي تن ته مصریانو ۵۱٪۷ فیصده راي ورکړي دچا ماضي چې ددین سره تړلي ده، څوک چې ولسي سړی دی ، څه مهال چې دهغه دبري اعلان کېده دهغه ستر ګي داوښکو له نم ډکې وي ، اوسر په سجده پروت و!دغه مهال دمصر ښار له وخته مخکې تړل شوی و، دالتحریر په میدان کې د"الله اکبر "نارو زمزمې کولي ، دمصرپه لارو اوکوڅو کې دهغه (محمد مرسي)دبري جشن لمانځل کېده!

محمد مرسي دمصر په تاریخ کې هغه لومړی شخصیت دی چې مخامخ دمصر دخلکو لخوا غوره شوی ، نوموړی داخوان المسلمین د ګوند غړی دی، کوم ګوند چې د۹ لسیزو راهیسې پرله

ــ فرهـــاد اتل ــــ

پسي مصر کې دوخت دظالمو واکمنولخواه دتاریخ دلوی جبر اوظلمونو ښکاروه!

داخوان المسلمین تنظیم په ۱۹۲۸ز کال کې استاد حسن البناتأسیس کړی دی ، څوک چې په ۱۹۴۹ز کې دهغه وخت دواکمن شاه فاروق لخواه دفروري میاشتې په ۱۲نیټه دشپې شهید کړای شو، کله چې په هم هغه شپه دهغه دشهادت خبرېې سپین ږیری پلار شیخ عبدالرحمان البناته ورکړل شو،ناڅاپه دهغه خولې ووتل: سبحانک وعدالتک یاربي لقد قتلوا ولدي اي الله ته له هرعیبه پاک یې ستا عدالت حق دی ، خدایه دې ظالمانو څما څوی قتل کړ!هر کله چې سهار پولیسو دحسن البنا شهید جسد دهغه کور ته راوړ هیڅوک یې دهغه جنازې ته ور پرې نښودل اونه یې څوک دتعزیت لپاره ور پرېښودل ، دحسن البنا جنازې ته دهغه ۹۰کلن سپین ږیري پلار ، دحسن البنا میرمنې ،خوراودهغه ۱۸کلنې لوروږي ورکړې اودپولیسو په حصاراو کلابندۍ کې یې قیسوم مسجد ته ویوړه ، هلته یواځې هم هغوئ څوتنو یې جنازه وکړه ،ونورڅوک پکې ګډون کولو ته پرې نښودل شول ، بیا دامام شافعي(رحمه الله) په هدیره کې دفن کړای شو . دنوموړي دشهیدولو وروسته دوخت دجابر حکومت لخواه دهغه دکورنۍ ټول غړي زنځیر اوزولانه کړای شول ، هغوئ ته یې ډول ډول اذیتونه اوتعذیبونه ورکړل ، داخوان المسلمین په ګوند یې بندیز ولګاو، دګوند دسر سړی ټول یې یو ،یو ووژل ،نور یې باغیان اعلان کړل ،عبدالقادرعوده ، شیخ محمد فرغلي ،یوسف طلعت ، ابراهیم الطیب، سید قطب . اوهنداوي دویریې شهیدان کړل ، داخوان یوبل مرشد لاربنودحسن اسماعیل الهضیبي ته یې له وړاندې داعدام سزا اعلان کړې وه ،چې وروسته بیا دعمر په قید باندې بدله شوه ، اسماعیل الهضیبي، محمد قطب استاذ صالح ،ابورفیق عبدالخالق ، زینب الغزالي، دحسن الهضیبي میرمن ، اولورېې ، دسید قطب خوراونور په زر کونو نارینه اومیرمنې یې زندانونه ولېږلې ، هلته یې ورته مختلف اذیتونه

اوشکنجې ور کړي ، داخوان سره داړیکودرلودو په تور یې دهغوئ شتمنۍ ، مالونه ، اوکورونه غصب کړل ، یو لوی شمېر یې جلاوطن اوله مصر نه وشړل ، تردې پورې چې په ظاهره یې دهغوئ دشتون څخه دمصر خاوره وزګاره کړه ! خودمصریانو دذهنونواوزړونو څخه یې دحسن البنا پیغام محوه نکړای شو ! دوخت ظالمو واکمنو دجبر اواستبداددټولو حربو په کارولوهم داخوان مسیر بدل نکړای شو ، هغوئ دستونزو ، ازمائښتونو ، دړول ، ړول مظالمو په وجه ستړي نشول ، دخپل هدف نه لاس په سر نشول ، قیدونو اومرګونو دهغوئ مورال ښکته نکړای شو ، هغوئ دخپلې مبارزې یون ته دوام ور کړ ، تردې چې دروان ۲۰۱۲کال دجون په ۲۴ مه نیټه دهغوئ دهیلواوامیدونو رڼابله شوه ، دقیدونو اوشهادتونوثمره یې دمحمد مرسي دبري په توګه ترلاسه کړه ، دمصرد پوځ سرلښکر مارشال محمد طنطاوي نه یې ټول واک ترلاسه کړ ، خولاهنوز داسلامي انقلاب یون لاښپړ ندی ، دمصرپوځ دلادینیت فلسفې ملاتړی دی ، اونوري الحادي کړی هم محمد مرسي ته په کمین کې دي ، له دې وجې دمحمد مرسي په وړاندې ګڼې ننګونې اوستونزې شته چې هغه به یې خامخا له منځه وړي ، خوښکاري چې محمد مرسي دښې لوړې حوصلې اوتدبر څښتن دی ، اوپه تدریج سره هڅه کوي چې دمصرخلکو ملاتړ له ځان سره کړي ، اویکې داسلامي اصلاحاتو راوستو لپاره په هوښیارۍ سره ګواکمن ګامونه پورته کړي

داخبره حتمي ده چې مصر اوږده زمانه دلادینیت په غیږه کې پاتې شوی ، په ۱۹۵۲ز کې دجمال عبدالناصر دبغاوت نه نیولې دانورسادات اوحسن مبارک پورې په مصر ټوله واکمنې پوځې دکتاتورانو کړي ده ، شپیته کاله وروسته دالومړی موقع ده چې یوداسې تن واک ته رسې چې هغه یوملکي سړی دی ، داسلامي ایډیا څښتن دی ، اوپه بري یې مصر کې اوږدمهاله پوځې واکمنې پړنګه اوپای ته ورسیده !

خو دمحمد مرسي په بري سره غربي نړۍ اوپه خاصه توګه صهیوني رژیم اندیښمن دی ، اوداځکه هغوئ ته دیوه ریښتني مسلمانان بریالیتوب دزغملو ندی ، له دې وجې هغوئ سرله اوس نه داسلامپالو بری دمصر لپاره خطربولي ، اودپروپاګند له لارې داذهنیت شیندي چې اخوان دخلکو دشخصي ازادۍ مخه نیسي ، اوهمداراز یې ددینه وړاندې هڅه وکړه چې دځینو تورونو په لګولو داخوان کردارته زیان ورسوي ، اودخلکو ترمنځ یې دمقبولیت سلنه کمه کاندې ، مثلا: په روان ۲۰۱۲ز کال کې یې ترټولولوی دروغ دا وویل چې اخوان په مصر کې ۷۵۰دولتي ودانۍ اودفترونه سیزلي دي ! خواخوان په ډیر تدبر اوهوښیارتیا سره هغه ټوله دسیسه شنډه کړه ، اوخپله بې ګناهي یې ثابته کړه ، ولې څوک چې دټایرونوسیزل هم بزدلي ګڼي هغه بیا کله داسې کارته لاس اچوي چې له ګټې یې تاوان زیات دی .

داخوان المسلمین پښان په سره سینه دحالاتومقابله کوونکې تنظیم مثال ډیر کم دی ،دغه تنظیم په ډیرونامساعدو شرائطو کې خپل شتون وساته ، اوخپل هدف ته درسیدو پخاطرېې مبارزې ته دوام ور کړ ، په هیڅ یوه موقع یې دصبر، تدبر، اوپوهې هنرله لاسه ورنکړ ، دغربي نړۍ په اند محمد مرسي هغومره ښنسټ پال دی څومره چې حسن البنا ، شیخ عبدالقادرعوده ، اوسید قطب و،خوداچې اوس دمصر دهروګړي په زړه کې داسلامي ولولو پرته بله جذبه نشته اودخلکو قاطع اکثریت اخوان غواړي نوپه ظاهره یې داخوان په وړاندې خنډونه ایجاد نکړل ، البته ورته په کمین کې دي چې کله اوڅنګه ورباندې برید وکړي ، پکاردی داخوان اوسنی قیادت په ښه بصیرت سره ځیر اووسي اوددښمن ټول چلونه اوفریبونه وپیژني ، دشرنه یې دځان ساتلوهڅه وکړي ، له شک پرته داخوان په دې تازه شاندار بري کې ددوئ دمشرانو اولوالعزمي اودهغوئ بې دریغه قربانیورنګ پروت دی

حسن البنا چې په اسماعلیه کې دیوه ښوونځي استاد و، هغه داخوان خوځښت په هر، هر غړي کې یوه داسې جذبه پوکړه چې دهغوئ لوی شمېر اعدام شول ، دزولنو اوشکنجوسره مخ شول خومات نشول ، په شاه نشول دخپل هدف نه لاس په سر نشول کنه یووخت په مصر کې اخوان دژوند حق نه درلود، نن ورځ داخوان دذهانت اوځیر کتیا ازموینه ده چې هغوئ څنګه پخپلو اصولو کلک اولاړ پاتې کیږي ؟ اودغلیم داستعماري دسیسو اوتوطئیو ښکار نه ګرځي! موږ دعا کوو چې داخوان داتازه بری داسلامي امت دبیداری اواتحاد ارمغان شي اوپه مصر کې دیوه سوچه اسلامي انقلاب دبري پیلامه...!

# کرزی او فساد ختمول ...؟

بشاغلی کرزي بیا،بیا په ډیر ټینګار سره وایي :چي خامخا به فساد ختموي او توکیو ته دسفر وروسته خو په بله خبره خوله نه چوله کوي، په هره غونډه او هر ځای دفساد ختمولو غږي پړي وهي، خو ګرم هم ندی ولي که دافغري پري ونکړي غربیان بیر ته خوار کي ته تش کچکول په غاړه کړی، همداوجه ده چې له خولي دتوکیو کانفرانس نه غور څوي او فسادله دیني اواخلاقي پلوه نه غندي چې دهیواد ترقی اودولس سوکالۍ ته ګواښ دی ، بلکي دتوکیو پر ژمنو حواله ور کوي، چي که فسادبندنشو نو بسپنه هم بندیدلای شي. بشاغلی کله نه کله داصطلاحاتو او سوچه توب نعاره هم غږوي خو په عمل کې یې داصلاحاتو څرک هم نه لیدل کیږي ،او داهم دخو پیسو دترلاسه کولوپاره ، کنه ترشا یې کومه بله انګیزه نشته

دده په ادارو کي ۹۵فیصده هغه غرب پلوي دیموکراتان

راټول شوي چي یوه ته هم د صورت اوسیرت دواړو له پلوه افغان نشي ویل کیدای ،نوله داسي خلکونه افغان ولس څنګه د اداري فساد ختمولو توقع کولای شي ؟ دوئ خو راغلي ددي لپاره چي دفساد په سیوري کې خپل جیبونه ډک کړي ، دفساد مخنیوی په هغه نظام کې شوني دی چې د نظام د سر سړي دیانت اوانصاف ته ژمنتیاولري،ولسي ګټي او ملي منافع ور ته ارزښت ولري ،ښکاره ده چې د کرزي دنظام په سر سړیو کې داسي څوک نشته چې ور ته افغاني علیامصالح درښت ولري،څکه هغوئ ټول له غرب نه وارد کړل شوي پرزي دي چې په افغاني چاپیریال کې نه پیت کیږي اوور ته یواځي دامریکا د ګټوساتنه مهمه ده اوځیني نور یې هغه پاټک سالاران ، جنګسالاران او کمونستان دي چې دافغانانو په وینو دهغوئ لاسونه سره دي او ور ته دپیسو په بدل کي انساني کرامت هیڅ ارزښت نلري.

کرزی دقانون واکمني هم غواړي

مانا داچې په تیرو ۱۱ کلو کي دی اودده فاسده اداره دغرب نه تراشل شوي قانون ته چندان پابند نه ول، او ښکاري چې داتشه دخولي وینا ده،هدف یې خلک تیرایستل دي چې ګواکې دی دقانون غوښتونکی دی حال داچې له قانونه په سرغړونه کې کرزي خیل ترټول هرچاپه سوونو واټن لری دي ، دکرزي وروڼه اوخپلوان دنړیوالي مافیالوړپوړي غړي دي ، اوله دي لاري په میلونوډالر ترلاسه کوي دښاغلي داغوره چې جګپوړي چارواکي دي دجنایت کارانو او فاسدومقاماتو له همکاری، نه لاس واخلي خو دیته پام نلري چې جنایت کاروان څوک دي ؟هم داستاجګپوړي چارواکې دي ستاتر شاوخوا راټول خلک له یوه سره ګر دملي خائنان اوقاتلان دي، دخلکو په زورولواو کړولو کې لاس لري ، له هغوئ سره به څه کوي؟

دقاري یوسف احمدي لیکنه

# اسلام او سیاسي اندونه

لیکوال د اسلامی نړۍ متلی عالم مفتي محمد تقي عثماني

ژباړن مولوي نور الله عزام

دسیاست علم کوم نوی فن نه دی ، بلکې داعلم په نړۍ کې له ډېر پخواراهیسي دود دی، که تاسو میبذي یا دفلسفې بل کوم کتاب لوستی وي، هغوی حکمت او فلسفه پردوه ډوله ویشلي ده

**1نظري حکمت 2 عملي حکمت**

دلته مونږ یوازې د "نظري حکمت" په اړه معلومات درکوو چې په هغه کې طبعیات ، عنصریات ، فلکیات او الهیات ټول راځي، دحکمت دوهمې برخې ته چې دمیبذي په سریزه کې راوړل شوې ده "عملي حکمت" وای او هلته بیا همدا حکمت پر دوو برخو ویشل شوی دی ، لومړی "سیاست مدن" او دوهم "تدبیر المنزل" په همدې توګه "سیاست مدن" دعملي حکمت یوه برخه شمېرل کیږي، او د دې په اړه له هغه وخت نه سوچ او فکر او څېړنې کیږي له کوم وخت نه چې فلسفه منځ ته راغلې ده.

**دسیاست لومړنی کتاب:**

زما د مالوماتو له مخې، دسیاست پر موضوع لومړنی کتاب "افلاطون" لیکلی دی ، نوموړی د "سقراط" شاګرد و او له خپل استاد سره یې دزده کړې پرمهال دسیاست په اړه ډېربحثونه کړي و ، او ډېر مالومات یې تر لاسه کړي ول او بیا یې هغه ټول یې زده کړې او پوهه چې هغه مهال وه راټول او په خپل کتاب "جمهوریت" کې یې په مرتب ډول خپاره کړل

ددې کتاب انګریزي ژباړه د "Republic" په نامه خپره شوې ده او ښکاري چې دسیاست په اړه په نړۍ کې دا لومړنی کتاب دی ، ځکه چې افلاطون د عیسی علیه السلام نه شاوخوا ۴۰۰ کاله وړاندې تېر شوی دی، او هغه په دې کتاب کې دسقراط دلاربښوونو ترڅنګ خپلې تجربې او معلومات هم راټول کړي دي زمونږ په کتابتون کې ددې کتاب اردو ترجمه شته، چې کله موهم موکه ترلاسه کړه داکتاب هرومرو وګورئ.

داکتاب دخپل وخت دلیکنې او فکري طرز یوه بیلګه ده،حجم یې ښه لوی دی؛ خود لیکنې طرز ته په کتو پوهېدل یې ډېر ګران کاردی.

دا دکتاب په بڼه په مسلسل ډول نه دی لیکل شوی؛ بلکې داد سقراط او د "اتن" داوسېدونکو ترمنځ دیوه دیالوګ اوخبرو په څېر لیکل شوی دی ، په دې کتاب کې هغه وایي: "ماله پلاني سره ولیدل ، هغه زمانه داپوښتنه وکړه او ما داځواب ورکړ"، او د"افلاطون" دیالوګ اوخبري خو په نړۍ کې نوم لري.

علامه اقبال دمېرمنې په اړه په خپل شعر کې داسې وایي:

وجودزن سی هی تصویرکائنات مي رنګ
اسی کی سازسی هی زندګی کاسوزدرون
مکالمات فلاطون نه لکه سکی لیکن
اسی کی شعلی سی ټوټا شرار افلاطون

پـه دې شـعري کړیـوکې د افلاطـون همـدې مکالماتو ته اشاره شوې ده ځکه چې دهغه ټول کتابونه دمکالماتو (خبرو) په بڼه لیکل شوي دي ، "جمهوریت" کتـاب هـم دخبرو اترو پـه بڼـه لیکـل شـوی دی او پـه سیاست کې دبنسټ لومړنۍ ډبره بلل کیږي ؛ خوپه دې کتـاب پوهېدل او لـه هغـه څخـه کومـه نتیجـه رایستل ګران کـاردی، ځکـه چې د دې کتـاب زیاتره خبرې پـه تمثیلـی بڼـه لیکـل شـوي دي او ځینـې خبرې بیـا ناڅرګنـده لیکل شوي دي ؛ خو دا یـو څرګنـد حقیقت دی چې دا کتاب د سیاست په موضوع کې په نړۍ کې لو مړنۍ ځی لري.او دجمهوریت ویوکی هم په لـومړي ځل افلاطون کارولی دی. له ده نه وروسته د ده شاګرد "ارسطو" راغی، هغه په فلسفه کې دافلاطون شاګردي وکړه او دافلاطون په بې شمیره شاګردانو کې ترټولو لوړ مقام همده ترلاسه کړی دی تر دې چې نن په فلسفه کې دافلاطـون ترنامـه دارسـطو نـوم ډېـر یـادیږي ،نومـوړي دافلاطـون سره ډیـره مرسـته وکـړه ، دهغـه فلسفه یې په ګنو کتابونو کې خپره کړه؛ نو ریښتیاهم چې داو سني سـائنس او فلسـفې ټولـو برخـو بنسـټ ایښـوودونکی ارسطو دی او دسـائنس او روغتیـا چې څومره څانګې دي ، لکه : طب پوهنه ، ژوویو هنه ، ځمکـ پوهنه ، فضاپوهنه ، علم البصریات د دې ټولو علومو بنسټګر ارسطو دی.

دنومـوړي یـو کتـاب د"سیاسـت " پـه نـوم پـه سیاست پو هنه کې هم شته ، د دې کتاب عربي او اردو ژباړه ما تراوسه نه ده ترلاسه کړې او نه هم تر اوسه چاپ شـوې ده ، دارسـطو داکتـاب پـه انګریـزې ژبـه د "Politics" په نوم چاپ شوی دی ؛ خو دا په حقیقت کې دافلاطون د"جمهوریت" کتاب یوه پر مختللې بڼه ده.

لکه چې مخکې مو وویل، دافلاطون کتاب په ناپییلې توګه دخبرو اترو یا ډیالوګ په بڼه لیکل شوی دی؛ خو ښوني ده چې دارسطو کتاب به په سیاست کې لو مړنی منظم او مرتب کتاب وي چې په هغه کې سیاسي نظریات په ډېر ښه او تفصیلي توګه بیان شوي دي

ماتــه ددې کتــاب دیــوې بــاوري برخــې دکتنــې موکه په لاس راغله، دهغې تر کتنې وروسته زه پوه شوم چې په فلسفه او د هغې په تګلاره او بنسټونو کې په وخت سره ستر بدلونونه راځي. موږ چې په میبذي او نورو کتابونو کې کومـه فلسـفه لولـو، هغـه دارسطو فلسـفه نـه ده بلکـې دا دفلسـفې یـوه څانګـه ده چـې وروسته منځ ته راغلې ده او دېته نوې افلاطوني فلسفه وایـي ، میبـذي ، هدیـه سـعیدیه ، او د صدراشـمس البازغه فلسفه په حقیقت کې نوي افلاطونیات دي چې د خپل وخت د بیـان څانګړی طرز اوطریقـه لـه همدې فلسـفې څخـه لـه ورایـه څرګنـدیږي خودارسـطو بنسټیزاصول دنوي افلاطوني فلسفې څخه بیخي بدل دي دهغه پـه فلسفه کې دنظري اړخ پرځای پرعملي اړخ ډېر ټینګار کیږي.

دارسطو د دې کتاب عربي یا اردو ترجمه تراوسه ما نده لېدلې، ریښتیا هم چې هغه دعالمانو دلوستلو شی دی او په لوستلو سره یې سړی مالومولای شي چې ارسطو سیاسـي فلسفه څـه ډول بیـانوي؟ او دا خبـره هـم تـرې څرګندیږي چې زرګونه کاله وروسته خلک کومو نظریو ته نوي او پر مختللې نظریات وایي هغه ارسطو دعیسـی علیه السلام نه درې یا دریمې پیړۍ وړاندې څه ډول بیان کړي دي ؟ اوس هـم دسیاست ټول پوهان پردې یوه خوله دي چې دارسطو کتـاب "سیاست" د وروستیو ټولو نظریاتو بنسټ دی.

لنده داچې دسیاست علم له هماغه وخت څخه په نړۍ کـې شـته دی ، سـقراط ، افلاطـون او ترهغـوی وروسته ارسطو په دې برخه کې ډېر کار کړی دی، دغه

راز د ارسطو له بنسټونو سره سم تر هغه وروسته هم په دې اړه ډېر کتابونه ليکل شوي دي.

خودا ټول خلک، ارسطو دی که افلاطون او که سقراط، هغوی يوازې دخپلو خيالاتو تعميرونه جوړوي او کتابونـه يـې ټـول دخپلـو خيـالـي نظريـاتـو پربنسـټ ليکلي دي؛ خو کله چې مسلمانو عالمانو په دې اړه قلم پورته کړ؛ نو له هغوی سره الحمد لله دقران او سنت رڼاده، هغوی دهمدې رڼا دلارښوونې سره سم په دې برخه کې ډېرډپام وړکارکړی دی، هغوی د "السياسة الاسلامية" په نوم يو ځانګړی فن ايجاد کړ چې په دې فن کې ډېر کتابونه ليکل شوي دي

نو سياست ډېر پخوانی علم دی او له ډېرې مودې راهيسې پردې موضوع کتابونه ليکل کيږي ، زمونږ موخه د دې علم دټولو برخو څيړنه نه ده، بلکې دلته موږ يوازې هغه عملي اړخونو ته کتنه کوو چې نن عالمان ورسره مخ دي ، او موخه مو هغه سياسي نظريات وړاندې کول دي چې دهغو زده کړه اړينه ده ، زه په خپله په ځانګړې ډول سياست پوه نه يم ، زما سره چې څه دي هغه يوازې زما دمطالعې ترساحې پورې محدود دي ، دهمدې مطالعې پربنسټ زه هڅه کوم په دې دوره کې دموضوع هغه اړخونه وڅيړم چې نن عالمان ورسره مخامخ دي ، په دې اړه چې ما کوم غور ځان تيارکړی دی هغه پريو څو مهمو موضوعاتو راڅرخي چې دلته يې په لنډه توګه ذکر کوو، او زه به هڅه کوم ترخپله وسه باوري معلومات درته وړاندې کړم.

**د دې دورې مهم موضوعات**

۱- لومړی موضوع دا ده چې په نړۍ کې رياست يا "State" څه ډول منځ ته راغی ؟ لومړی دکوم انسان په زړه کې درياست جوړولو تصور راوګرځېد، څوک حاکم او څوک به محکوم وي ؟ په دې اړه په نړۍ کې کوم نظريات ډېر مشهور دي ؟

دپورتنيو پوښتنو ځوابول ځکه اړين دي چې په نړۍ کې کوم نظامونه په عملي ډګر کې منځ ته راغلي دي له دې نظرياتو سره به يې په يو ډول نه يو ډول تړاو وي.

۲- دوهمه موضوع چې زه غواړم دهغې په اړه تاسوته څه ناڅه معلومات وړاندې کړم هغه دبېلابېلو رياستي نظامونو پېژندنه ده ، مانادا چې په نړۍ کې څومره رياستي نظامونه دود دي او ددې ترشا څه فلسفه ده ؟ لکه: شاهي نظام ، اشرافيه نظام (دين واکي) ، فاشيزم او سو شليزم ، او دغه راز جمهوري يا ولسواکي نظام او دهغه بېلا بېلې څانګې.

۳- دريمه موضوع د واک چلولو پېژندنه ده، ديوه سياسي نظام تر سيوري لاندې دبېلا بېلو حکومتونو دچلولو مختلف طرزونه وي ، په هغو کې دا وي چې حکومت څه ډول جوړيږي ؟ دحکومت جوړولو له پاره څه ډول اداره منځ ته راوړل کيږي؟ او د دوی ترمنځ يو له بل سره څه ډول مرسته کيږي؟ او اړيکې څه ډول ساتل کيږي ؟ دا او دېته ورته نور، هغه څه دي چې په همدې سره چارې پرمخ بيول کيږي ، له دې نه زمونږ موخه دا ده چې مالومه کړو په نړۍ کې نن کوم ډول حکومتونه روان دي ؟ او کوم نظامونه چې پلي دي د هغو پوره څېړنه، ګټې او د دوی ترمنځ توپيربيان کړو ، دبېلګې په ډول د پارلماني نظام او رياستي نظام ترمنځ څه تو پېردی ؟ څه ګټې او څه تاوانونه لري ؟

۴- څلورم د دولتونو نظام پېژندلو په پای کې داهم درته ښيوو چې دقانون او دستور سرچينه څه شی دی ؟ دغه راز په نړۍ کې د سياسي نظامونو منځ ته راتلو لنډ

تاریخ هم نه هېروو چې دا نظامونه څه ډول را منځ ته شول ؟

تاسو به او رېدلي وي چې صنعتي انقلاب او دفرانس انقلاب دنړۍ دسیاسي نظامونو په بدلو لو کې ډېرځواکمن رول درلود؛ نو ځکه د دې پېژندل هم اړین دي چې دفرانس انقلاب څه و؟ او پایله یې څه ډول شوه؟

۵- پنځم، په پای کې به پردې موضوع خبري وکړو چې دسیاست په اړه اسلام څه لارښووني کوي ؟ عالمانو دسیاست په اړه څه ویلي دي ؟ او بیادا چې په اوس وخت کې داسلامي نظام دپلي کولو او نافذولوله پاره څه ډول نقشه باید جوړه شي چې داسلامي لارښوونو پوره پاملرنه هم پکې وشي او په موجوده وخت کې یې عملي بڼه هم منځ ته راشي

داهغه غورچاڼ دی چې ان شاء الله د همدې پربنسټ به موږ په راتلو نکو درسونه کې درته د خپلې وسې سره سم معلومات وړاندې کړو.

## لومړۍ څپرکی

### دولت څه ډول منځ ته راغی

دسیاست علم دحکومتي نظام بحث کوي، نوځکه سیاستوال او فلیسوفان لومړی پردې موضوع خبرې کوي چې ریاست څه ډول منځ ته راغی ؟ مانا دا چې انسان څه ډول ځان په حکومتي نظام کې راوتاړه ؟ حکومت څه ډول منځ ته راغی ؟ د ریاست پیل څنګه وشو ؟ په دې اړه له لومړي سره بېلا بېل نظرونه موجود دي ، له دې امله چې د دې نظریاتو اغیز وروسته دنظامونو په منځ ته راتلو کې ډېرو؛ نو دلته یې لنډه یادونه اړینه بولم .

پام مو وي چې کوم نظریات موږ بیانوو هغه یوازې دهغو خلکو نظرونه دي چې داسماني لارښوونو څخه بې برخې دي ، دوی هریو د حکومت منځ ته راتلو په اړه د عقل پر بنسټ خپل خپل نظریات وړاندې کوي ، او که څوک کومه رایه دخپل قیاس سره سم وړاندې کوي؛ نو دځینې شواهدو او بېلګو وړاندې کولو کوښښ هم کوي

### ۱.دټولنیز تړون نظریه

دسیاست په اړه چې په عامه توګه کوم نظرونه بیانیږي په هغو کې ترټولو لومړی د "ټولنیز تړون" یا "عمراني معاهدې" نظریه ده چې په انګریزي ژبه کې ورته (Social Contract) وایي . تاسو به د ټولنیز تړون نوم په کتابونو او رسنیوکې ډېر اورېدلی وي ، ددې نظرلرونکي فلیسوفان وایي چې کله انسان پر نړۍ پل کېښود هغه مهال نه حکومت و او نه هم دولت ، هر چا به د کوم واکمن پرته په انفرادي توګه خپل ژوند تېراو چې سیاستوال دا حالت په "فطري حالت" سره تعبیر وي او په انګریزي ژبه کې ورته (State Of Nature) وایي، مانادا چې کله الله تعالی انسان دنړۍ پرمخ وپنځاوه، هغه مهال دژوندانه اړتیاوو دپرمخبېولو له پاره نه کوم دولت و، نه حکومت او نه هم کوم قانون و ، هر انسان به دخپل ژوند تېرولو د پاره خپله ځانګړې تګلاره کاروله او خپلې شخصي ګټې به یې ترلاسه کولې

خو د دې نظریې څښتنان هغه خلک دي چې د الله تعالی د لارښوونو څخه بې برخې و؛ نو ځکه دوی فکر کاو چې د زمکې پرمخ یو وخت داسې هم و چې نه حاکم و او نه محکوم چې همدې وخت ته دوی فطري حالت وایي ، دوی وایي: "څرګنده ده چې په داسې حالت کې به دخلکو ګټې یو له بل سر ټکروې ، دیوه

به ګټه په دې کې وه چې داکار وکړي او دوهم به په هغه کارکې خپل تاوان لیده چې په پایله کې به دخلکو تر منځ جګړې رامنځ ته شوې ؛ نوله همدې امله خلک سره راټول شول چې څه ډول داسې نظام جوړ کړي چې دهر چاګټې پکې خوندي وي او دخلکو ترمنځ دجګړو مخنیوی وشي ، په پای کې دوی ټولو دا تړون وکړ چې ټول به دیوه نظام تر سیوري لاندې ژوند تېروي چې د همدې تړون په نتیجه کې ریاست منځ ته راغی او خپل منځي جګړو او شخړو ته یې د پای ټکی کېښود، په دوی کې یو تن ځان مشر وټاکه او دخلکو دژوند له پاره یې ځانګړي قوانین غوره کړل او ټول خلک یې دهمدې اصولو او قوانینو پر پلي کولو مکلف وګرځول".

نو مانا دا چې خپله انسان خپلو ګټوته په پام سره له یوبل سره تړون وکړ او د ریاست اداره یې جوړه کړه ، د "ټولنیز تړون" اصطلاح که څه هم په (۱۵) پېړۍ کې مشهوره شوې؛ خودهمدې نظریې تصور دپخوانیو فلیسوفانو په لیکنو او حلاتو کې هم موجودو .

خو عجیبه داده چې دهمدې ټولنیز تړون په نتیجه کې دوه بېلابېل متضاد سیاسي نظامونه منځ ته راغلي چې د دواړو بنسټ همدا تړون بلل کیږي ؛ خو لارې یې یو له بل نه بیخي جلا دي ، ددې په نتیجه کې یو مطلق العنان مستبد حکومت منځ ته راغلی دی او بل ولسي حکومت.

ځینې نور بیا د ټولنیز تړون منځ ته را تللو څېړنه داسې کوي: " ددې له پاره چې دخلکو ګټې خوندي وساتل شي، دوی خپل ټول واک ریاست ته وسپاره؛ نو ریاست مطلق العنان واکمن شو چې په همدې توګه دوی پر خپلو ټولو افرادو واکمني کوله"

ددوی استدلال دا و چې دشخص ګټو دټکر په نتیجه کې دې تړون ته اړتیا پیښه شوه ، اوله دې امله چې هر انسان خپلو ګټو ته په پام سره له خپلې دائرې سره سم فکر کوي ، نو دی بایدازاد نه وي چې یوازې خپلو ګټو ته په پام سره تګلاره غوره کړي چې کوم کاربنه او کوم بد دی، ده خپل ټول واک مشر تابه ته سپارلی دی؛ نو اوس چې هغه کومه پرېکړه کوي هماغه به سهي پرېکړه وي، هغه به په هره پرېکړه کې اجتماعي ګټې په پام کې نیسي او په ګټورې او تاوانې پرېکړې هم هغه ښه پوهیږي؛ نو ځکه دهغه اطاعت کول فرض د ی

د مطلق العنان واکمنې ترټولو زیات ملاتړ سقراط کړی دی ، سقراط دیونان په پلازمینه "اتن" کې زېږېدلی او د افلاطون استاد دی ، نوموړي دمذهب او اخلاقوپه اړه ځیني داسې نظریات وړاندې کړل چې له پخوانیو سختدریځونظریاتو سره یې ډېر توپیر درلود .

القطفي په خپل کتاب اخبار الحکماء ۸۷/۱ مخ کې لیکي: "سقراط بوت لمانځنه نه منله، که څه هم دی داخرت له ورځې ځخه منکرو ، دده د ځانګړو نظریاتو له امله دهغه هیواد چارواکو پرېکړه وکړه چې سقراط زموږ دنیکو نو او پلرونوله مذهب او اخلاقو ځخه سر غړونه کړې ده او غواړي زموږ نوی نسل بېلارې کړي ؛ نو باید دی و نیول شي او په دار و زړول شي، په دې سره چارواکو دی و نیو او زندان ته واچاوه او بیا یې د اعدام پرېکړه ورته واو روله ، سقراط به ویل: " ما داخلاقو په اړه ځیني نوي نظریات وړاندې کړي چې له پخوانیو اخلاقي نورمو نو سره تو پیرلري او داکوم جرم نه دی؛ خو زه چارواکو بندي کړم"

سقراط په ولس کې ډېر پلویان درلودل او ډېرو شتمنو خلکو یې ملاتړ کاوو؛ نو د ده پلویان زندان ته ورغلل او هغه ته یې وړاندیز وکړ چې موږ له زندانه ستا دتېښتې پلان جوړ وو ، هغه مهل په یونان کې په هر

ښارکي بېل بېل رياستي نظامونه ول ، د"اتن" واکمني يوازې ترهمدې ښار پورې محدوده وه ، خلکو سقراط ته وويل چې مونږ به تاله دې زندانه وباسو او په بل رياست کې به هوسا ژوندوکړې ، دوی له خان سره د ده د راېستلو ټول وسائل وړي وو ؛ خو سقراط دخلکو دا غوښتنه ردکړه او ورته يې وويل : "زه ددې رياست يو وکړی يم او ماله چارواکو سره د مطلق العنان واکمني په منلو کې ژمنه کړې ده ، دوی چې کومه پرېکړه کوي زه يې منم او پر هغې به عمل کوم او زه پوهېږم چې دوی زما دمرګ پرېکړه کړي ده او دادېره ناوړه ، پرانصاف نه ولاړه او ظالمانه پرېکړه ده ، خو داچې ماله دوی سره په واکمني منلو کې ژمنه کړې ده؛ نو زه خپل پرهماغه ژمنه ولاړيم او دابه نه ګڼم چې له زندانه تېښته وکړم".

هغه مهال داسې قانون وچې چارواکو به دچا داعدام پرېکړه وکړه؛ نو هغه ته به يې په زندان کې په پياله کې زهرورکول ، سقراط د زهرو غړپ وکړ ؛ خوله چارواکو سره تر خپلې کړې ژمنې په شانه شو

د سقراط داکار دتاريخ يوه لويه کارنامه شمېرل کيږي ، چې نوموړي له زندانه دتېښتې ډېرې موکې درلودې؛ خوبيايې هم تېښته ښه ونه ګڼله، او دا له دې امله چې ده له حکومت سره په منلو کې ژمنه کړې وه او نه يې غوښتل چې له خپلې ژمنې په شاشي چې همدا دمطلق العنان واکمني منلو يوه څرګنده بېلګه ده .

تر پنځلسمې زېږديزې پېړۍ پورې د ټولنيز تړون تشريح په همدې توګه کېدله، تردې چې په فرانسه کې دسياسي علومو درې نړيوال پوهان پيداشول ، چې په همدې علم کې هرڅوک پردوی حواله ورکوي

۱. تامس هابس "Thomas Hobbes" ۲ـ لاک "lock" ۳ـ روسو "Roussou" دا درې هغه فليسوفانو دي چې د دوی مفکورې دوروستيو سياستوالو د پاره يو بنسټ وګرځېده او د هغوی ليکل شوي کتابونه د دوی سرچينه شمېرل کيږي ، د دې درې وارو زماني يوبل ته ډېرې نږدې وي. "Hobbes" او "lock" دوارو د ټولنيز تړون په اړه ورته نظر درلود ، دوې ويل: "د ټولنيز تړون په پايله کې چې کومه واکمني منځ ته راشي هغه بايد مطلق العنان واکمني وي او هره پرېکړه يې واجب الاطاعت وي . خودريم تن "Roussou" روسو بيا بېخي بل ډول نظريه وړاندې کړه ، هغه د ټولنيز تړون په اړه داسې وايي: "رياست په خپله منځ ته نه دی راغلی ، بلکې ولس سره راټول شو، په خپل منځ کې يې تړون وکړ او رياست يې جوړ کړ؛ نو هر څوک چې د مشرتابه تر چوکۍ رسيږي په حقيقت کې دهغه د واک سرچينه په خپله ولس دی ، ولس دی مشر کړ او ده ته يې اختيار ورکړ؛ نو ولس مشر بايد د ولس نمايندګي وکړي او دهغوی له خوښې سره سم دچارو واکې پرمخ بوسي ، که دی د ولس له غوښتنو او ګټوسره سم واکمني نه کوي او خپل واک د ولس دګټې پرځای دهغوی په تاوان وکاروي؛ نو ددې معنا داده چې دی په خپله له ټولنيز تړون څخه سر غړونه کوي ، نو دهمدې سرغړونې له امله بايد دی له واکه ګوښه کړل شي، او ولس حق لري چې دی له واکه ګوښه کړي".

"روسو" دا نه مني چې د ټولنيز تړون په نتيجه کې دې مطلق العنان واکمني رامنځ ته شي، دی وايي چې هر ډول واکمني بايد د ولس له خوښې سره سم وکړل شي . او "روسو" هغه شخصيت دی چې دنوموړي دافکارو په پايله کې په فرانسه کې پاڅون وشو چې تفصيل به يې ان شاء الله په خپل ځای درته وړاندې شي . همدا د ټولنيز تړون نظريې غور چاڼ و

## اقصیٰ ته دمسلمانانو په ننوتو بندیز

"سهار"

# دیهودو بل شوم عزم . . . !

هر کال دروژې مبارکې میاشتې په راتلو ټوله اسلامي نړۍ کې دیني اوروحاني ولولې څپې ،څپې وي ،په هر هیواد اوهر ښار کې مسلمانان یوه نوې خوښي اوخوشالي احساسوي ، په مسجدونو اوکورونو کې دلمونځونو ،تلاوتونو اوذکرونو چاپیریال وي ، هرمسلمان کوښښ کوي چې ددې میاشتې مبارک ساعتونه عبث تېر نکړي اوزړه یې دخدای (ﷻ) له یاده غافل پاتې نه وي ، دبل هرموسم اوهروخت په پرتله د روژې میاشتې په راختو په مسجدونو کې دمسلمانانو ګڼه ګوڼه زیاتیږي ،هغه مسلمانان چې وس اوفرصت لري حرمینو ته ځي ،اوهلته درمضان میاشتې ګرانبیه ساعتونه په عبادت اوریاضت کې تېروي!

په فلسطین کې هم هر کال دروژې میاشتې راختل مسلمانان په ښه جوش اومحبت سره استقبالوي چې سږکال هم په لوی شمېر خلکو درمضان میاشتې د راختو سره سم هوډ درلود چې دعبادت لپاره لومړۍ قبلې ته (اقصی) ته ولاړشي ، ځینوهلته داعتکاف تابیانیولي وه اودبیلابېلو ښاروڅخه په لوی شمېر کې راغلیو مسلمانانو غوښتل چې اقصی ته ننوزي، خو ناڅاپه دیهودو دغاصب رژیم عسکروهغوئ اقصی مسجد ته دننوتوڅخه بندکړل، اودڅواک په مټ یې دهغوئ دننوتو مخه ونیوه !

درسنیو دراپوروټو له مخې :داقصی مسجددترمیم اوبیارغوني ټولني (اقصی فاونډیشن) پخپله یوه اطلاع پاڼه کې ویلي :دجمعې په سهار دنیول شوي ښار (بیت المقدس) اودنورونیول شویو ښارونوپه زرګونوتنو ښاریانو(مسلمانانو) غوښتل چې دجمعې لمانځه ادا کولو لپاره اقصی مسجد ته ننوزي ، دصهیوني غاصب رژیم عسکرچې له وړاندې تیارسۍ شوي وه دامنیتي ملحوظاتو په پلمه یې اقصی ته دمسلمانانو دتګ مخه ونیوه ، اوځای په ځای یې ورتلونکې مسلمانان بیرته وګرځول ، په دې ضمن کې دغربي کناري اودشمالي فلسطین هغه په زرګونوتنه مسلمانان چې عمرونه یې ترڅلویښت کلو ټیټ وه، بیت المقدس ته دننوتو څخه وګرځول شول، خوددې باوجود داقصی مسجد ټول میدانونه ، برانډې ، دننه، بیرون غولی اوپوړونه(منزلونه )دلمونځوکوونکودځایولو لپاره بس نشول له دې وجې داقصی فاونډیشن مسؤلین اړشول چې په هغوځایونو د سیوری لپاره خیمې ولګوي چې بې سرپناه او بې بام وه !

په همدې وخت کې دیهودو غاصب ځواکونه چې دمسلمانانو په شړلو اوبیرته ګرځولو لګیاوه یهودي عبادت کوونکې په ډاډمنه توګه هلته دخپلومشرکانه رسمونو په ادا کولو بوخت وه ، هغوئ ته هیڅ ستونزه نه وه یوازې په مسلمانانو ځمکه سورتنور وه، د رسنیوپه

قول په همدي ورځ دغربي كناري دنابلس ښار په "عورتا" نوم كلي كې د۴سوه يهودي كليوو ګړي راټول شوي وه دهارون كاهن په معبد كې يې خپل مذهبي رسمونه ادا كول خوبل پلويې په مسلمانانو بنديز لګولى وچې خپلې لومړى قبلي ته به دعبادت لپاره نه ځي !

لنډه داچې ديهودو غاصب رژيم فلسطين كې په مسلمانانو ځمكه سوتنور ګرځولي ، تردي پورې چې هلته مسلمانان په خلاصو ښنو عبادت ځايو ته هم نشي تلاى، بل پلو داسلامي كانفرانس دتنظيم دښوونې ، ساينس اوكلتوري ورڅوساتندويه اداري دصهيوني رژيم دځارنوال داڅرګندوني په كلكو الفاظو كې رد كړي دي اوپرى نيوكې يې كړيدي ، چې :اقصى مسجد داسرايلي دولت ورڅه يابرخه دى !داسلامي كانفرانس دكلتوري ورڅوساتندويه ټولني لخواه دهغه ددي څرګندونو په غبرګون كې ويل شوي چې اقصى مسجد دمسلمانانوديني ،تاريخي او كلتوري ورڅه ده ، هيڅكله هم داسرائيلو برخه ندى ، اونه دفلسطين دولت سره دكيدونكو مذاكراتو په كوم پړاو كې داقصى مسجد په سرخبري اومذاكرات كېداى شي اونه دفلسطين دولت سره داقصى په سر دمذاكراتوواک شته دى ،يادي اداري دغه اعلان په كلكه غندلى اودهغه څرګندوني يې مكروه ګڼلي ،هغوئ زياته كړيده چې اقصى مسجد اودفلسطين هغه سيمې چې دغاصبو يهودو لخواه په غصب قبضه كړاى شوي ، هيڅكله هم داسرائيل دغاصب رژيم برخه

نه وي اونه به وي ، په اقصى مسجد داسرائيل دعوه دټولو نړيوالو قوانينو نفي اوتري سرغړونه ده ، په اعلاميه كې راغلي :چې اسرئل دولت غواړي د بېلابېلو حيلو اوبهانوپه موندلوفلسطين كې دمسلمانانو اومسيحانو عبادت ځايونه دخپلو تاريخي ورڅوپه توګه وګرځوي ، چې دايومكروه اودغندني وړ كوښښ دى

دفلسطيني چاروكتونكې په دې اند دي چې اسرائل كرار كرار دلومړى قبلي په ځاى دخپل خيالي سليماني هيكل )عبادت ځاى جوړولو لپاره لارهواره وي ،اوكوښښ كوي چې دمختلفو زريعو په كارولو نړى كې مسلمانان دخپلو كړو وړو نه غافل اوناخبر وساتي ، دخپل پرمختګ ټول خبرونه بيرون ته را ونه باسي ،څنګه چې دي مغضوب قوم په مسلمانانوتل ترشا په تياره كې دخنجر ګذار كړى دى نو د سليماني هيكل د جوړولو لپاره هم ديوه داسي چانس په لټه كې دي څوپه ناڅاپي توګه خپل دغه مذموم عزم ترسره كړي ،له دي وجې مسلمانانوته دفلسطين دښخړې په اړه نهايتي آګاهي ضروري ده ، دنړى اسلامي دولتونه بايد په كلكه توګه داسرايل كړه وړه وڅاري او بايد هيڅكله تري غافل پاتي نشي ،څود يهودو ټول شوم پلانونه په نطفه كې خنثى پاتي شي !

# داوباماپټ جنګونه!!

اسلم اميد

په امريکاکې دانتخاباتو پرمهال دداسي کتابو ( چې په هغوکې سرکاري رازونه افشاء کړ شوي وي) دخپرولوموخه له هرنوي ولسمشر سره دلوري په تاکلو کې مرسته کول وي، البته ددغه ډول کتابوپه خپريدوځيني داسي انکشافات بيرون ته راووځي، چې هغه ددينه وړاندي بيرون ته نه وي راوتلي.

په دي وروستيو کې دامريکا يوه ليکوال "ډيوډسانګر" داوباد پټو جنګونو په نوم هم داسي يوکتاب ليکلي، هغه په دي کتاب کې هڅه کړي چې داپه ګوته اوڅيړي چې اوبامادامريکادملي سلامتيا دڅغورلو لپاره څومره جنګونه کړيدي، اوددي هدف لپاره يې په څومره حيرانوونکي توګه دامريکاڅواک وکاروهغه هڅه کړي چې پخپل کتاب کې اوباماامريکايانوته ديوه اتل په توګه وروپيژني.

خوبل پلو ددي معلوماتو بيرون ته راتلل ددي ښکارندويه هم دي چې اوبامادبشريت په وړاندي په بي ساري توګه نه ښونکي جنايتونه کړي، هغه دپټو جنګونو په ډيزاينولو سره نړۍ کې دزرګونو انسانانو دوژلو مرتکب دی، اګرکه ليکوال دالوری له پامه غورځولی اوپواڅې داوباما وحشتونه يې دهغه برياليتوبونه شمارلي، خوهر دازاد ضمير څښتن چې دهغه داکتاب لولي هغه تري خامخادا انکېر نه اخلي چې اوبامادبشريت په ټول وژنو کې دخپل وړاندينۍ (بوش) نه څوګامه وړاندي لاړ دی.

ليکوال داڅېړي چې اوباما په څومره ډراماتيک ډول دډرون بريدونو لړۍ پيل کړه؟او دايران پر ضديې دفشاراچولو سره جګړه څومره شديده کړه؟اګرکه ددي پيل اوبامانده کړی، خوپه پټه دهغوټولو حملود پلانونولو په وجه په ځلونو له هغه نه وړاندي لاړ دکومو حملوډپيل لړۍ چې دبوش په دوره کې شروع شوي وه، دکتاب ليکوال له ځانه هڅه کړي ده چې اوباماديوه داسي کردار په توګه وړاندي کړي، چې هغه دپټو جنګونو په پلانولوسره امريکا وژغورله!دامريکادپټ ځواک په منظمولو اودهغه په بي دريغه کارولويي دامريکاملي سلامتياخوندي کړ!...

ددي جارحانه جنګونو په وجه ډيوډ سانګر له دي پلوه دحيرانتيا ښکاردی چې داوباماپه ماضي کې يې دداسي يوه پلان جوړولو سراغ نه لېدل کېږي!! خوډيوډ سانګر داخلاقي اوقانوني پلوه ددغوجنګونو په څېړ نه سترګې پټي کړي دي،اوپه اړه يې هيڅ تبصره نده کړي، ايادډغو بريدونو له لاري ماشومان، سپين ګېري، اوميرمني وژل داخلاقي اوبشري قوانينو له پلوه روادي؟

سانګر دامريکادپاليسي نه ددفاع کولو په لړ کې ليکلي چې دامريکالخواه په ايران دفشار زياتولو موخه داده چې ايران خامخاداتومي ځواک کېدو څخه په شاشي ،ددي پاليسي هدف دادی چې په اسرايل دفضانه داحتمالي بريدونو پلان شنډ کړای شي، اوهم داسرايل په ضد د جنګ دپيل اندېښني پای ته ورسول شي.

ددي رازونو دافشاکېدو وروسته امریکا کې په دي موضوع بنه تاوده بحثونه وشول او لاپري روان دي، ځیني په دی نیوکي لري چي ولي دومره حساس معلومات بیرون ته افشاء کړای شول؟ اوشوني ده چي داپه راتلونکي کي دامریکا لپاره بني پایلي ونلري، دځینوور ځپانو له قوله دخفیه جنګونو جنونیت دټولي نړی دثبات لپاره ګواښ دی، په دي وجه نړیواله سلامتیا دننګونو سره مخ شوي، هغوئ په نړیوالو غږ کوي چي ددي جنګونو دمخنیوي په غرض دي قوانین جوړ کړي، دوسلوتر لاسه کولو سیالی دي محکوم کړي، دسانګر له قوله اوباما دافغانستان په اړه دامریکا پالیسي تغیر کړه، اودپټو جنګونو لړی اوباما دخپلي ولسمشری په دویم کال شروع کړه، دسانګر په وینا: اوباما په دغه وخت کي حس کړه چي دافغانستان میدان ددوئ دلاس نه په وتو دی، اودوئ پکي دیوی لوی غمیزي سره مخ کېدونکي دي.

چي په دي لړ کي داوباما حکومت دتر هګری ځپلو په نوم دوحشت خپرولو لپاره دسپیشل آپریشن پورسز کمانډ (socom) په نوم تنظیم جوړ کړ چي غرض یي په نړی کي "سریع الحرکت" عملیات پرمخ وړل دي، اونړیوال ړارول دي، خو دامریکا دارادو په وړاندي خنډنشي، په خاصه توګه شمالي کوریا ایران، چین روسیه اوافغانستان تر فشار لاندي نیول اوځارل ددغه تنظیم دجوړولو موخه ده، چي په دي توګه ددي تنظیم دکار اوعملیاتو ساحه ټوله نړی ده، اوپه دي سربیره داړتیا په وخت کي به دخپلو ائتلافیونو نه هم مرسته اوکومک غواړي، اوپه دي تنظیم امریکا هر کال دیرش ملیونه ډالر مصرفوي، چي ددي ځخه دامریکا نهایي بدعزایم په ډاګه کېږی خوددي عزائمو بیرون ته ځرګندیدل ډیر دتعجب وړندي، ولي امریکا په دي اړه پخواځپلي ارادي په ډاګه کړي چي هغه به په هیڅ صورت دنړی اوپه ځانګړی توګه دمرکزي آسیاله معدني زیرمو لاس وانخلي، ددي لپاره په ټول وس افغانستان اومرکزي آسیاکي ځپله سلطه پیاوړي کوي!

لنده داچي دامریکا بدعزایم دنړیوال ثبات په وړاندي جدي ګواښنه ده، او هغه کوي چي دپټو جنګونو دلاري نړی کي ځپل مخالفین دډرون بریدونو اودمخامخ عملیاتو په ترڅ کي له منځه یوسي، دځیړونکو په وینا: ددي تنظیم مرکز په پلوریداکي دی، اوپکي ۶۶ زره خلک کارکوي، چي په هغوئ کي ۵۴ زره ددغو جنګونو په لړ کي دروزني اوښوونی چاري پرمخ وړي، اوپه پاتي ۱۲ زره کي ۹ زره تنه یي په افغانستان کي میشت دي، اودري زره یي دنړی په بېلابېلو هیوادو کي، چي دهغو له جملي یولوی شمېر یي زمونږ په ګاوانډیو هیوادو کي میشت دي، اوعملا دپټو جنګونو ستراتیژي پرمخ وړي، په راتلونکو ۴ کلونو کي به د socom شمېر نورهم زیات شي، ددي ځخه علاوه دامریکا ټول هوايي ځواک، اطلاعاتي مراکز اوجنګي کومندویان ددغه تنظیم سره کومک کولوته هروخت آماده اوتیارسئ کړل شوي ،یواځي ترشل زره زیات کسان په راتلونکي کي یمن کي میشتوي، له هغه وخت وروسته چي جنرال پیټریاس داوباما لخواه دسي ای اي مشر ټاکل شوی ددغه تنظیم په پلانونو اوکارونو کي تیزي اوپراختیا راغلي اودنړی مختلفو هیوادوته یي روزونکي لیږلي ځوهلته دامریکا لپاره په پټه توګه جنګیدونکي وروزي

دهمدي شبکي دلاري امریکا نړی کي خاص اهداف په نښه کوي، دقومونو مخور، علماء، سیاسي اوجهادي مشران په قتل رسوي، اوهم دډرون بریدونو دلاري هغه مجاهدین په نښه کوي ځوک چي دامریکا نه دازادی تر لاسه کولو په غرض په جهاد بوخت دي، ددي عملیاتو لپاره دجاسوسی ځانګړي شبکه خلک روزي هغوئ دمجاهدینو تم ځایونه اومرکزونه معلوموي اوبیایي دپټو بریدونو په واسطه له منځه وړي !

بسم الله الرحمن الرحیم

# ماه مبارک رمضان
# یادآور فتوحات سرنوشت ساز امت اسلام!

به قلم: ابو صهیب حقانی ( هراتی )

در اوایل ماه مبارک رمضان "یان کوبیش" نماینده خاص سازمان ملل از همه ی طرف های در گیر در افغانستان خواسته بود که به احترام این ماه مبارک از جنگ و مبارزه دست بکشند ؛ و بگذارند ملت افغان به اصطلاح در صلح و آرامش به سر ببرند ؛ چه جالب وقتی دشمنان دلسوز می شوند وجالب تر اینکه دشمنان سر شان از حرمت ماه رمضان می شود از کجا معلوم این سخن را دیگران به خارجی ها دیکته نکرده باشد ؛ به هر حال خواسته ی که هر گز مورد حمایت مجاهدین جان بر کف افغانستان واقع نگردید ؛ چون خاک افغانستان در زمان فعلی توسط بیگانگان اشغال شده است و این یعنی تا هر زمانی که این خاک از چنگ دشمنان ددمنش آزاد نگردد جنگ و مبارزه بر قوت خود باقیست و مردان وزنان شجاع و حماسه آفرین افغان کماکان در هر زمان و مکان به جنگ دشمنان آب و خاک شان می روند.

دشمنان ما شنیده اند که ماه رمضان از چه جایگاه و منزلتی در میان مسلمانان برخوردار است ولی مثل اینکه از طبیعت این ماه مبارک آگاه نیستند و الاهر گز چنین پیشنهادی را ارایه نمی دادند ؛ ساختار و طبیعت ماه رمضان بر منوال جهاد و شهادت ، ایثار و فداکاری و فتح و پیروزی رقم خورده است و این ماه در طول تاریخ یادآور خاطرات شیرین پیروزیهای بزرگ و سرنوشت ساز امت اسلام بوده است و هر سال یکبار با تکرار شدن این ماه ، یاد و خاطره ی آن فتوحات سرنوشت ساز هم تکرار می شود و این خود در قلوب مسلمانان انگیزه جهاد ومبارزه تولید می کند ؛ و مسلمانان را به فتح و نصرت ترغیب می دهد و ایمان و غیرت مومنین را در مقابل کفار و مشرکین چند صد برابر می کند .

در طول تاریخ در ماه مبارک رمضان فتوحات و جنگ های سر نوشت سازی در تاریخ اسلام به ثبت رسیده است که مهم ترین آنها عبارت اند از:

1- جنگ بدر در 17 رمضان سال دوم هجری

2- فتح مکه در 10 رمضان سال هشتم هجری

3- نبرد سر نوشت ساز "قادسیه" در زمان حکومت خلیفه دوم امیر المومنین حضرت عمر فاروق -رضی الله عنه- به فرماندهی حضرت سعد بن وقاص - رضی الله عنه - در رمضان سال 15 هجری

4- فتح کشور اندلس به دست فرمانده رشید اسلام حضرت طارق بن زیاد - رضی الله عنه - در رمضان سال 92 هجری

5-نبرد تاریخی "زلاقه"منطقه ای در جنوب اسپانیا فعلی در رمضان سال 479 هجری

6- نبرد "عین جالوت"در رمضان سال 685 هجری به فرماندهی سلطان قطز

7- جنگ "حطین" در رمضان 584 به فرماندهی سردار صلاح الدین

8- "جنگ رمضان1973 " یا نبرد موسوم به "جنگ اکتوبر " که در آن نیروهای مسلمان عربی بر نیروهای صهیونیست غاصب حمله ور شدند ؛ و ارتش عربی از کانال سوئیس عبور کرد و قدرت وهیمنت ارتش اسرائیل را در هم کوبید و با مدد خدا خط "بارلیف"را شکست.

آری رمضان مسلمانان این تاریخ درخشان را در دل خود همیشه زنده نگاه داشته و هر سال که می آید یاد آن روزها را در قلب و ذهن مسلمانان تازه می کند و به مجاهدین و مبارزین حق طلب در جبهه های حق علیه باطل نوید پیروزی می دهد.

جنگ بدر جنگی که نامش قلب ها را به وجد می آورد و خاطره اش باعث تقویت ایمان شده و درجات ایمان را تا عرش کبریا بالا می برد ؛ جنگ بدر جنگی که غرور دشمنان قسم خورده اسلام را همه در یکجا در هم شکست و شان وشوکت و اعتبار ظاهری آنهارا زیر سوال برد و برای همیشه دشمنان را به خاک ذلت نشاند ؛ جنگ بدر جنگی که حقانیت اسلام و برتری آن را بر ابطال کفرو شرک و طاغوت به اثبات رسانید ؛ این جنگ مهم وسرنوشت ساز مصادف شد با روزهای این ماه شریف خداوندی تا به نوعی دیگر بر عظمت این ماه افزوده ؛ و مهر تاییدی بر حقانیت مجاهدین جان بر کف صدر اسلام باشد.

جهاد و روزه هر دو مبارزه هستند یکی مبارزه بر اعدای ظاهری (مثل دشمنان دین خدا یهود، نصاری، مشرکین ومنافقین) ، و دیگری مبارزه بر اعدای باطنی (مثل نفس اماره به سوء و شیطان رجیم) در سنگرهای داغ مجاهدین در میدان بدر این هر دو مبارزه به حقیقت پیوست و مجاهدین سربلند صدر اسلام به فرماندهی پیامبر عزیز اسلام - صلی الله علیه وسلم - در آن معرکه بر هر دو نوع دشمن فائق آمدند؛ وماه رمضان هر سال یادآور آن روز زیبا و به یاد ماندنی است ؛ و دیگر از اتفاقات مهم این ماه مبارک میتوان به فتح ظفر مندانه مکه اشاره کرد که آن فتح بزرگ هم با ایام مبارک این ماه مصادف گردید ؛ واقعا فتح مکه که باعث خوشحالی و خشنودی قلوب مسلمانان صدر اسلام مخصوصا قلب نازنین سرور و سالار انبیاء - صلی الله علیه و سلم - شد فتحی بی نظیر در تاریخ اسلام است و ماه رمضان یادآور آن روز خجسته و با شکوه در اذهان مسلمانان در هر عصر و زمانی می باشد ؛ دشمنان ما اگر به واقعیت این ماه پی می بردند همچین در خواستی بی شرمانه نمی کردند چون وقت شدت و حدت جهاد مجاهدین در ماه روزه

است ؛ ماه روزه ماه به ذلت کشانیدن ستمگرانی است که دست شان به خون مسلمانان در سر ناسر دنیا آغشته است آنهایی که از هیچ ظلم وستمی بر مسلمانان دریغ نمی کنند ؛ ماه رمضان ماه نوید برای مجاهدین است و آنان با توکل به الله – جل جلاله – تا پای جان می جنگند و یقین و باور دارند که به قله های بلند سعادت و فتح وپیروزی می رسند.

دشمنان ما امروز شاهد فتوحات عظیم مجاهدین در سنگرهای داغ جهادی در خاک افغانستان هستند و هر از گاهی از واقعیت ها حرف می زنند و خود سراسیمه به شکست شان اعتراف می کنند.

آری جهاد بر حق مجاهدین بر ضد مواضع دشمن اشغالگر در تمام نقاط افغانستان تحت نام عملیات "الفاروق "همینک جریان دارد و هیچ حد و مرزی نمی شناسد ؛ و دشمن نمی تواند از احساسات پاک ملت مجاهد و قهرمان افغان سوء استفاده کند ؛ و ازآن طرف ، مجاهدین جان بر کف افغانستان از تنوع ترفندهای دشمنان بطور کامل واقف هستند وهر گز به دلسوزیهای مکارانه و بهانه های واهی و خودساخته ی آنها ذره ای توجه نمی کنند ؛ اینکه ماه رمضان احترامش به تجاوز بی شرمانه آنها حفظ می شود و به جهاد بر حق مجاهدین ( که در واقع سد سکندری در مقابل زور و طغیان آنهاست ) حرمت این ماه شریف نقض می شود ؛ همه می دانند که قصد دشمن از این پیشنهاد چیزی جز ایجاد مانع و اتلاف وقت نیست ؛ اما دشمنان ما ، کور خوانده اند چون همانطور که قبلا اشاره کردیم مجاهدین قهرمان کشور در ماه مبارک رمضان بیش از هر زمانی دیگر بر انجام اعمال خیر و عبادت ها می افزایند زیرا در این ماه ، برکات خداوندی بیش از هر ماهی دیگر شامل حال بندگان می شود و از آنجا که فریضه ی جهاد یکی از مقدس ترین اعمال و عبادات است بدون شک بر انجام آن بیشتر اقدام می کنند ؛ و در عین حال جهاد در این ماه را به فال نیک گرفته و با شور و اشتیاق زایدالوصفی بر مواضع دشمنان حمله می برند و تلاش بندگی شان را به خرج می دهند به این امید که توفیقات الله – جل جلاله – و مدد و نصرت حضرت حق نیز بیشتر شامل حال آنها بشود ؛ و یکبار دیگر در همچنین ماهی که یاد آور فتح بدر و مکه است یک فتحی بزرگ و جهانی دیگر در تاریخ مسلمانان رقم بخورد و شکست فرعونیان زمان تکرار بشود.

الحمد لله ؛ عملیات الفاروق ( ملقب به لقب فاروق اعظم – رضی الله عنه – ) که از ابتدای سال روان تاهم اکنون ادامه دارد یکی از بهترین ، موفق ترین ، منسجم ترین ، کارآمدترین و دشمن شکن ترین عملیات هایی است که در طول ده سال گذشته توسط مجاهدین قهرمان افغان به راه افتاده است و تا اکنون چندین بار دشمنان اسلام را به تناقض گویی و اعتراف مبنی بر کارآمد بودن این عملیات واداشته است ؛ و روزانه شاهد صدها فعالیت بزرگ و کوچک تحت این نام بر مواضع اشغالگران غارت گر هستیم و "الفاروق" دشمن مغرور را از پای در آورده است.

پس به امید روزی که برق شمشیر الفاروق برق نگاه دشمنان اشغالگر ما را گرفته و دعاهای افطار و سحر مسلمانان که بخش اعظم شان در حق کامیابی مجاهدین می شوند مورد قبول حضرت حق واقع شده و فتح جهانی برای مسلمانان رقم خورده و خاک مسلمانان از لوث وجود ایادی استکبار پاک بگردد. انشاءالله تعالی

# په سوریه کې دبشارالاسد دواکستني ولړزیدي...!

مفتي حماد

دسوریې دپخواني دکتاتورواکمن حافظ الاسد ځوی بشارالاسد هم دخپل ظالم پلارپه پل ،پل ایښی او دسوري ځمکه یې په مظلومو اوبې دفاع سني مسلمانانو سور تنور گرځولي ده، اوهره ورځ دسلگونوبې گناه مسلمانانود وینو لښتي بهوي...

پوښتنه داده چې دسوري خلکو قصور څه دی؟ یواځې داچې هغوئ خپل حقوق غواړي ! دازادی غوښتونکې دي ! هغوئ دنصیري شیعه بشارالاسد ددولت په ظالمانه قوانینو کې دبدلون اوترمیم په غوښتنه ځانوته دژوند حق غواړي!ایادهغوئ دا غوښتنه : "بشارالاسده واک پرېږده " ناروا ده ؟ایا هغوئ ددي غوښتني له امله ددومره وحشیانه سلوک اوځلند حقداردي ؟

هو! نن بیا دسوري په لارو او کوڅو کې دمظلوموسني مسلمانانو چیغې او کوکاري اوریدل کېږي . بشارالاسد دخپل ظالم پلار ددوري تور کرغیړن تاریخ بیاتکراروي ، اوعجیبه داده چې په کومو لویو او وړوښارونو کې دبشار پلار درزگونو بې گناه مسلمانانووینې بهولي وي نن هلته بشارالاسد دمسلمانانو وینې داوبو پشان تویوي!

په کال ۱۹۸۲زکې حافظ الاسد په "حماه" ښار کې په مسلمانانو دوحشت اوظلم غرونه ونړول ، دیوې محتاطي سروې له مخې یې ددغه ښاردننه اوشاوخوا یې ۳۵زره مسلمانان په شهادت رسولي وه . تردي چې هغه مهال په "حماه" ښار کې دعملیاتو په ورځ یوانسانان هم ژوندي پاتي نه و! دحافظالاسدوحشتگرپوځیان دمړود جسدونو له پاسه گرځیدل ،خودنظام مخالفین وډار کړي، او بیا سرونه نیغ نکړي.

نن په هم هغه ښار کې دهغه وحشي صفت ځوی دهغه دظلم اوجبر تور کرغیړن تاریخ تکراروي . دانسانانو دسرونوله کوپړیو منارونه خیژوي ، خوښکاري داسي چې اوس هغه وخت راغلی چې په شام کې داد ظالم واکمني راوپرځول شي ، اوبریښي چې دسوریې مسلمانان نور په بل هیڅ صورت خپل هیواد کې دلړکیو نصیریانو واکمني نه زغمي . اوخامخا تري ځانونه اوخپله خاوره ازادول غواړي ، ددي پرته په بل څه قناعت نلري .

نیږدي یونیم کال(۲۰۱۱دمارچ په ۱۵نیټه ) وړاندي په سوریه کې دبشارالاسد دظلمونو اوناروا او پر ضد دمسلمانانو لخواه پراخ احتجاجونه پیل شول ،بشار د لاریونیانودمخنیوی لپاره دځواک کارولونه کارواخیست، چې د دې په غبرگون کې په ټوله سوریه کې داحتجاجونه اولاریونونو لړی پیل شوه تردي چې په وسله وال جنگ بدل شول ،دبشارالاسد لخواه دځواک کارولو مقابل کې خلکو هم وسلې پورته کړي ، دادی له هغه مهال راهیسي دشل زره نه زیات خلک دبشارالاسدپوځ لخواه وژل شوي دي ، خو په دې سره دهغوئ ارادي ماتي او کمزوري نه شوي ،بلکې دپخوانه پکې تیزي راغلي ، تردي چې اوس تازه دسوریې په پلازمینه دمشق کې دیوه بریالي چپاو په ترځ کې دبشارلاسد دحکومت ستني ولړزولي ، دهغه ددفاع وزیر "داودراجحه"اود دفاع مرستیال وزیر "اصف شوکت"یې ووژل، "داود راجحه" عیسایي ودبشارالاسدباوری ملگری و، اواصف شوکت بیا نصیري شیعه اودبشارالاسد دکورسړی و، ددي دواړولوړرتبه چارواکو په مړینه بشاردروند ټکان خوړلی ،اوداپه تیر یوه نیم کال کې ترټولو کاري برید وچې دبشارالاسد دحکومت د کار

سړي پکې په نښه شول. ددې څخه علاوه دشام په زياترو لويو او وړو ښـارونو کـې دبشارالاسـد دملاتـړي پـوځ اودشـام دازادۍ دغورځنګ ترمنځ لاس په لاس جګړه روانه ده، او دبشارالاسد پوځ پـه سـنيانو بانـدي سـخت ظلمونـه کـوي ،دخبـري رسـنيو دراپوررونوله مخې؛ په دمشق کې دبشارالاسد دلوړرتبه چارواکو دوژل کيدووروسته هغه ځان پټ کړی دی، اودخپلو نيږدی ملګرو دخښنولو په مراسمو کې يې هم ګډون ونکړای شو

بريښي داسې چې نور په سوريه کې دبشارالاسد مخالف پـاڅون ديـوه پـراخ ملـي پـاڅون بڼـه مونـدلې ، چې لـه املـه يـې دبشارالاسد پـه واک دلړزان څپـه رالوتي ،اوبشارالاسد تـه ژمن څواکونه دهغه له واک نه ددفاع په وروستۍ جګړه کې ښکېل دي ،هم داوجه ده چې اوس دتوپير پر ته هغوئ هر څوک وژني ، اوپه هر لوري دخلکو دوينو ويالي رواني کړي.

دتېـرو مياشـتو جنګونو تـه پـه کتـو ښـکاري چې دبشـار الاسـدځواکونو دشـام دازادۍ غورځنګ دجنګياليوپـه وړانـدي دمقاومـت مـورال اوروحيـه لـه لاسـه ورکـړي وي . لـه دي وجـې لګيادي خپله ټوله غوصه دعاموخلکوپه بي دريغه وژلوسره سړوي ،دروان کال(۲۰۱۲) دجولای په ۱۸مه نېټه دبشارالاسد پوځ دمشق ښار کې دجنازي په ګڼې ګوڼي په بريدکې له سلونه زيات دجنازي ګډونوال شهيدان کړل ، په همدي توګه ددمشق ښارنه بهر په ځينو لويو او وړو ښارونولکه "الحجر الاسود" معره" النعمان" درعه" اونورو ښارونو کې يې دخلکو دوينوويالې روان کړي دي . په ځانګړي توګه دپاڅون کونکو په سيمو کې يې بسته بسته کلي وران ويجاړ کړي ،پکې سړي ،ماشومان ميرمني اوسپين ګيري ديوي مخې ټول شهيدان کړي ،بشارالاسد پخپل پوځ کې د"الشبيحه" پـه نوم يوه ځانګړي قوه لري، چې په هغه کې دنصيريانو پر ته نور څوک نشته، او هم بشارالاسدته زيات وفادار دي ،دهغوئ په تنو توريونيفورم دی ، اوپه وړويې دبشارالاسد انځورونه کښل شوي هغوئ زياتره وخت پټ عمليات ترسره کوي، پـه عمليـاتو کې نيول شوي خلک ذبحـه کوي ، دجون په ۱۵ نېټه همدي وحشتګرپوځ دشپې په "القبير "او "مارزاف" نوم کليو کې ۷۸ کسان ذبحه کړل ،هم داراز د"حوله " په نوم کلي کې دوحشتګرودې پوځي کنډک دځلوبښتو کوچنيانو په ګډون ديوسل اتو تنونه سرونه پريک کړل .

په هر صورت وايي : شپه که هر څومره اوږده وي اخر پسی سپين سبا رادرومي ، په سوريه کې ددغي لړ کی ډلي واکمني په رانسکوريدو ده ، چاچې داوږدي زماني راهيسي په سوريه کې مسلمانان يرغمال کړي دي

دسوري مسلمانانو لپاره تر ټولو ښه مورال ښونکی حالت دتر کيي اوسوري ترمنځ داړيکو ترينګلتياده، چې په دي وروستيو کې دسوريې لخواه دتر کيي ديوي الوتکې پـه رانسکورلو سره دغه ترينګلتيا اوس په ساړه جنګ بدله شوي ده، دسوريې پولي ته څېرمه دتر کيي پوځ خپل نقل وحر کت زيات کړی ،هم دسوريې پولي ته څېرمه يې دپوځيانو شمېر سيوا کړی دی، دتر کيی صدراعظم په جار سـره دبشارالاسـد کړنـي غنـدلي ، اودتر کيـي دالـوتکې دنسـکورلو وروسته خوپې دبشارالاسد حکومت تـه ګوت څنډنه وکړه چې ددي حر کت ډيرلوی تاوان به ژر اداکړي ، دتر کيي ولسمشر عبدالله ګل هم بشارالاسد تـه خبر ورکړ چې دوئ به ترهغي کار کوي څو چې دهغه ماغزه ځای ته نه وي راغلي ، اواعلان يې وکړ چې دوئ په هر حالت کې دسوريې دولس سره ولاړ دي ، اوتري په کلکه ملاتړ کوي

دبشارالاسد په ضد شوی پاڅون چې اوس پـه يوه وسله وال غورځنګ بـدل شوی دی ، اوله امله يې دتر کيي اوسوريي ترمنځ سوړجنګ همـروان دی ،نوتري داقيـاس کـول آسـان دي چې پـه سوريه کې نور دنصيري ډلی دځولسيزو واکمنی تغر پـه ټوليـدودی ، اودسوريې مسلمانان دخپلي ازادۍ منزل ته نيږدې دي ، خوپوتريخ حقيقت لاهنوز شته هغه داچې دبشارالاسد دواک ړنګولو وروسته هسي نه ازادي غوښتونکې دنړيوالي ټولني لخواه دبنديزونو سره مخ شي ، ولي بشارلاسد دنړيوالي ټولنی پـه سترګو کې دسوريې دازادۍ غوښـتونکو نـه زر کـر تـه غـوره دی ، داندېښني وړ داده چې دنصيري فرقي نه دازادۍ ترلاسـه کولو وروسـته دسوريې خلک دنړيوالي ټولني په څېره کې ديوه بل ښکېلاک دزېښناک ښکارنشي ؟ دعاده الله (ﷻ) دې وکړي چې داسې ونشي!

# مولوي نه ، بلکې خپله مایکل سمپل دی !!

........خبیراحمد ......

د بریتانیا (نیوستیټسمن) مجلې په دې ورستیو ورځو کې دطالبانو دیوه مهم قومندان په نامه هغه ځرګندونې چاپ کړې چې دمجلې په خبره پخواني ایرلنډي ډیپلومات او کارپوه مایکل سیمپل ورسره مرکه کړي اودمرکې په اوږدو کې طالب قومندان منلي چې د جګړې له لارې دطالبانو د بریالیتوب احتمال نشته.

دغه طالب قومندان، چې یوازې مولوي بلبل شوی، مایکل سیمپل ته ویلي، چې د طالبانو لپاره ان د جګړې ګټل ناممکن دي، د کابل نیول خو ډېره لېرې خبره ده.

تر ټولو خوږ ومبی باید دمایکل سیمپل په باب لږاوډیر معلومات لوستونکو ته وړاندې کړو چې هغه څوک ده .دافغانستان په اړه یې ددلچسپی انګیزه څه ده او څه ضرورت لري چې داسې مرموزي ،شکمنې اوبې هویتي مرکې خپرې کړي !

مایکل سیمپل ، چې دانګلستان یوپخوانی اوسابقدار ډیپلومات دی ، په ایرلند کې زیږیدلی ،له نوروژبو سره سره په پښتو او دری هم رواني خبري کولای شي. مایکل زیاته دلچسپي لري چې دنړې په خطرناکو سیمو کې ووسي او دهغوځایونو معلومات راټول کړي

نوموړی دافغانستان له جغرافیې ،قومونو ،ملتونو ،عنعناتو اوسیاسي اوښتونو سره له نیږدې بلد او په اړه یې کافي معلومات لري ، هغه په افغانستان کې دمجاهدینو اوطالبانو په مهال ډیروخت تیر کړي او دخیریه موسسو په ادارو کې یې بیلابیلي دندې اوماموریتونه سرته رسولي

مایکل سیمپل ،دطالبانو دواکمنې پرمهال دمخالفې ټلوالي په سیمو کې ( شمال او مرکزي ) ولایتونو کې دنړیوالو بشري مرستو رسولو په ادارو کې ماموریت درلود ، مایکل چې اصلي دنده یې استخباراتي وه اوبشري هڅې یې تنها پلمه ګرځولي ،په دې وتوانید چې داکسفام موسسي دیوه کار کونکي په صفت دطالبنو په اړه یوداسې فلم ترتیب اوتهیه کړي کوم یې چې غرب ارزودرلوده ، یاني په دغه فلم کې مایکل په لوی لاس داسې صحنې راجمع کړي وي چې له امله یې دغربي نړی اوطالبانو ترمنځ واټن نور هم زیاتاوه او غربي تبلیغاتي ماشین ته یې دطالبانو په ضد دپروپاګند ډیر خام مواد په لاس ورکول ، همداغه و چې طالبانو مایکل سیمپل اودده ملګری ( ماروین ) په دې

تور چې غرب ته جاسوسي کوي اودطالبانو په اړه نړی ته بدذهنیت خوروي له افغانستان څخه دوتلو امرو کړ

مایکل سیمپل ، د۲۰۰۱ کال له پیښو او تحولاتو ورسته بیا افغانستان ته مخه کړه او دملګروملتونودهغه وخت خاص استازي ( لخضرابراهیمی ) نوموړی خپل مهم مشاور وټاکه او داسې ویل کیږي چې داضطراري لویې جرګې په تدویر اوبرخوالو په انتخاب کې دمایکل سیمپل رول او نقش دابراهیمي په تیم کې تربل هرچا کلیدي وو

سیمپل او ماروین ، دملګروملتونواو اروپایي اتحادیي له دفترونوسره هم تریبوې مودې پورې کاروکړ .بیا یې د۲۰۰۶او ۲۰۰۷ کلونو کې هڅه وکړه ترڅو دطالبانو په لیکوکې درزونه واچوي او دطالبانو څینې قومندانان دخپل قیادت په هکله بې باوره کړي .خو دغه کار هم ورته کومه نتیجه په لاس ورنکړه په پای کې مایکل هڅوکړیوته چې دطالبانودتفرقې لپاره یې ورته دنده او امکانات په لاس ورکړي تش لاسی اوبې اعتماده ثابت شو .بله رسوایي داوه چې کرزي هم سترګې پرې رابرګې کړي او په یوه نمایشي اقدام کې یې مایکل سره له خپل ملګري له افغانستان څخه وشاړه ، یانې مایکل ددوهم ځل لپاره له افغانستان څخه دجاسوسی په تور وویستل شو!

پورته لنډې ارزوني ته په پام اوس ویلای شو چې مایکل سیمپل په افغانستان کې دخپلې لنډې اواوږدې استوګنې په موده کې که څه هم په ظاهره یې افغانانو ته ځان یو دیپلومات ، ژورنالیست او دبشري مرستو دانسجام مامور معرفي کاوه ، خو په اصل کې نوموړی هیڅکله داسې یوکس نه وو ، بلکې هره هڅه یې جاسوسي رنګ او هدف لاره او دیوشمیر معلوماتوپه بنسټ مایکل دانګلستان اوامریکا دڅارګرو شبکو یوګډ او مشترک ایجنټ وو

داچې اوس سیمپل په افغانستان اوسیمي کې له سره ترنوک پوري رسوا او هرڅوک یې دیوه پیژندل شوي جاسوس په صفت پیژني ، نوافغانستان اوسیمي ته یې تګ او راتګ او کوم څرګندماموریت امریکا اوانګلستان ته دګټې په ځای څرګندزیان اونوره رسوایي زیږوي ، همدا علت دی چې ښایي مایکل ته خپلو دغواربابانو صرف دادنده ورسپارلې وي چې هغه دمرموزو او جعلي مرکو او له ابهامه ډکو افواهاتو په خپرولوسره په افغانستان کې دطالبانوپه خلاف یوه رواني جګړه روانه وساتي او په افغانستان کې هغه روان مقاومت چې طالبان یې مشري کوي او دتیرو یولسو کلونوپه اوږدو کې یې دغرب جنګي او مالي ماشین له یوه تل پاتې چیلنج سره لاس اوګریوان کړی او دامریکااوبرتانیاپه مشری یې دناټو هرډول پوځي حربي او ستراتیژیاني دړې وړې کړي دجعلي او بې هویتي مرکو په مټ په هغوپرده واچوي په ضمن کې نړی او افغانانو ته داسې وبریښوي چې طالبان له جګړې ستړي او غرب په افغانستان کې برلاسی دی !

ولې مایکل .باید هیڅکله دغه هڅه اوځانته دوکه ورنکړي ، ځکه نن هرڅوک په دې پوهیږي چې طالبان له یوې ورځې بلې ته قوت او روحیه اخلي ستړیاخوپه ځای پریږده ؟ مایکل باید ځان پوه کړي چې په افغانستان کې دامریکا اوبرتانیا دپیل کړي نارواجګړې .لوی متحدین لکه .فرانسه ، کاناډا، استرلیااوالمان لدغې جګړې پښې سپکې کړي او دناټو نورغړي هم دتیښتې په حال کې دي

مایکل نه ویني چې له یوشمیر ښارونو پرته په پاتې افغانستان دچا واک اوسلطه چلیږي ، لویې لارې .غرونه اورغونه اوولسي سیمې څوک اداره کوي ؟ او له بل پلوه داهره ورځ دهغې ملي اردو له لیکونه چې امریکا اوغرب پرې ملیاردونه ډالرولګول ترشایې کومه روحیه اوانګیزه ده چې په امریکایي اوغربي افسرانو اوجنرالانو تنکې عسکردخپلو وسلو جججوري خالي کوي اویا هره ورځ په درځنو دملي اردو ځوانان خپلې لیکې پریږدي او مخالف لوري ته تسلیمیږي !!

مایکل څه وایي چې لدغوڅومثالونو دطالبانودقوت اوځواک کچه نشي معلومیدلای اوداخبره نه په ګوتوکوي چې طالبان په افغانستان کې برلاسي او غربي قواوي دسقوط په حالت اولښکرې یې دروانې مهلکو ناروغیوپه ګرداب کې لاهودي ؟

مایکل باید پوه شي چې دده په ګوتو جوړ طالب قومندان چې هغه ورته ( مولوی ) وایي هیڅکله طالب قومندان اومولوي ندي بلکې خپله مایکل سمپل دي!

لیکوال: نامتو مفسر او محدث مولانا صوفي عبدالحمید (سواتي رح)

ژباړه: شمس

څلورمه برخه

# حضرت سلمان فارسی رضي الله عنه

سلمان فارسی (رضي الله عنه) د رسول الله (ﷺ) په جلیل القدر او مشهورو صحابه وو کې شمار دی، د نوموړي د ژوند حالات په "مسند احمد"، "حلیة اولیاء"، "جمع الفوائد" او د حدیثو په نورو کتابونو کې په نیمه تفصیل راوړل شوي دي، سلمان فارسی (رضي الله عنه) صهیب رومی (رضي الله عنه) او بلال حبشی (رضي الله عنه) درېواړه عرباڼ نه وه، د حدیثو کتابونو کې د درېوارو د فضیلت په اړه د رسول الله (ﷺ) کڼ ارشادات خوندي شوي او درېواړه (رضي الله عنهم) د ډېرو لویو تکلیفونو او ازمایښتونو له زغملو وروسته رسول الله (ﷺ) ته رسېدلي، البته سلمان فارسی (رضي الله عنه) پخپل ژوند کې ګڼ حیرانوونکې پېښې هم لیدلي او تر اوږدې مودې ژوندی هم و.

### داسلام دځلانده لمر راختو په مهال نورادیان:

سلمان فارسی (رضي الله عنه) ایرانی و، پخوا ایران ته فارس ویل کېده، په دې وجه نوموړی په "سلمان فارسي" (رضي الله عنه) بلل کېده، د نېږدې زر کاله قدیم فارس پلازمېنه "مدائن" و، د دې سیمې خلک مجوسیان وه او داور عبادت یې کاوه، څوک چې څانونه دابراهیم (علیه السلام) د زماني یوه مشهور سړي (زردشت) (یا رزتشت) ته منسوبوي، په دې ورته زردشتي یا زرتشتي ویل کېږي، زردشت دیوه کتاب (بند راوستا) څښتن و، خدای (جل جلاله) ښه پوهېږي چې هغه څنګ کتاب و، داهم کېدای شي چې اصلي کتاب به صحیح و، وروسته یکې تحرف شوی وي، څنګ چې په تورات کې یهودو او عیسایانو بې شمېره تحریفونه کړي، هم داسې د هندوانو کتاب "ګیتا" دی کوم چې "رام چندرجی او کرشن" ته منسوب دی، پکې د توحید ذکر هم و، خو پیروانو یې پکې وروسته مشرکانه عقاید ننویستل، خو بیا هم په بشپړ وثوق نشي ویل کېدای چې د هندوانو کتابونه لکه "ګیتا، منوسمرتی، او چاروید" کوم اصلیت هم لري او که نه ؟

داپنځه شپږ زره پخواني خبرې دي، موږ یې نه تصدیق کولای شو او نه تکذیب، په همدې توګه د "مها تما بده" په باره کې څه نشي ویل کېدای چې ایا هغه دهري و، او که د کوم دین تابع و، په حقیقت الله (جل جلاله) ښه پوهېږي، "لاتصدقهم ولاتکذبهم" موږ نه د دغو کتابونو د صحت په باره کې څه وایو او نه یې د ناسموالي په اړه؛ تورات او انجیل الله (جل جلاله) په پیغمبرانو (موسی او عیسی) باندې نازل کړی وه، خو پکې تحریفونه وشول، چې د تاریخي اسناد و له مخې یواځې په انجیل کې یې د دري زره محرفي خبرې ننویستې، غرض دا چې سلمان (رضي الله عنه) په نسل ایرانی و، او پلار نیکه یې مجوسیان ول.

### دسلمان (رضي الله عنه) دزوکړې وطن:

سلمان فارسی (رضي الله عنه) پخپله خپل حالات ویلي دي، چې په بېلا بېلو روایتونو کې راغلي، هغه دایران د اصفهان ولایت اوسېدونکی و، د کلي نوم یې "جيّ" ، چې د "رام" په نوم سیمې هرمز (اوسني بندر) ته نېږدې

پروت دی ، ورته په دي وجه "هرمزي او اصفهانی" هم ویل شوي ، پلار یې مجوسي ، او دخپل کلي مشر کووند کړ و چې په دي ورته ددنیاوي او دیني دوارو پلوه اثرو رسوخ په برخه وه ، هغه ددي څخه علاوه چې د کلي مشر هم و ، د "اتشکدي" واک هم ورسره و ، هغه غوښتل خپل یوسر خوی ته ددیني او دنیاوي دوارو پلوه ښه روزنه ور کړي ، لومړی یې دسیمې په کچه دمجوسیت روزنه ور کړه ، او تل یې ورته په مجسویت دعمل او استقامت توصیه هم کوله .

## دمجوسیت نه دعیسویت په لور:

پلار یې هره ورځ د کرهنې دڅار لپاره له کوره وت ، یوه داسې مرحله راغله چې هغه د کور جوړولو کار پیل کړ ، د کرهنې او ځمکو دڅار ذمه واري د سلمان په غاړه کیښوده ، خپله د کور جوړولو او ترمیم په چار و لګیا شو ، سلمان چې ځمکوته د کار او څار لپاره په کومه لار تیریده ، هغه دعیسویانو په یوه کرجا تیره وه ، یوه ورځ ددې لپاره چې خاشه دهغوی دعبادت کولو طریقه معلومه کړي ، هغې کرجې ته دننه ورغی ، هلته ورته دعیسویانو دعبادت طریقه دمجسویانو دطریقې نه ښه ښکاره شوه ، لږ ځنډ هلته تم شو ، بیا خپلو ځمکوته روان شو خو په زړه کې یې دعیسویانو عبادت ځای ونیوه ، بیرته کورته په ستنیدو کې یې ناوخته کړه ، پلار تري دناوخته کولو وجه وپوښتله وی ویل : په لاره کې دعیسویانو کرجې ته لاړوم ، ځکه ناوخته شوه ، پلار چې وراندې هم ددیني رجحان په اړه یې ډاډمن نه و ، ددې په اوریدو یې دا اندیښنه نوره هم سیواه شوه ، هسې نه چې سلمان عیسویت قبول کړي ؟ اخر تري وي پوښتل : خوبه ته خود مجوسیت په سیوري کې روزل شوی یې ، او دعسویانو کرجې ته هم لاړیې په دواړو کې درته کوم دین غوره معلوم شو؟ سلمان په ډاډ سره وویل : راته دعیسویانو دعبادت طریقه ښه ښکاره شوه ، ددې په اوریدو سره پلار تري ناراضه شو ، او ورپورته شو دیر زیات یې وواهه ، خو سلمان له خپل دریځه ونه کرځید ، اخر پلار په پښو کې ورته زولنې واچولې ، او بندي یې کړ ، سلمان هڅه او کوښښ وکړ څو په یوه نه یوه توګه ځان له قید ه خلاص کړي ، ددی لپاره یې عیسایانوته پیغام ولیږه : زه ستاسې د دین غوره کوله امله په سخت قید او بند کې یم ، ماسره مرسته وکړئ ، عیسوي پادریانو ورته په ځواب کې وویل : ستا پلار لوی سړی دی موږ یې دمقابلې څخه عاجزیو یو البته موږ له تاسره یو کومک کولای شو ، چې له دې ځایه تا شام ته ولیږو ، هلته دعیسوي زدکړو لپاره لوی لوی مرکزونه جوړدي ، هلته به په ازاده او خلاصه فضا کې عیسویت زده کړې ، که دټلو هوډ لرې دشام سوداګریز کاروانونه دلته ځي راځي موږ به دې دیوه کاروان سره ملګری کړو او هم به درته دقافلې دتګ اطلاع در کړو!

څه وخت پس عسایي راهبانو خبر ور کړ چې شام ته تجارتي قافله په پلانۍ ورځ روانیږي ، ته کولای شی چې ورسره ځان ملګری کړي ، ددې پیغام په رسیدو سلمان فارسی (رضي الله عنه) په څه چل دپښو زولنې پریکړې ، او له کوره ووت ، د قافلې سره شام ته روان شو ، د رسیدو وروسته هلته دیوه لوی عیسایي عالم درک یې معلوم کړ او ورغی ، دخپل حالت نه یې خبر کړ ، داچې هغه دعیسوي زده کړې ښوونځی و ، له وړاندې یکې نور زده کوونکي هم وه ، عیسوي راهب پخپله مدرسه کې قبول کړ ، او په زدکړو لګیا شو

هلته ورته دا ستوګې په ورځو کې جوته شوه چې پادري دنیا پرست دی ، له صدقو او خیراتونو یې خپل صندقونه ډکول ، او هلته دمیشتو درویشانو دا ړتیا و وخیال یې نه کا و ، څه موده پس هغه مړشو په ځای یې بل کیناست هغه نسبتا ښه سړی و ، سلمان (رضي الله عنه) دهغه په خدمت کې لګیا و ، تري علم یې کاو ، کله چې دهغه دمرګ وخت راغی نو سلمان (رضي الله عنه) خپل استاد ته وویل : ماته څه مشوره راکوې چې زه له تا وروسته کومه لار ونیسم ؟ هغه ورته وویل دلته زموږ ددین سمې پیروان نشته ، که ته غواړې چې سمې عیسویت زده کړې نو دعراق موصل ښارته لاړشه هلته دعیسویت یاخه عالمان شته دې له هغوی نه دې پاتې زدکړې پوره کړه.

سلمان (رضي الله عنه) دهغه دهدایت سره سم دشام نه عراق ته لاړ ، او هلته د کوم لوی پادري سره دیره شو ، اخر دهغه دمرګ وخت هم نیږدې شو ، سلمان (رضي الله عنه) هغه ته هم وویل : بابا زه ستا دمرګ وروسته څه وکړم او له چا نور علم حاصل کړم ؟ هغه وویل : دلته یو هم ښه سړی نشته ، ښه داده چې ته "نصیبین" ته لاړشې ! هلته زموږ ددین ښه عالمان دي دهغوی نه پاتې علم پوره کړه ، دا سبمه هم په عراق کې ده د "حرماس" بحیرې په څنډه پرته ده ، دهغه دمشورې سره سم دا ستاذ دوفات وروسته سلمان (رضي الله عنه) نصیبین ته لاړ ، هلته یې هم دیوه لوی پادري نه زدکړې کولې ، څه موده وروسته دهغه دمرګ وخت هم راغی ، هغه ته یې وویل : زه ستا دمرګ وروسته څه وکړم ؟ هغه دسلیم فطرت خاوندو ، هروخت په عبادت او ریاضت

لکیا و ، ویلي : دلته خما نه وروسته تاته ښه معلم به په لاس درنشي ،ښه دا ده چې ته "غموریا" ته لاړ شي ، اوهلته لوړ علوم ولولي ، غموریا په اسیاني کوچک(اوسنی ترکیه کې راځي ) یوښار و چې ورانـدي وربانـدي" بازنطین یان" واکمن و ، اوبیا دعباسیانو په دوره کې معتصم بالله فتحه کړ •

## دوروستي پیغمبر دري نښي :

داستاد سره دسلا وروسته سلمان (رضي الله عنه) غموریا ته لاړ ، هلته دیوه لوی پادري نه یې زدکړي پیل کړي ، کله چې دهغه پادري دژوند وروستۍ شیبي راغلي ، نوسلمان (رضي الله عنه)هغه ته وویل :استادزه ستانه وروسته څه وکړم ؟ اوله چا زدکړي وکړم ؟ پادري وویل :خما نه وروسته دلته راته یومعقول انسان هم په نظر نه راځي ، ټول دنیا پرست خلک دي ته له دوی نه څه نشي یادولی ، خو ماتهله قراتنو معلومیږي ، چې دوروستی پیغمبر دراتلو وخت دی ، اوهغه به په نیږدي وخت کې ظهوروکړي ، زه تاته دهغه وروستي پیغمبر دنبوت نښي دریږ نم ، که ته هغه ومومي ، داتاته ترټولو غوره وي ، دالله تعالی وروستی پیغمبر به دعربو په هیواد کې پیدا کیږي ، دهغه دهجرت ځـمکه ریږ ژنه ده ، چیري چې به دخرماوو وني وي ، ، هغه به صدقه نه خوري ، اوهدیه به قبلوي ، هم دا راز دهغه ددواړو ولیو په منځ کې دنبوت مهردی ، که ته وس لري له ما وروسته دغه هیوادته لاړ شه !

## دغلامی په اغزنه وادي کې :

پادري ددي علاماتو دښودو وروسته ومړ ، په دي منځ منځ کې سلمان (رضي الله عنه) دومره تجارت اوکار وکړ چې لږه پانګه یې پیدا کړه ، په هغه یې وزي اومیږي وپیرلي ، اتفاقا دي وخت کې دبني کلب یوه تجارتي قافله هلته راغله، سلمان (رضي الله عنه) دقافلي دخلکو وغوښتل چې ما دخان سره عربي هیواد ته بوځئ ، ددي لپاره یې دقافلي خلکوته خوغوایان ، وزي اومیږي ، دهدي په ډول ورکړي ، سلمان (رضي الله عنه) دقافلي دکډونوالو نه داهم معلومه کړه چې ددوئ هیواد ریږ ژن دی ؟ اوهلته په لوی شمېردخرماوو باغونه هم شته ؟په دي سره زړه یې ګواهي ورکوله چې داهم هغه ځمکه ده چیري چې دالله (جل جلاله) وروستي پیغمبر راتلونکی دی،په هرصورت نوموړی دقافلي سره روان شو،خودمکی مکرمی په لاره کې (وادی القری) په رسیدودقافلي خلکوهغه دخانو غلام کړ، ورسره

پاتي څاروي اوپیسي یې تري په زور غصب کړي ، اوخپله دی یې بازار کې دغلام په نوم وپلوره.

مدیني منوري ته نیږدي دیهودو یوه مشهوره قبیله "بنوقریظه" اوسیده ، په دغوورخو کې دهغې څیني کسان په مکه مکرمه کې وه ، هغوئ سلمان (رضي الله عنه) دبني کلبله خلکوڅخه وپیره ، اوله ځانوسره یې مدیني منوري ته یې بوته ، کله چې نوموړی مدیني منوري ته ورسید ،وي لیدل چې په دي ځمکه کې هغه درواړه نښي نښاني موندل کیږي کومې چې ورته پادري ښودلی وي ، دهغونښو سره سم ځمکه ریږژنه وه، پکې

سلمان فارسی (رضي الله عنه) جومات

دخرماوو ګڼ باغونه وه ،عین ممکن چې الله (جل جلاله) خپل وروستی استازی هم دلته راولیږي !

یوه ورځ یې دیهودي په باغ کې کار کاوه،مالک هم ورسره و، دي کې وچې دیهودي خوی په منډه تیز راغی اوپلارته یې خبرراوړ چې هغه کوم سړي په مکه مکرمه کې دنبوت دعوه کړي ،هغه هجرت وکړ مدیني منوري ته راغلی ،اوس په قبا کې دی ، سلمان فارسی (رضي الله عنه) دخپل ځان نه لږ دهغوئ په خوا نیږدي شو ،خو د یهودي نه ددغه سړي په اړه معلومات واخلي ، خوهغه وراته ستا ددي خبرو سره څه ؟څه خپل کار کوه ،دسلمان (رضي الله عنه) باور راغی ، چې داهم هغه د ی ،چې دموندلوپسي یې زه راوتی یم ، کله چې دکار نه وزګار شوقبا ته روان شو ، درسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خدمت کې حاضر شو ، پادري چې کومې نښي ور ښودلي وي دهغو معلومولولپاره یې دا طریقه غوره کړه.... نوربیا

# د شهيد مستسعد

# دپنځم تلين په مناسبت

نوراحمد " سعيد "

شهيد ملا محمد حسين مستسعد د مرحوم مولوي محمد فيض الحق صاحب زوي په ۱۳۹۳هق ،مطابق ۱۹۷۲ز، کال دزابل ولايت دشملزو ولسوالۍ دنسوزو په کلي کې په يوه جهادي اوعلمي کورنۍ کې زيږيدلی دی. لومړنۍ عصري اوديني زدکړې له خپل پلاراو مشرورور څخه ترلاسه کړي اوپه ۱۹۹۳ز. کال کې يې دبلوچستان ايالت مرکزکوټه کې ددينې علومو د زدکړې ترځنګ يې دګورنرموسی کالج لوستی دی .

په ۱۹۹۴ز. کې چې دطالبانو اسلامي غورځنګ دشراوفساد پرضد قيام وکړ، مستسعد تکميل او فراغت ته نژدې زده کړې پرېښودلې اودهمدې تحريک يو فعال غړی شو. شهيد مستسعد دافغانستان د اسلامي امارت دواکمنۍ پرمهال دعلوموا کاډمۍ د رئيس اوداداره امورد مرستيال په توګه دندې ترسره کړي دي. اروابناد مستسعد دعالي ارمان ،روڼ فکر، ټينګ عزم ،غښتلي استعداد ،پراخې مطالعې ،ژورې پوهې خښتن مدبرشخصيت ؤ. په پښتو ،دري ،عربي ،اردو اوانګريزي ژبويې ليک اولوست کولای شوای .که له يوې خوادديني اوعصري علوموعالم ؤ. نوبل طرفته بې يوهځانګړی مؤرخ ،تکړه ليکوال ،منصف څېړونکی اوښه شاعرهم ؤ. په بېلابېلوفورمونو کې يې ازاداوقافيه وال شعرونه ليکلي دي. په سونوسياسي ،تاريخي اواجتماعي مقالې ،ادبي اوطنزي ليکنې اولنډې کيسې يې ليکلي دي. اوپه ځنګړې توګه يې لاندې چاپ اوناچاپ اثارپاته دولای شو.

چاپ: دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله دژوندانه
بېلابېل اړخونه ،
د سنګرطالبه مبارکۍ ته به درځم
شپېلۍ مي مه ماتوئ (شعري ټولګه )
اودعلامه رشاددتودووينوحمام افغانستان
شو(شعري غونډ ) سريزه اوزياتونه.

ناچاپ: طالبان په افغنستان کې له راشده خلافته
تراسلامي امارته
اسلامي خلافت ،
اصحاب صفه،
ژوندۍ خاطرې ،
اسلام اونوی ساينس .

متفرقي مقالې.
لنډې کيسې
او يوه شعري مجموعه.

شهيد مستسعد دمتفرقو فرهنګي هڅو څخه علاوه دتوکل په نوم ديوې ادبي ،علمي او جهادي مجلې دمؤسيس اوچلونکي اودخيرجليس علمي ټولنې دبنسټګرويارهم لري.

اروابناد شهيد مستسعد دفرهنګي جهاد سربېره دعملي وسلوال جهاد مورچل هم ګرم ساته دامريکايې او.....ښکېلاکګروڅواکونو پرضدېې ددين اووطن په دفاع کې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کولې خپل عالي هدف (اعلاء کلمة الله اود الله تعالی رضاء )ته دررسيدوپه لارکې دمال اوځان ځارولوته هم تيارؤ. هوکه په نظامي ډګرکې يې ددين اوپت ساتتي په موخه له غليم سره ټېرواهه .نوپه فرهنګي ميدان کې يې بيادښمن له خوادپيل شوي کلتوري يرغل اونفسياتي پروپاګند پرضدپه ژبه اوقلم اغيزمنه مبارزه کوله.په خواشينۍ سره چې دتوري اوقلم يادشوي اتل «مستسعدشهيد»د۱۴۲۸هق ،درجب پر۹مه نېټه چې د۲۰۰۷ز،دجولايي له ۲۲مې سره سمون خوري دزابل ولايت دشملزوولسوالۍ دابازوپه کلي کې دامريکې يې يرغلګروسره دمخامخ پنځه ساعته نښتې په پايله کې دشهادت لوړمقام ته ورسيد.انالله وانااليه راجعون !

داهم تاسي اوشهيد مستسعد(رح )دمنظوم اومنثورکلام ببلګې:

**زماقلم چيغې وهي !**

هغه غواړي کوم څېړونکی ،مؤرخ يا ژورناليست پيداکړي ترڅو دميرويس نيکه دغورځنګونو ،داحمدشاه بابا دسوبو ،دغازي محمداکبرخان ،عبدالله خان اڅکزي ،ملامومن غلجي ،عبدالباقي مجددي ،دملامشک عالم دغزاګانو ،غازي محمدجانخان ،ميرمسجدي خان اونوروډپرديوپه وړاندې دپيوستون دغازي محمدايوب خان دفتوحاتو دملالۍ دغيرت اوجرأت يوه کيسه ورباندي وليکي.

هغه غواړي چې دده په وسيله کوم دوېښ وجدان خاوند ،کوم دخپلوتيکونوريښتوني وارث کوم دهيواددمورراصيل بچی ،کوم دخپل دين اوناموس پرسرتننګ کوونکی زلمی ،کوم له خپل راتلونکي تاريخ نه دشرم اوحياکوونکی مشرپيداشي دامير کرورحماسه ،دبابا هوتک ناره ،دغازي محمداکبرخان اونايب امين الله لوګري دغورځنګونوکيسه ،دايوب خان معرکه اودملالۍ ټپه ورباندې وليکي.

زماقلم ديوداسي رټل شوي يتيم په څېردی چې تربورانوله خپله کوره شړلی وي اوچيرته دکوم پاڼ بېخ ته ناست دکوم مرستندوی لارې څاري....

زماقلم دهغه لارورکي مسافرپه شان دی چې په کومه لويه دښته کې لارورنه ورکه وي ،په سخت توپان اوسيلۍ کې راګيروي ،لاس ترزني ،شنوزوهلې ،په غمونوکې ډوب اودوحشي ژويوله ډاره دخپل نامعلوم برخليک په وېره کې نغښتی دکوم غارپه خوله کې دکوم لارښوددراتلوپه هيله دخپل ژوندانه وروستۍ شېبې شماري.

زماقلم چيغې وهي چې خپل مسؤليت اداکړي ...زماقلم کريږي وهي چې خپل رسالت ترسره کړي ...زماقلم لېوال دی چې راتلونکونسلونوته دخپل وحشي دوران څوډارونکي صحنې څولړزونکي انځورونه واستوي ...څکه دااوس قلم اودننن ګوتي به سبته نه وي پاتي ،څکه نوګوتي قلم ته په ژړاشوې

«خط به باقي وي مور به توري خاوري يونه
»[د سنګر طالبه مبارکي، ته به درځم ۱۵۲، ۱۵۴مخونه]

## دبلال ګريکه

اهريمن خوښ دی چې نن زما ښکلی جوهر رانه وړي
واک مي په زور، توره په فريب، دين په منتر رانه وړي
د سره ښامار له شرميدلې ماتې ونه شرميد
کفر يو شوی دی اسلام مو په اشر رانه وړي
له واتيکان نه راستون شوي يو زاره لاس پوڅي
چاته ويل: د حسين سر به نن شمر رانه وړي
منحوس صليب مو کور او کلی نن په سر اخيستی
زمونږ عقيده د مسيحا د ژوند نظر رانه وړي
د بدلمنو و سنګارته يې کورسونه جوړ کړل
حياد پيغلو مو څپې او شال د سر رانه وړي
څومره احمق دی زما له دينه ناخبره غليم
د دين په تور د پلار نيکه ښکلی هنر رانه وړي
غليم له وخته دې ته غلی دی چې لاس يې بر شي
په نوم د سولې راځي زما د لاس خنجر رانه وړي
د آزادۍ طلايي وړانګو ژرسئ وځليږئ!
د تورو شپو لښکر راغلی روڼ سحر رانه وړي
د بابا توري وچليږه ايماني جګړه ده
د پت کيسه ده پخواني نوم د تبر رانه وړي
د بلال کريکه د درد نه ده د ايمان ښه ده
احد احد يې عقيده اشر د شر رانه وړي
د احرار چيغې د هيواد په غرو کې و آزانګه
غليم و تيښتې ته چمتو دی اوس روغ سر رانه وړي

## څپلواکي

نه په اوښکو څه باورشته نه په اوښکو ودانيږي
نه په چيغو راستنيږي، نه په چيغو پيدا کيږي
څپلواکي کيسه د برم آزادي د عزم نوم دی
غلامي کې د خپل برم کيسه بل چاته نه کيږي
په ځنځير ترلي چا دي کوم محفل ته رابللي
ځنځيرونه به خلاص نشي ځنځيرونه شلول کيږي
چاويل چې غليم هم يو وخت پر مونږ دی رحميدلی
رحم تل غليم نه تښتي، غليم رحم نه شرميږي
د نيکه ګټه په توره د بابا فتحه په توره
ميرويس کله پخلا کيږي احمد کله راستنيږي
اکبرخان مي رانه ورک دی ايوب خان مي رانه تللی
نه ميوند کي شور او زوږ شته نه کابل بيا راخوځيږي
نه تپه شته د ملالې نه ناهيد د تکبير ږغ کړي
خدايه مه راولې بد وخت چې به خوندې پردۍ کيږي
ګل غوټۍ مي خدايه څه شوه هم غازي ادې ده ورکه
غوټۍ تل ګلان ګلان شي ګلان کله غوټۍ کيږي
څوانيمرګه ياره واوره د څوانۍ وار به دې اخلم
که نرۍ رانه بيليږي، که نرۍ راته يو کيږي
ليږي تللو مسافرو د ژوندون مزه همدا ده
چې شرنګا د زولنو نه دې غليم بيزاره کيږي
دا به کيږي هابه کيږي خو د توري يو پړک غواړي
چې هيواد يوځل آزاد شي، هيواد بيرته ودانيږي
داحرار قلمه ځارشم تر تيره توره کم نه يې
هم مي غم له زړه نه باسي هم غليم باندې سوځيږي

## خبر

چاويل چې پرون بيا دهغه سترميوند په خواکي
دهلمند دسيند په څنګ کي دجروم ستره بيديا کي
دداوردپلاز په چم کي دايوب دپلونوخواته
دحسن ميمندي کورکي داشرف په قتل ګاه کي
دملالې او سرداري درزمونو په ډګرکې
دحبان په مدرسه کي اودبست ستره کلاکي
کروسي دمکناتن ژاولمسي دکيونارې
په ګرځن ميدان راتول وودهلمند په لوصحراکي
ورته دهغه چاووچې پيږۍ پخوا په تيښته
تښتيدلي، له دې ځايه دغرمې ګرمه هواکي
يودشنوسترګوعسکرپه بيره بيره راروان ژ
ترڅوتوغ دخپل هيوادورپوي زمونږ په فضاکي
قهرمان زمونږدقرن له حجرې نه پرې وړږغ کړي
چې احراردلته ژوندي وي شئ به مات څلورم پلاکي

## شپيلۍ مي مه ماتوئ!

شپېلۍ مي مه ماتوئ !
دا مي د خوږبدن د تير وخت حماسې رغوي
دا دوختونو د اتل يوه ويرنه وايي
د زخمي شوي ، خو ژوندي زړګي د هيلو آواز
د طوفانونو په سيلۍ کي چي له هرې خوا نه
زما د غربت دغه جونګړه د غضب په کانو
په يو ځل نه په ځو ځو ځله ولي
غواړي چي نه رغيږم
زه مي د برم کيسه هيره کړمه
زه مي د تيروخت د وياړونو نکل
په تورو شپو کي د نغري په خواکي
و کوم ماشوم بچي ته ونه کړمه
زه به دانه وايم چي زه يو وخت کي
د دې نړۍ د اتلانو د کتار غړی وم
زما له هيبته ! د سکندرلښکرې وربېدې
زماله همته ! د چنګيز لښکرې ولړزيدې
زه په آسياکي د جلال او کمال نښه وم
زما نيکونو به په واز کومي په وياړ دا ويل:
له ما اتل نشته
زه به نو اوس نوره توبه کاږمه
ها د نړۍ د استعمار د غلامۍ له ګناه
چي ما هيڅکله په ځان نه منله
دا خو لاځه کړې مابه کور د برنس وسوځاوو
مابه مکار او مستکبر مکناټن
د نړۍ خور لښکر له مينځه لاس ترلی بوته
ماد نړۍ د مغرورانو د لښکرو جوپې
په کانو پوپناه کړې
زه به توبه کاږمه
زه د ميوند د ډګر هغه ګناهکار زلمی يم
چي زما د توري ځلا توله نړۍ هېښن هېښن کړله
په خوګړيو بيخي نيمه ورځ کي
ما د نړۍ د اتل ښې ماتي کړې
زما د ميوند هغه ملاله به اوس
له خپله سره ها سورشال غورزوي
ها غه چي دې د سترميوند پرډګر
په لوره چيغه چاته داسي ويل
ته په ميوندکي ځان شهيد کړه
زه به سورشال ستا پرزيارت وغورومه
ها ملالۍ به نور بيا هغه تپې نه رغوي
هغه به نور د شهادت لپاره
ځوانان د تنګ ډګر ته نه رابلي
نور به د تنګ او د پيغور هغه زاړه وټيونه
هغه د توري او د جنګ ، ها ميړني وياړونه
زموږ د کورګي د ستر قاموس له مينځه و ايستل شي
او ملالۍ به د ګناه د کفارې په توګه
ونړيوالو ته دتل پاتي توبې په توګه
ها پاورونکې تپه
ها دوياړونو نغمه
ها د بري قومانده
نوره له خولې اچوي
نور به شهيد زما د ترويزم داعي
اتل غازي د نړيوالو ياغي
په نوي نوم او نوی راګ يادوي
هو ! زه هغه يم او همدامي ګناه
چي پر نړۍ يو سور ښامار ګرزيدی
په وازه خوله پر هر ديار ګرزيدی
نه چا د بم په زور شړلاي شولو
نه يي توپک باندي ويشتلاي شولو
نه يي داتمه وه چي وبه ګرزي
نه يي خپل ځان ترې پټولاي شولو
ما د خپل رب او خپل ايمان په توکل
د خپلواکي او استقلال په تکل
د ميړنو پلرو وياړمن تاريخ مو
تکرار اوو په هرګام او هر پل
هو ! زه فاتح شومه يو داسي فاتح
چي نه مي نوم اونه نښان وګاته
نه مي زخمونه چا پټی ورکړله
نه مي خپل کور کلي او ځان وګاته
له سره ښاماره مي نړۍ خلاصه کړه
بس ما ايله خيري ګريوان وګاته

د هوسونو او قدرت مربیانو
زما اتلواله په اوبو لاهو کړه
زما د ګاونډ د حریصانو ټولۍ
زما د کور د بدبختانو غدۍ
زما کلي رنګ کړ زما یې کور په کنډواله بدل کړ
زما د کلي د عزت ، ناموس بازار ولګید
زما ټاټوبی د یتیم ، کونډې انځور وګرزید
زه نور لوټلی او بې وزله شنوز وتلی غونډي
لکه لار ورکی مسافر چي د سیلیو په یوغښ توپان کي
چیري یو غار کي د خلاصون په تمه
په ناهیلیو لاس تر زني ناست وي
له ما ژړا او خندا ورکه وه په ځان حیران وم
زه پر اولاد ، مال او ناموس او پر ایمان حیران وم
بیا یوه ورځ او په ناڅاپه ډول
زما له غربوه ، زماله درده ، زماله بدې ورځې
زما د افغاني همت د وینو تیلو
زما د ایمان په اور ډیوه بله کړه
زما د ختین جومات په څنګ کي له ها خړې حجرې
د رڼاګانو یو کاروان تیار شو
په قرآني ګیڼو ښائسته زلمو تو
لکه د ژانو کتارونه جوړ کړل
لکه غاټول په یوه سپیره بید یاکي
په ټوکیدو یې ګلشنونه جوړ کړل
کاروان موخپل ،ساروان موخپل د نیکمرغۍ په هیله
د خپل ویجاړ هیواد د بیرته آبادۍ په هیله
موټې مو بډوهلې څو چي غداران وشړو
